بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنجشېر د لوړو زده کړو مؤسسه
دښوونې او روزنې پوهنځی
پښتو څانګه

# پښتو معاصر ادب ته د تمثيلي
# ټوټې راتګ او پرمختګ

پوهنيار تاج محمد رحيمي
: پوهاند جمشيدخان رشيدي

۱۴۰۰ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپراوي حقونه له پنجشېر د لوړو زده‌کړو موسسې
سره خوندي دي او  د پنجشېر د لوړو زده‌کړو موسسې له رسمي اجازې پرته ترې
د هر ډول - بشپړې یا یوې برخې - نسخه‌اخیستنې او  همدارنګه د مرجع له یادونې
پرته د دې رسالې له لیکلیو اطلاعاتو څخه د هېڅ ډول استفادې اجازه نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډيز

شاعران تمثيلي ټوټه د ژوند او بشري ټولنې يوه طبيعي اړتيا ده.که څوک وغواړي که ونه غواړي د خپل ژوند تمثيل به کوي او خپل ژوند به لکه د تمثيلي ټوټې پرمخ وړي..په دغه څېړنه کې به دتمثيلي ټوټو په ارزښت ، اړتيا او ګټو بحث وشي. دا چې زما موضوع د(پښتو معاصر ادب ته د تمثيلي ټوټې راتګ او پرمختګ) دی،نو د دغې موضوع په لمن کې ټول راغلي موضوعات تر بحث او څېړنې لاندې نيول شوي دي.

زما د څېړنې موخه دا ده، چې ما دتمثيلي ټوټې په تاريخي بهير،پېژندنې،ډولونو او په معاصره پښتو دوره کې د ځينو تمثيل ليکوونکو لنډه پېژندنه او د ځينو ليکوالو د تمثيلي ټوټو بېلګې راوړل شوي او پلټل شوي دي.همدارنګه په دغې څېړنه کې په پښتو ادب کې په تمثيلي ټوټه شوي کار ته لنډه کتنه شوې همدارنګه تمثيلي ټوټه او ډولونه يې ښه په تفصيل سره څېړل شوي دي. په دې اثر کې د تمثيلي ټوټو بېلګې او ډرامې سره يې پرتلنه هم شوې ده.

د دغې څېړنې ډول کتابتوني او ميتود يې تشريحي او توضيحي دی او ما له همدې ياد ميتود نه کار اخيستی دی.د کار مواد مې د تمثيلي ټوټې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تمثيلي ټوټې پورې اړوند ليکنې او اثار دي. متوقع پايلې به زما د څېړنې دا وي، چې زه به وتوانېږم يوه نوې موضوع چې د(پښتو معاصر ادب ته د تمثيلي ټوټې راتګ او پرمختګ) دی په دغه اثر کې مې څېړلې ده. دغه څېړنه سريزه، د سريزې اړوند توکي،اصله موضوع،پايله،مناقشه،وړانديزونه او پر اخځونو سربېره به يو مناسب نوملړ هم ولري. دا هم جوته شوې ده ،چې تمثيلي ټوټې ته په پښتو معاصر ادب کې څومره اړتيا ده او څنګه پرمختګ کولی شي. دغه لنډيز د پورته اصولو د سپړلو نچوړ دی.

**کليدي کلمې**: تمثيلي ټوټه، معاصره دوره، پرمختګ.
تراژيدي،کوميډي،تمثيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخکينۍ خبرې

د لوړو زده کړو وزارت د لايحې له مخې هر استاد اړ دی،چې له يوې علمي رتبې وروسته د بلې علمي رتبې لپاره چمتوالی ونيسي او د خپلې علمي رتبې لپاره يوه موضوع لومړی د اداري مراحلو له ترسره کيدو سره ثبت او بيا په خپله معلومه موده کې پرې د خپلې علمي رتبې لپاره اثر وليکي.د همدې اړتيا له مخې زه هم اړ وم،چې د خپلې پوهنملی علمي رتبې د تر لاسه کولو لپاره د استادانو سره له مشورو وروسته د خپل لارښود استاد پوهاند جمشيد خان رشيدي تر لارښوونې لاندې يوه موضوع وټاکم،چې عنوان يې (پښتو معاصر ادب ته د تمثيلي ټوټې راتګ او پرمختګ) دی او د خپل لارښوود استاد تر لارښوونې او څارنې لاندې مې په دغې موضوع خپل کار پيل کړ. کله،چې مې د اثر لپاره دا موضوع ټاکله لومړی مې له استادانو سره مشوره وکړه،چې ايا زه کولی شم په ياده موضوع کار وکړم کنه؟ د استادانو او ملګرو لخوا راته ډاډ او نېکه مشوره راکړل شوه او وروسته له هغې مې د خپلې موضوع د ثبت کولو لپاره خاکه يا اوټ لاين چمتو او اداري پروسه مې پرې پيل کړه.دا چې اداري پروسه لږ وخت ته اړتيا لري،نو په څو مياشتو کې زما د موضوع خاکه يا اوټلاين د وزارت له تحقيق کمېټې څخه خلاص او ما ته يې د کار کولو اجازه راکړه. اصول او مقررات دا دي،چې د څېړنې په بهير کې ورسره کومې ادارې،ټولنې او شخص مرسته کړې وي بايد د هغوی څخه مننه او يادونه وشي،نو په همدې اساس غواړم د هغو ښاغلو يادونه وکړم،چې د موضوع د ماخذونو په برابرولو کې يې راسره مرسته کړې.تر ټولو دمخه راسره زما د څېړنې لارښود استاد پوهاند جمشيد خان رشيدي،د ډېرو بوختياو سره سره خپلې مشورې او لارښوونې نه دي سمپولي او هر وخت يې په ورين تندي راته لارښوونه کړې ده او د موادو په برابرولو ،علمي او تخنيکي برخه کې يې خپلې مرستې راسره کړي دي. نوموړې ته د الله ج له درباره د اوږده او نيک عمر غوښتنه او د ژوند په کارونو کې ورته د بريا دعا کوم.همدارنګه له خپلو ټولو استادانو او دوستانو څخه هم مننه کوم،چې د موضوع د غوره کولو لپاره يې تشويق کړی يم.د دې موضوع د موادو او ماخذونو په چمتو کولو کې،چې راسره هر دوست او ملګري همکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې ده له ټولو د زړه له کومي مننه کوم او ټولو ته د خير دعا غواړم.

په درنښت

تاج محمد رحيمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیکونه**
**مخکنۍ**


لړلیک.............................................................................................ه
**لومړی څپرکی** ............................... 1
سریزه........................................................................................... 1
د مسالې بیان یا د څېړنې ستونزې ................................................................... 2
د څېړنې ارزښت او اړتیا ........................................................................... 3
د څېړنې موخې.................................................................................. 4
د څېړنې پوښتنې .................................................................................. 4
**دویم څپرکی** .................................... 6
د موضوع شالید ..................................................................................... 6
**دریم څپرکی** .................................... 9
د څېړنې کړنلاره ..................................................................................... 9
**څلورم څپرکی**.................................... 13
د معاصرې دورې لنډ تحلیل ........................................................................ 13
معاصرې دورې ته لنډه کتنه........................................................................... 13
د معاصرې دورې پړاونه ............................................................................. 22
روښانتیا پړاو. ........................................................................................ 22
ویښتیا پړاو ........................................................................................... 26
اوښتون پړاو .......................................................................................... 31
**پنځم څپرکی** ................................... 34
تمثیلي ټوټه ........................................................................................... 34
د تمثیلي ټوټې تاریخچه ............................................................................. 35
په پښتو ادب کې د تمثیلي ټوټې بهیر ........................................................... 38
د تمثیلي ټوټې پېژندنه ............................................................................... 41
د تمثیلي ټوټې چوکاټ،جوړښت، توکي او د لیکنې لار ....................................... 44
د تمثیلي ټوټې ژبه.................................................................................... 47
دستخوش ............................................................................................... 49
په تمثیلي ټوټه کې د کرکټرونو کارونه ............................................................ 51
**شپږم څپرکی** ................................... 54
د تمثیلي ټوټې ډولونه................................................................................ 54
د فورم له مخې د تمثیلي ټوټې ډولونه ........................................................... 54
سټیج تمثیلي ټوټه..................................................................................... 54
سټیج تمثیلي ټوټه یا ننداریک......................................................................... 55
راډیویي تمثیلي ټوټه .................................................................................. 60
د راډیویي تمثیلي ټوټې بله بېلګه .................................................................. 63
تلویزوني تمثیلي ټوټه.................................................................................. 66
د لوستلو تمثیلي ټوټه.................................................................................. 72
یو اکټیزه تمثیلي ټوټه ................................................................................. 73

(c) ketabton.com: The Digital Library

انترکټ تمثیلي ټوټه ........................................ 75
د محتوا له مخې د تمثیلي ټوټې ډولونه ........................................ 76
تراژیدي تمثیلي ټوټه........................................ 76
کومیډي تمثیلي ټوټه ........................................ 78
میلو تمثیلي ټوټه ........................................ 82
تراژیدي کومیډي تمثیلي ټوټه ........................................ 84
د موضوع له مخې د تمثیلي ټوټې ډولونه........................................ 87
اخلاقي تمثیلي ټوټه ........................................ 87
ولسي تمثیلي ټوټه ........................................ 88
د اتلولی تمثیلي ټوټه ........................................ 89
تاریخي تمثیلي ټوټه ........................................ 90
غوټه لرونکي تمثیلي ټوټه ........................................ 90
مذهبي تمثیلي ټوټه ........................................ 90
اشاروي تمثیلي ټوټه ........................................ 92
**اوم څپرکی**........................................ 97
په معاصر ادب کې تمثیلي ټوټه ........................................ 97
پښتو معاصر ادب ته د تمثیلي ټوټې راتګ........................................ 97
په نندارلیکونکو کې ........................................ 101
په پښتو ادب کې د مشهورو تمثیل لیکونکو پېژندنه او د ځینو تمثیلي ټوټو بیلګې................ 106
عبدالاکبر خان اکبر........................................ 107
عبدالله جان اسیر ........................................ 108
محمد اکبر پامیر........................................ 108
محمد رضا رضا مومندي ........................................ 111
غلام دستګیر ړنګ........................................ 115
عبدالله بختانی خدمتګار ........................................ 116
د سیدو ملنګ ........................................ 116
لومړی تمثیلي ټوټه یا ننداره........................................ 116
د عبدالرؤف قتیل خوګیاني لنډه پېژندنه ........................................ 122
محمد عارف ننګیار نا اشنا........................................ 129
تاج محمد رحیمي ........................................ 131
سید ضیاء الرحمن لالاخېل........................................ 137
امام جان مجبور ........................................ 143
سید اختر سیدي........................................ 143
یونس کامه وال........................................ 144
سلمان شهابي ........................................ 145
د عبدالبصیر مینه پال پېژندنه........................................ 145
په ټولنه د تمثیلي ټوټې اغېزې........................................ 146
د تمثیلي ټوټې مثبتې اغېزې........................................ 147
د تمثیلي ټوټې مفنې اغېزې........................................ 149
**اتم څپرکی**........................................ 151
د تمثیلي ټوټې او ډرامې پرتلیز جاج........................................ 151

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډرامې لنډه پېژندنه............................................................................151
په ډرامه کې د تمثيلي ټوټې ځرکونه..........................................................158
جاله ډوب.........................................................................................159
د تمثيلي ټوټې او ډرامې پرتلنه ..........................................................161
**نهم څپرکی**.........................................164
پایله.................................................................................................164
مناقشه.............................................................................................166
وړاندیزونه .........................................................................................169
سرچينې ...........................................................................................171

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## سریزه

پښتو ادب چې لرغونی تاریخ لري او په هره دوره کې یې مختلف پرمختګونه کړي دي. په هره دوره کې نوي ژانرونو پښتو ادب ته لاره کړې ده او د پرمختګ پړاونه یې وهلي دي. معاصره دوره هم د پښتو ادب هغه دوره ده چې نوي تحولات او پرمختګونه په کې رامنځ ته شوي دي. شعري او نثري ژانرونو په دې دوره کې پرمختګ کړی دی، چې په نثري ژانرونو کې لنډه کیسه، ناول، تمثیلي ټوټه یا ننداریک ، ډرامه،فلم او سریالونه هغه څه دي چې معاصر ادب ته راداخل شوي دي. په دې ژانرونو کې یو هم تمثیلي ټوټه ده چې په کوزه پښتونخوا او اردو ژبه کې ورته خاکه هم ویل کیږي.

دا ژانر چې له ډرامې راروسته پښتو معاصر ادب ته لاره پیدا کړې ده په لومړیو کې تر ډېره د خلکو د پام وړ نه وه. په دې ورستیو کلونو کې یې د خلکو پام ځانله راګرځولی دی، مختلفې تمثیلي ټوټې لیکل شوي او وړاندې شوې دي، تمثیلي ټوټه ډېر ژر اغېز ښېندونکی او د خلکو پام جلبونکی ژانر دی.که تېرو تاریخونو ته وکتل شي، لومړی تمثیل یا تمثیلي ټوټه ده، چې په خلکو کې عامه شوې او پر خلکو یې خپل اثرات کړي دي. که د یونان زوړ تاریخ ته لاړ شو او که د اریایانو تیر رسمونه او رواجونه وپلټو په ټولو کې تمثیل ځانله یو اغېز کوونکی ژانر پاتې شوی. د پښتو ادب په ټولو دورو کې کېدای شي، د تمثیلي ټوټې څرکونه په غېر مستقیم ډول تر سترګو شي،خو معاصر ادب د پښتو ادبیاتو هغه دوره ده،چې دې ژانر ته یې غېږه پرانیستې ده او د ژوند ټول اړخونه یې په خپله لمن کې راټول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کوزې پښـــتونخوا ته سـر ورښـــکاره کړو،لومړنی تمثيل يا نندارليک به د خدايي خدمتګار د تحريک د لاروي اروښـــاد عبدالاکبر خان اکبر درې يتميان او خدايي خدمتګاران ننداريکونه يا تمثيلي ټوټې به را تر سترګو شي،چې له همدې ځايه په پښتو معاصر ادب کې او په ځانګړي ډول په پښـْـتنه سـيمه کې دې ژانر وده وکړه او خلکو ته يې د ژوند کولو مثبت او منفي اړخونه په ګوته کړل.د هنري ژانرونو څخه تمثيلي ټوټـه هغـه لنـډ،خو هر اړخيز ژانر دی،چې نـه د ليـدونکو ډېر وخت نيسي او نه ورته د چا زړه تنګيږي.

په ډېر کم وخت،کمو کرکټرونو ســـره د ټولنيز ژوند ډېر لوی پيغام د خلکو سـترګو او غوږونو ته رسـوي.د تمثيلي ټوټې يا ننداراليک دا ژانر په دې هم ډېر د خلکو خوښــيږي،چې ژبه يې د طنز له مالګې ډکه ده او په ډېرو کمو مکالمو کې د ډېرو غټو مشکلاتو څخه پرده پورته کوي او ټولنې ته يې د ســـمون لارښـــوونه کوي.د تمثيلي ټوټې مکالمې لنډې،خو له معنا ډکې وي،ژبه يې له طنزه ډکه،خو کله کله د طنز په ژبه ژړا او خندا دواړه يوځای کوي او خلکو ته يې د هغوی د وجدان پر وړاندې ږدي،څو خلک قضـــاوت وکړي،چې په ټولنه کې سـمون ته اړتيا شـته کنه؟ د دې ژانر ارزښـت او اهميت ته په کتلو او دا چې په دې ژانر تر اوسه په منظمه او علمي توګه کوم کار ندی شوی ، نو د همدې تشـــې د ډکولو لپاره په دې څېړنيز اثر کې په تمثيلي ټوټه يا ننداراليک کار شـوی او په ټولو اړخونو يې بحث او څېړنه شـوې.د تمثيلي ټوټې،ډولونه،بېلګې او د ليکوالو پېژندنه يې هم په دې اثر کې لوستلی او کتلی شی.

**د مسالې بيان يا د څېړنې ستونزې**

څېړنه د يوې موضـــوع د ســـتونزې په پار رامنځته کيږي.څومره چې يوې موضـــوع تـه اړتيـا وي.پـه همـاغـه کچـه نوې هم وي.ځکـه چې ضــرورت د ايجاد چينه ده،نو زما د موضـوع سـتونزې په لاندې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په پښتو معاصر ادب کې د تمثیلي ټوټې په علمي توګه نه څېړل.
۲- تمثیلي ټوټه په ډرامه ور ګډول.
۳- د تمثیلي ټوټې او ډرامې توپیر نه کول.
۴- د تمثیلي ټوټې یا ننداریلیک په اړه د څېړنو نشتوالی،چې باید یو ځانګړی اثر ورته ډالی شي.ځکه،چې یاد ژانر په ټولنه کې د محبوبیت او ارزښت وړ ګڼل کېږي.

**د څېړنې ارزښت او اړتیا**

دا څېړنه د پښتو ادب لپاره زیاته ارزښتمنه په دې ده، چې د پښتو ژبې مینه والو او په ځانګړي توګه زده کړیالان پرې خپله ادبي او نثري مینه ماتولی شي. زده کړیالان او د پښتو ادب مینه وال د تمثیلي ټوټې ژانر څخه خبرتیا مومي.تمثیلي ټوټه هغه نثري ژانر دی چې تر اوسه پرې په سمه او علمي توګه کار ندی شوی همدا د دې څېړنې نویوالی او ارزښت دی.په دې موضوع خورې ورې مقالې او په ځینو کتابونو او اخبارونو کې پرې لیکنې شوي ،خو په منظم او علمي بڼه پرې تر اوسه چا کار ندی کړی.

د څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې په یاده برخه کې تر دې دمه د پام وړ کار نه دی شوی او متوقع نتایج یې دا دي، چې وبه توانېږو د تمثیلي ټوټې یا ننداریلیک ژانر به خلکو ته روښانه او له ځینو نورو ژانرونو سره به یې پرتلنه وشي.د دې ژانر څېړنه او سپړنه ځکه د اهمیت وړ ده،چې په راتلونکي کې دا تشه به تر یوه حده ډکه شوې وي.

د څېړنې موضوع خورا په زړه پورې ده، موخې یې په پورته ډول ذکر شوي او مواد یې د هنري ژانرونو مختلف کتابونه دي. ، د کار میتود یې کتابتوني دی او متوقع پایلې یې دا دي، د تمثیلي ټوټې یا ننداریلیک ژانر په اړه به ډېر څه په لاس کې ولرو.

دا څېړنه له نورو پخوانیو مطالعاتو سره ښکاره توپیر لري او هغه څه چې زموږ د تحقیق هېنداره ده پخوا یې تصویرونه نه دي څېړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـوي . بل ارزښـت يې دا دی،چې دغه موضـوع تر دې وړاندې په دې موخه او بڼه نه ده څېړل شوې ، نو پر دې بنسټ يې ارزښت ډېر دی.

**د څېړنې موخې**

۱- د تمثیلي ټوټې ژانر ته وده ورکول.
۲- پښتو ژبې ته د یاد ژانر ګټې او د پښتو ژبې نثر بډاینه.
۳- د پښتو ادب زده کړیالانو او مینه والو ته د یادې موضوع په برخه کې د یو اغیزمن ماخذ وړاندې کول.
۴- د تمثیلي ټوټې ژانر له ډرامې سره پرتلنه او د جلا والي پولې يې ټاکل.
۵- د تمثیلي ټوټې ژانر په اړه پوره معلومات ورکول.

**د څېړنې پوښتنې**

۱- تمثیلي ټوټه څه ته وايي؟
۲- تمثیلي ټوټه په څو ډولونو ویشل شوې ده؟
۳- پښتو ادب ته د تمثیلي ټوټې ګټه څه ده؟
٤- د تمثیلي ټوټې او ډرامې ترمنځ اړیکه څه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- تمثيلي ټوټه يا ننداریک  په ادب کې څه ارزښت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم څپرکی

## د موضوع شالید

د تمثیل په شالید کې ویلی شو چې لومړني خلک چې تمثیل ته یې مخه کړې وه هغه د زاړه یونان خلک وو.په زاړه یونان کې هغه خلک چې تمثیل به یې لیکه یا یې په کې کردار ادا کولو هغوی ته به یې ( توریوم) وایه.د تمثیل لرغونتیا د میلاد څخه شپږ پیړۍ دمخه وخت ته رسیږي.تر میلاد ٤٧٦ کاله وړاندې د فنقي ښځو په نوم یو تمثیل وړاندې شو چې په خلکو کې یې خوځون راوسته.یاد تمثیل ( آشلیوس) نومې شخص لیکلی وو.له یونان نه وروسته په کرار کرار تمثیل وده وکړه او په نورو ملتونو کې یې هم ریښې وغزیدې.په مصر،روم،چین ،هند او نورو هېوادونو کې یې هم پرمختګ وکړ.د وخت په تېرېدو سره زمونږ په تاټوبي لرغوني اریانا کې هم د ننداړو یا تمثیل بېلابېلې بڼې ولېدل شوې چې اوس هم په ځینو قومونو کې د ودونو او خوښیو په مراسمو کې ترسره کیږي.

په اوسني افغانستان کې تمثیلي ټوټې د لومړي ځل لپاره د امیر شیرعلي خان په دربار کې د فقیر احمد په نوم یو شخص و چې پاچا د ( مجلس آرا) لقب هم ورکړی و نمانځلې.نوموړي به ځینې تاریخي پېښې له رزمي شعرونو سره یو ځای د امیر په وړاندې په ننداریزه یا تمثیلي بڼه ویلې.همدارنګه د اعلیحضرت امان الله خان د واکمنۍ په لومړیو کې تمثیل پیل وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي په ۱۳۰۰ لمریز کال په پغمان کې د تیاتر په نامه ودانۍ هم جوړه کړه چې په هغې کې به تمثیلونه ( ننداري) وړاندې کېدلې.په همدې ودانۍ کې په ۱۳۰۲ لمریز کې د هېواد د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په جشن کې د ( شهزاده جوا) په نامه ژباړل شوی تمثیل وړاندې شو چې په دې تمثیل کې لوبغاړي ( عبدالعزیز ناصري،نورمحمد،علي محمد،سرور صبا،حسن جان،محمد اکرام،میر محمد، کاظم هاشمي،سید عبدالله،مولوي غلام محمد،محمد فرخ افندي،قاري دوست محمد او محمد اکبر ضیاء ) لوبېدلي وو.د یاد تمثیل ژباړونکي او ترتیب کوونکي محمود طرزی،فیض محمد ،ذکریا او صلاح الدین سلجوقي وو چې امان الله خان یې هم ننداريې ته ناست وو. په دې وخت کې ځینې تمیثلونه وړاندې شو لکه ( فتح تل،بچه نازدانه، حاکم ظالم، مادر وطن...) د تمثیلي ټوټو دغه ګرم بازار تر ۱۳۰۷ لمریز پورې روان وو،خو د کورنۍ جګړو له امله سقوط سره مخ شو.

دا بهیر تر ۱۳۲۰ لمریز پورې ډېر سست روان و، خو د ۱۳۲۰ لمریز نه وروسته چې کله سردار محمد نعیم خان د معارف وزیر و یو شمېر فرهنګیانو تمثیل ته بیا مخه کړه.همدارنګه کله چې صلاح الدین سلجوقي د مطبوعاتو مسؤول و د کابل د (پوهنې ننداريې) بنسټ هم کېښودل شو چې د همدې امله افغانستان کې تمثیل وده وکړه او په ښوونځیو کې یې هم رواج وموند.په ۱۳۲۸ لمریز کې د کابل ښاروالۍ په چوکاټ کې د ( روحي روزنه یا شهري ننداريې) په نوم یو تیاتر په فعالیت پیل وکړ.

په ۱۳۳٦ لمریز کال د ښځو لپاره د ( زینب ننداري ) په نوم تیاتر جوړ شو او په۱۳۳۸ لمریز کال د عسکري کلوپ په چوکاټ کې ( لښکري ننداريې) تآسیس او په همدې وخت کې د کابل ننداريې بنسټ هم کېښودل شو. په ۱۹٦۳ م کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کې د ښکلیو هنرونو د مؤسسې تآسیس په ۱۹٦٦ م کال د پښتو تیاتر فعالیت پیل کړ.د کابل راډیو په جوړیدو سره تمثیل یا ننداريې نوره هم وده وکړه.همدارنګه په پښتونخوا کې هم د پښتو تمثیل په برخه کې ډېر کارشوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ( ډرامه ) اثر لیکوال افضل رضا د لیکنې له مخې پېښور ته تمثیل یا ننداره په ۱۹۰٤م کې راغلې ده په دې لړ کې سید فضل علي شاه په ۱۹۰٦م کې په پېښور کې تیاتر پرانستی دی.د دې موضوع د شالید او پسمنظر په برخه کې همدومره یادونه بسنه کوي.
د یوې خبرې یادونه اړینه بولم هغه دا،چې په تمثیلي ټوټه یوازې د مقالې تر کچې پرې کار شـــوی او لنډې خورې ورې لیکنې پرې لیکل شوي ،خو په منظمه او سستیماتیکه توګه پرې چا کار ندی کړی،چې په دې څېړنه کې په علمي او منظم ډول څېړل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم ځپرکی

## د ځېړنې کړنلاره

د غه ځېړ نه کتابتوني بڼه لري او میتود یې تشـــریحي دی او د کتابونو څخه په نقلي ډول بیتونه راخستل شـوي دي، په لومړي قدم کې د ســـکالو اړو ند اخځلیکو نه راټول شـــوي دي د تمثیلي توټو اړو ند معلومات ترې په نقلي ډول را ایستل شوي دي چې د دې موضوع اړند پریمانه کتابو نه موجود دي البته په لره او بره پښـــتونخوا کې له نیکه مر غه په دې اړه کتابونه،ویډوګانې او غږیزه بڼه باندې ډېر مواد موجود دي او په اړه یې معلومات تر لاسه کېدلی شي.

د ځېړنې اســـتراتیژې مې په دې ډول ده چې لومړی مې تمثیل یا تثمیلي ټوټو په اړه معلومات راټول کړي او هره برخه مې په خپل ځای کې ځای پر ځای کړې ده او بیا مې هرې موضوع اړوند پوره معلومات تشـریح،توضـیح او تفسـیر کړي او هره موضـوع پر خپل ځای ځېړل شـوې ده.دا چې دا یو نقلي تحقیقي موضـوع ده نو د وخت محدودیت په کې موجود نه و ځکه چې دې ډول موضـوع لپاره وخت کوم شـرط نه شي کیدای.

د خوښــی خبره دا ده چې اوس د نورو وختونو په پرتله د کتاب لوسـتلو بازار یو څه تود دی په همدې اســاس په هیواد کې ګڼ شـمېر کتابتونونه وجود لري چې د دې لپـاره مې بېلابېلو کتـابتونونو څخـه د موضـــوع اړوند کتابونه راټول کړي دي چې ټول کتابونه د پښـتو ژبې اړوند دي، دې لپاره چې ځېړنه مې ښــه او په غوره ډول بشــپړه شــي نو د کوزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتونخوا(پېښور )څخه مې هم ماخذونه ترلاسه کړي دي، د يادولو ده چې هر کتابتون ته مې لاس رسی شوی دی د موضوع اړوند مأخذ مې ترې ترلاسه کړی دی او دا مې پر ځان لازمه ګڼلې چې له هر ځايه کتابونه تر لاسه کړم او خپله موضوع پرې غني کړمه .له اوږدې مطالعې وروسته ورته ليکنې بڼه ورکول شوې ده البته دغه مطالعه به پوره وخت ونيسي.ياده موضوع به په ټاکلي وخت بشپړه شي.

دغه څېړنه به د پښتو ادب ته د تمثيلي ټوټو پر راتګ او پرمختګ ترسره شي، دا چې څېړنه کتابتوني ده نو د څېړنې مواد مې کتابونه، مجلې ، راډيوګانې ،تلويزونونه ، سي ډي کيسټونه او نور اړوند توکي دي.ځرنګه چې د موضوع په تړاو ډېر کتابونه پيداکيږي نو د اړتيا پر وخت مې له رسنيو څخه هم په کې ګټه اخيستې او د موضوع اړوند مواد مې ترې تر لاسه کړي دي.

په دغه څېړنه کې چې له کومو اخځليکونو کار اخستل شوی دی اکثره يې د کتاب په شکل دي ځکه چې اوس مهال د نور مهال په پرتله د کتاب لوستلو بازار ډېر تود دی او هر رنګه کتابونه په کتابتونونو کې پيدا کيږي، نو زه هم د هيواد بېلابېلو ولاياتو ته لکه کابل کې د علومو اکادمۍ کتابتون، اکسوس کتابتون، سمون کتابتون، انتشارات نويسا ؛ سيد محی الدين هاشمي کتابتون ،عامه کتابتون،اطلاعات او کتلور کتابتون، دانش کتابتون او په ننګرهار کې مومند کتابتون، ختيځ کتابتون، صميم کتابتون، ګودر کتابتون؛په لغمان کې دانش کتابتون؛ او همدارنګه مې ينځه ماخذونه له پېښوره هم راغوښتي دي چې په خپله څېړنه کې مې ترې کار اخستی دی.

د يادولو وړ بولم چې پښتو ژبه لکه د نورو ژبو په څېر په انټرنيټ کې ډېره ونډه نه لري او د کار وړ مواد ترې سړی په لاس نه شي راوړلی په دې برخه کې بايد د پښتو ادب سرلاري او مينه وال بې غوره پاتې نشي او د خپلې ژبې د بډاينې لپاره د کار مټې را بډ وهي تر څو مو د خپلې مورنۍ ژبې حق تر يوه حده پرځای کړی وي او د نورو سيالو ژبو سره مو په يوه ليکه کې درولې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورته بحث څخه مې وروســــته د اخځليکونو کې لومړی تمثيل معرفي کړی،بيا مې د هر تمثيل لپاره بېلګه او د هغوی په اړه بحث او تفســـير کړی دی.هره برخه مې تر خپلې وســـې تحليل کړې او اړونده موضـوع باندې بحث او تفسير شـوی دی.چې په همدې ډول سـره مې د ټولې موضـــوع عنوانونـه ځېرلي دي اوپـای کې ځېړنـه پـه پـابلې، وړانديزونو او اځليکونو راټوله شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د معاصرې دورې لنډ تحليل

د موضـــوع په دې برخه کې به په معاصـــر ادب لنډ،خو هر اړخيز بحث وشـي او دا به هم روښـانه شـي،چې پښـتو معاصـر ادب له کومه وخته پيل دی او کوم پړاونه يې وهلي دي.همدارنګه د دې پړاونو په واضـحه کولو سـره به دا هم روښـانه شـي،چې کوم ژانرونه په دې پړاونو کې منځ ته راغلل او ګټه يې څه وه؟.

**معاصرې دورې ته لنډه کتنه**

دا،چې معـاصـــر ادب لـه څـه وخـت نـه پيـلـيږي پـه دې بـه لږ وروسـته بحث وکړو لومړی به د معاصـر ادب له اصـطلاح سـره ځان اشنا کړو،چې معاصر څه ته ويل کيږي؟ سرمحقق محمد صديق روهي په خپل کتاب (د پښـــتو ادبياتو تاريخ دويم ټوک) کې ليکي چې : (( د ځينو ادب پوهانو په عقيده،ټول ادبي جريانونه په درې ډولو وېشـــل کېدای شي: فولکلوري ادب،کلاسيک ادب او موډرن ( نوی يا معاصر) ادب) ) دلته بحث د معاصـر ادب دی. روهي صـاحب د معاصـر ادب خبره داســې کوي. (( په پښـتو کې معاصـر ادب څخه مراد هغه ادب دی،چې د موډرن ژوند صنعتي،ټولنيزې،سياسي او فرهنګي پديدې يې په نويو ايماژونو يا انځورونو کې انګازه کړې وي او د اوسني عصر د مفکورو، غوښـــتنو،ارزښـــتونو او ايـډيـالونو هينـداره وي.)) ( روهي،۱۳۸۴: ۴۵ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يادونې وړ ده،چې په پښتو کې د معاصر ادب اصطلاح په انګريزي کې د معاصر ادب له اصطلاح سره په خپل مفهوم کې توپير لري.په انګريزي ژبه کې معاصر ادب د پښتو ژبې له معاصر ادب سره هم عصره دی،تقريبا له پيليدو سره د نهيلی،اروايي بحران او بدبينۍ ادبيات راپيدا شول.ددې په خلاف،د پښتو معاصر ادب د خوشبينۍ او د چټکې ترقۍ او عصري کيدلو ارزو سره پيل شول.( روهي،۱۳۸۴ : ۴۵).

د پښتو ادب د پيلامې په اړه محمد صديق روهي نظرونه په داسې ډول ورکړي دي،چې بېرته يې هر نظر د تامل وړ ګڼلی او دا يې ثابته کړې ده،چې پښتو معاصر ادب له کومه پيل کړو او کومې ځانګړنې بايد ولري. نوموړی په خپل کتاب کې وايي چې د ځينو ليکوالو په اند معاصر ادب  هند ته د انګريزانو له راتګ سره پيلېږي.دويم نظر دا دی،چې د پښتو معاصر ادب افغانستان ته د انګريزانو له راتګ ( ۱۸۳۹ ع) څخه پيلېږي.دريم نظر دا دی،چې پښتو معاصر ادب د امير شير علي خان د پاچاهۍ په دوهمه دوره کې شروع کېږي او څلورم نظر داسې دی،چې د پښتو معاصر ادب په تېره د هنري نثر بنسټ د نولسمې پيړۍ په اويايمو کلونو کې ايښودل شوی دی،پنځم نظر کې ويل شوي ،چې د افغانستان د خپلواکۍ د جګړې (۱۹۱۹ع) سره سم تيغونه او وده کوي او په دې اړه وروستۍ نظر  دا دی،چې د پښتو اوسنۍ دوره له ( ۱۳۵۰ ل) څخه پيلېږي.روهي صاحب وايي،چې دا ټولې نظريې د تامل وړ دي او بايد بحث پرې وشي او په خپل کتاب کې يې پرې بحث هم کړی دی.

نوموړی ،د لومړي نظريې په اړه وايي،چې د دې نظر خاوندان پلويان په دې ټکي استناد کوي،چې لوديز ادب د انګريزانو له خوا په هند کې دود شوی او پښتو ته راننوتی دی.په دې نظر کې دا نيمګړتيا ده،چې انګريزان د شرق الهند د کمپنۍ له جوړيدو سره په (۱۶۰۰ ع) کې هند ته راغلل،خو په پښتو ژبه کې د (۱۹۱۰ ع) کال تر شاوخوا پورې د لويديځ ادب اغيزې نه ليدل کيږي.ځينې د خپلې خبرې د ثبوت لپاره د قاسم علي افريدي شعر د معاصر ادب د پيل لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولي په داسې حال کې چې د قاسم دیوان په (۱۸۱٦ع) کې تمام شوی دی او د ((معاصر شعر)) بیلګه یې دا ده:

د انګریز طنبور ترم دلته غږیږي
نصارا شوه حاکمان فرخ آباد
حکومت د پښتانه له سره لاړی
وارخطا کړه نوابان فرخ آباد
(روهي،۱۳۸۴: ۴۷ )

په پورتني شعر کې ګرامري نیمګړتیاوې او سکتګي لیدل کیږي چې د معاصر ادب شعر ورته نه شو ویلی.د دویمې نظریې په اړه روهي صاحب وایي،چې لومړی خبره دا چې د انګریزانو چې پر افغانستان لومړی یرغل وکړ په دغه وخت کې د افغانستان ساحه پراخه وه،نو ځکه مؤرخان د انګریزانو لومړی یرغل له (۱۸۳۸ ع) کال څخه حسابوي. دویمه خبره دا ده،چې له (۱۸۳۸ ع) نه د (سراج الاخبار) تر خپریدو پوري د پښتو ادبي تاریخ په پاڼو کې د معاصر ادب بېلګې نه لیدل کیږي.

د درېمې نظریې په اړه وایي،چې د پښتو معاصر څرک د امیر شیرعلي خان د پاچاهۍ په دویمه دوره کې لټول هم سم کار نه دی په دې کې شک نشته چې د نولسمې پیړۍ په دویمه نیمایي کې د افغانانو په عنعنه یې ژوند کې د یوه نوي تحرک څرک لګیږي،د عصري کېدلو په لور ګامونه اخیستل کیږي،د وسلو کارخانې جوړې شوې،تجارت پراختیا وکړه،په اداري او نظامي چارو کې نوښتونه منځ ته راغلل،د شمس النهار په نامه جریده خپره شوه،حربي او ملکي ښوونځي جوړ شو،عصري روغتونونه تاسیس شو د پوستې نوې سیستم جوړ شو،عسکري اصطلاحات په پښتو واوښتل،د پښتو ژبې د تدریس لپاره د ( تحفة الامیر) په نوم ګرامر هم ولیکل شو او د انګریزانو په ضد غزا ته د خلکو رابلل پیل او په دې اړه د ( روضة المجاهدین) په نوم کتاب نظم شو،خو بیا هم په دغه دوره کې موږ د معاصر ادب څرک نه ګورو او هغه څه چې په معاصر ادب کې په کاريږي هغه دلته نشته.لنډه دا،چې څلورمه او پنځمه نظریه هم د تامل وړ ده چې روهي صاحب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کتاب (د پښـــتو ادب تاریخ) کې پرې بحث کړی دی او دایې ویلي دي،چې د پښتو معاصر ادب بنسټ د سراج الاخبار د دویم ځل (۱۹۱۱ ع) په خپریدو ســره ایښــودل شــوی دی.د پښــتو معاصــر ادب د روښانتیا،ویښتیا او اوښتون په نامه پړاونه ووهل او د (۱۳۵٦ ل) کال نه راپه دیخوا د افغانستان په پښتو معاصر ادب کې د نوي بدلون نښې څرګندیږي.( روهي،۱۳۸۴ : ۵۰ ).

پښـــتو ادبیات د تاریخي بهیر له مخې په دریو عمده برخو یا دورو ویشــل کیږي،چې لرغونې دوره،کلاسـیکه دوره او معاصــره یا اوســنۍ دورې بلل کیږي.هره دوره خپلې ځانله ځانله ځانګړنې لري، خو دلته په دې برخه کې مونږ یواځې په معاصــره دوره لنډ او ځغلنده نظر اچو ترڅو خپلې اصـلي موضـوع ته ورداخل شـو.د افغانسـتان د خپلواکۍ او د نړیوالې لومړۍ جګړې(۱۹۱٤-۱۹۱۸ م) د پـای تـه رسـیدو په نتیجه کې په ټوله اسـیا کې ملي شـعور او د بیدارۍ احسـاس پیدا شو.هر چا سره دا فکر او احساس وو، چې د خپل راتلونکي ژوند او هیواد لپاره ډیر کـار وکړي ترڅو خپل هېوادونـه ابـاد کړي.په دې وخت کې په لر او بر کې پښــتو ادب د پیاوړتیا او پرمختګ لپاره هلې ځلې پیل شــوې.دلته په افغانســتان کې د حکومت پاملرنه زیاته شــوه. لومړی په کندهار کې د پښــتو ادبي انجمن جوړ شــو او بیا پښــتو مرکه جوړه شوه.

هلته په کوزه پښـــتونخوا( پیښـــور). کې په (۱۹۲۰ م) کال د (انجمن اصلاح افغانه) په نوم یو سازمان جوړ شو او غوښتل یې،چې د پښـــتنو د ټولنیز ژوند او کلتور د ژوندي ســـاتلو ،د خلکو د پوهولو او ویښــولو لپاره ګامونه پورته کړي،چې دغې ټولنې په دې برخه کې هر اړخیز کارونه وکړل.همدا ټولنه بیا په (۱۹۲۹م) کال کې د یو سـیاسـي ګوند( خدایي خدمتګاران) په نامه کار پیل کړ. خدایي خدمتګاران ګوند د دې لپاره جوړ شـــوی وو چې پښـــتانه او مســـلمانان د انګریزانو له ظلمونو خلاص کړي او خپل ژوند ته یې پام واړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو کاله وروسته په بره پښتونخوا کې د کندهار او کابل ادبي انجمنونه سره یوځای شول،پر بنسټ یې په (۱۳۱٦ ه ش) کال (پښتو ټولنه) جوړه شوه او د پښتو د ودې او پرمختګ انګازې هرې خوا د خلکو غوږونو ته ورسیدلې.

په کوزه پښتونخوا کې د ( پښتون مجله) چې د ازادۍ لپاره یې په کلکه مبارزه کوله، رامنځ ته شوه .لنډه دا چې په لره او بره پښتونخوا کې لیکوالان، شاعران او ادیبان په حرکت راغلل،چې په نیمه پیړۍ کې یې په پښتو نثر کې ډېر کتابونه او رسالې ولیکلې.د دې دورې د لومړنیو لیکوالو له ډلې څخه مولوي احمد،منشي احمد جان او قاضي میر احمد شاه رضواني د پښتو په نثر کې د یو نوي سبک او لیک ډول اساس ایښی دی،چې د دوی د نثر د لیکلو ډول د ولس د محاورې سره نږدې او روان وو.

په همدغه وخت کې پښتو ادب د غربي تمدن له اغیزې خالي نه دی.په پښتو کې له انګریزي او نورو ژبو څخه ترجمې شروع شوې او د نوي فکر او نوي خیال مفکوره رامنځ ته شوې ده.د پښتو ژبې پرمختګ لپاره هر ډول ګامونه پورته شوي . مولوي احمد د (ګنج پشتو) په نامه په نثر یو کتاب ولیکه،چې په قصصي برخه کې شهکار دی.قاضي میر احمد شاه رضواني د پښتو په ګرامر (وافیه) سربېره په نثر نور کتابونه لکه بهارستان افغاني او شکرستان افغاني هم ولیکل،چې زیاتره درسي بڼه لري. همدارنګه منشي احمد جان د ( هغه دغه)او( د قصه خوانۍ ګپ) په لیکلو د پښتو نثر لا ډیر خوندور کړ او دپښتو نثر لپاره یې ډیر خدمت وکړ.همدارنګه غلام محمد پوپلزي هم له اردو ژبې څخه پښتو ژبې ته ډېرې ژباړې کړې دي.

دغه شان میاحسیب ګل کاکاخیل،میا نعمان الدین او د ده کورنۍ هم په دې لاره ګامونه پورته کړل او پښتو ژبې لپاره یې تر خپله وسه خدمت وکړ،چې ډیرۍ غوره بېلګې یې د توبة النصوح او نقش نګین ناولونه له اردو ژبې څخه پښتو ته ژباړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د نوي نثر پيل د امير شير علي خان له زمانې څخه ښکاري په دغه وخت کې يو شمېر عسکري نومونه،اصطلاح ګانې،قاعدې او يوځي بولۍ او چونۍ په پښتو اوښتې دي.د امير عبدالرحمان خان په زمانه کې پښتو نثر سياسي بڼه خپله کړه او سوال او ځواب دولتي ليکنې په کابل کې په پښتو چاپ شوې دي.( زېور، ۱۳۹۴ : ۶ ).

د امير حبيب الله خان په وخت کې د پښتو لپاره ځني درسي کتابونه وليکل شول او پښتو په ښوونځيو کې په تعليمي نصاب کې شامله شوه.په سراج الا خبار کې د پښتو نثر نمونې او متلونه چاپ شول،په دې ډول پښتو ژبې يو تعليمي او سياسي اهميت وموند او په دولتي ادارو کې هم شامله شوه. د يادونې وړ ده چې معاصره دوره د کتابونو د شومره والي او څرنګه والي له امله ډېره بډايه ده په دې وخت کې ډېر زيات کتابونه وليکل شو.

په دغه وخت کې د نثر پاخه ليکوالان مولوي عبدالواسيع کندهاری،محمد ګل مومند،مولوي صالح محمد،عبدالهادي داوی او نورو نومونه ديادونې وړ دي.د امان الله خان په وخت کې د پښتو مرکې لومړنی مشر مولوي عبدالواسيع د پښتو ژبدود او لغاتو لپاره د خپلو نورو ملګرو په مرسته يو اساس جوړ کړ او د (يوازينی پښتو- پښتو پښويه) په نومونو يې د پښتو مرکې له خوا دوه کتابونه چاپ کړل.

د مولوي صالح محمد درسي کتابونه( د پښتو لومړنی درسي کتاب،د پښتو دويم درسي کتاب) د هغه وخت مهم او غوره نثري کتابونه دي.په (۱۳۱۱ ه ش) کال په کندهار کې د محمد ګل مومند له خوا د پښتو لومړنی ادبي انجمن جوړ او د طلوع افغان اخبار په پښتو واړول شو.پښتو انجمن کابل ته راغی او بيا په پښتو ټولنه بدله شوه.محمد ګل مومند د دولتي چارو سره- سره د پښتو په علمي کولو کې هم پوره برخه اخيستې او د نورو اثارو په څنګ کې د (پښتو سيند) او (پښتو ژبې ليار) نومې کتابونه دوه غوره او مهم کتابونه وليکل او چاپ ته يې اماده کړل.پښتو ټولنې هم د پښتو ژبې د ودې لپاره ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه وکړل او پښــــتو يې د غوره او غني ژبو په کتار کې د ودرولو جوګه کړه.پښـتو ټولنې ښـه لیکوال و روزل ،ډير کتابونه يې چاپ کړل او د پښتو ژبې حق يې تر خپلې وسې ادا کړی دی.

د دې دورې پـاخـه او تکړه لیکوالان عبـارت دي لـه، پوهـانـد عبدلحی حبيبي،قیام الدین خادم،ګل پاچا الفت،عبدالروف بېنوا،پوهاند صــــديق الله رښـــتين،امين الله زمريالی،محمد اعظم ایازي،محمد ګل نوري،محمـد امين خوګيـانی،غلام جيلاني،پـاينـده محمـد زهير،محمـد عثمـان پښــــتون،مجروح ،ميراجـان ســيـال،جرار،محمـد ارســــلان ســــلیمي،عبدالله افغاني نویس،محمد دین ږواک،عبدالله بختیانی،محمد ګلاب ننګرهاری،موســـی شــفيق،پوهاند عبدالشـــکور رشـــاد،پوهاند تږی،محمد صــديق روهي،سـليمان لايق،سـعدالدين شـپون... او نور د يادونې وړ دي.

په معاصـــره دوره کې د پورته نومياليو کارونه او ليکنې د ســتاينې وړ دي،د دوی ليکـل اثـار او نثرونــه روان او محــاورې تــه نږدې دي.همدارنګه په کوزه پښـــتونخوا کې په اوســـنۍ دوره کې د نوي نثر پاخه لیکوالان،لکه سید راحت زاخیلي،ماسټر عبدالکریم ،اجمل خټک د ادبي او ســــياســـي نثر جنډې پورته کړي دي. دوســـت محمد کامل مومند،امير حمزه شـــينواري د تاريخي او فلســـفي نثر دنيا ته پراختيا ورکړې ده.د دې ترڅنګ په کوزه پښـــتونخوا کې نور لیکوالان لکه: عبدالخالق خليق،ســــمندر خان ســــمندر،مرحوم مولانا عبدالقادر،محمد اکبر خــادم،بهـادر شــــاه کـاکـاخېـل قـاســـمي،انورالحق،عبـدالاکبر اکبر،هلالي،عبدالحليم اثر،فضل حق شيدا،حسين بخش کوثر،صاحبزاده ادريس،حافظ محمد ادريس،نصــرالله نصــر،عظيم شـاه خيال،مهدي شـاه مهدي،روغ ليونی،اياز داودزی،غني خان غني،ســيد رســول رســا...او نور مشهور دي.( زېور ،۱۳۹۴ : ۱۰ ).

په لنډه توګه ويلی شــــو چې په معاصــــره دوره کې په بره او کوزه پښـتونخوا کې نومياليو ليکوالو تر خپلې وسـې د پښـتو نثر او نظم په برخه کې هلې ځلې کړې دي نثر يې روان او ورځنی محاورې ته نږدې دي.په اوسنۍ دوره کې د پښتو ژبې لپاره ډير زيات کارونه وشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو د پرمختګ لپاره په شعوري توګه هلې ځلې پيل شوې او هماغه وو چې نن پښتو ژبه د ډېرو غني ژبو په کتار کې ولاړه ده.

د پښـتو معاصـر تاريخ په اړه د پښـتو ادب تاريخ يو بل ليکوال عبدالواجد واجد په خپل کتاب ( د پښـــتو ادبياتو تاريخ لومړنی،دويمه او درېيمه دورې) کې د محمد صـديق روهي د کتاب خبرې راخيسـتي او هغه يې بيا تحليل کړي دي او واجد هم د محمد صـــديق روهي په نظر دی،چې معاصـــر ادب هغه وخت پيلېږي،چې کله منشـــي احمد جان په نثر ليکلو پيل کوي.نوموړی د معاصـــر ادب په اړه خپل نظر داســـې ليکي: ( د شـــېږمې نظريې ليکوال د معاصـــر ادب پيل له (١٣٥٠ ه) ځخه ګڼي او دا نظريه د (١٣٢٥ ل) د پښتو ادب مؤلف وړاندې کړې ده،دلته د مؤلف نظر دا دی چې منشـي احمد جان د معاصـر ادب بنسټ ايښـودونکی دی،په رښـتيا چې د منشـي احمد جان د ليکنې سـبک ډېر بســـکلی او په زړه پورې دی،خو محتوا او منځپانګې په لحاظ د مولوي احمد نثر ته ورته دی.د دويمې نظريې د ليکوال په عقيده پښتو معاصر ادب په لره پښـــتونخوا کې د (١٩١٠ ع) کال په شـــاوخوا د ( افغان جريدې) په خپرېدو ســـره پيلېږي،ځکه چې په دغه جريده کې د پښـــتو ادب نوي ژانرونه باب شـــوي ،چې د راحت زاخيلي،فضـــل محمود مخفي،عبدالاکبر اکبر غونـدې ليکوالو د نوي او معـاصـــر ادب زړې وکرل،خو په افغانستان کې د معاصر ادب بنسټ د (١٩١١ع) د سراج الاخبار د دويم ځل په خپريدو سـره پيل شـو او د (١٣٦٥ ه ش) کال نه راپدې خوا په پښـتو معاصـر ادب کې پراو په پراو نورې نښـې نښـانې رامنځ ته شوې.)( واجد ،١٣٩٥ : ٢٧٨ ).

پښتو ادبيات د تاريخي بهير له مخې په دريو عمده برخو يا دورو ويشل کيږي،چې لرغونې دوره،کلاسيکه دوره او معاصره يا اوسنۍ دورې بلل کيږي.هره دوره خپلې ځانله ځانګړنې لري. خو دلته په دې برخه کې مونږ يواځې په معاصره دوره لنډ او ځغلنده نظر اچو ترڅو خپلې اصلي موضوع ته ورداخل شو.د افغانستان د خپلواکۍ او د نړيوالې لومړۍ جګړې(١٩١٤-١٩١٨ م) د پای ته رسيدو په نتيجه کې په ټوله اسيا کې ملي شعور او د بيدارۍ احساس پيدا شو.هر چا سره دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر او احساس وو، چې د خپل راتلونکي ژوند او هیواد لپاره ډیر کار وکړي ترڅو خپل هېوادونه اباد کړي.په دې وخت کې په لر او بر کې پښتو ادب د پیاوړتیا او پرمختګ لپاره هلې ځلې پیل شوې.دلته په افغانستان کې د حکومت پاملرنه زیاته شوه. لومړی په کندهار کې د پښتو ادبي انجمن جوړ شو او بیا پښتو مرکه جوړه شوه.

هلته په کوزه پښتونخوا( پیښور). کې په (۱۹۲۰ م) کال د (انجمن اصلاح افغانه) په نوم یو سازمان جوړ شو او غوښتل یې،چې د پښتنو د ټولنیز ژوند او کلتور د ژوندي ساتلو ،د خلکو د پوهولو او ویښولو لپاره ګامونه پورته کړي،چې دغې ټولنې په دې برخه کې هر اړخیز کارونه وکړل.همدا ټولنه بیا په (۱۹۲۹م) کال کې د یو سیاسي ګوند( خدایي خدمتګاران) په نامه کار پیل کړ. خدایي خدمتګاران ګوند د دې لپاره جوړ شوی وو چې پښتانه او مسلمانان د انګریزانو له ظلمونو خلاص کړي او خپل ژوند ته یې پام واړوي.

څو کاله وروسته په بره پښتونخوا کې د کندهار او کابل ادبي انجمنونه سره یوځای شول،پر بنسټ یې په (۱۳۱٦ ه ش) کال (پښتو ټولنه) جوړه شوه او د پښتو د ودې او پرمختګ انګازې هرې خوا د خلکو غوږونو ته ورسیدلې.

په کوزه پښتونخوا کې د ( پښتون مجله) چې د ازادۍ لپاره یې په کلکه مبارزه کوله، رامنځ ته شوه .لنډه دا چې په لره او بره پښتونخوا کې لیکوالان،شاعران او ادیبان په حرکت راغلل،چې په نیمه پیړۍ کې یې په پښتو نثر کې ډېر کتابونه او رسالې ولیکلې.د دې دورې د لومړنیو لیکوالو له ډلې څخه مولوي احمد،منشي احمد جان او قاضي میر احمد شاه رضواني د پښتو په نثر کې د یو نوي سبک او لیک ډول اساس ایښی دی،چې د دوی د نثر د لیکلو ډول د ولس د محاورې سره نږدې او روان وو..( رحیمي ،۱۳۹۶ : ۱۲- ۱۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د معاصرې دورې پړاونه

د (پښـــتو ادبيـاتو تـاريخ) ليکوال پـه خپـل دويم ټوک کې د معاصـرې دورې په پړاونو هم بحث کړی دی او معاصـره دوره يې په دريو پړاونو ويشـلې ده.د روښـــانتياپړاو،دويښـــتيا پړاو او د اوښـــتون پړاو،چې پـه دې دريو واړو پړاونو پـه خپـل کې کتـاب کې مفصـــل غږيدلی دی،دا چې د دې موضـــوع يوه برخـه د معاصـــرې دورې پړاونونه دي،نو اړينه ده،چې دلته د همدې درې واړو پړاونو په اړه هم بحث وشـــي،چې هر پړاو يې جدا جدا تر بحث لاندې نيول شـــوی دی.لومړی به په دې بحث کې په روښـــانتيا پړاو خبرې وکړو او د هغوی ځانګړنې او ليکوال به لنډ وپيژنو.

**روښانتيا پړاو.**

مخکې مو يادونه وکړه،چې معاصره دوره په دريو پړاونو ويشل شوې،چې هره يوه يې جلا جلا تر بحث او څېړنې لاندې نيول کيږي.دلته هم لومړی د روښانتيا پړاو راځي.د د شلمې پيړۍ په شروع کېدو سره په افغانستان کې د معاصر ادب دپيليدو لپاره عيني او ذهني شرايط برابر شوي وو.په همدې وخت کې د کلتور مادي توکونه لکه فابريکه،مطبعه،روغتون،عصري لوازم،د کار وسيلې د عصري ژوند د ښکارندوی په توګه ترسترګو کيږي.عنعنوي ژوند کې د بدلون سره نوې مفکورې هم پيدا کيږي او د معنوي فرهنګ په بڼ کې نوي ګلبوټي تېغونه وهي.( روهي،۱۳۸۴: ۵۲).

د ليکوا په وينا دا،نو داسې يو وخت دی،چې د نوي ژوند لپاره هر څه اماده دي،هر څوک کوښښ کوي،چې د عصري ژوند سره ځان اماده کړي او د ژوند له ټولو ښکلاو خوند واخلي.په دې وخت کې ټول عصري وسايل منځ ته راځي او انساني ژوند تقاضا لوړيږي او د پرمختګ خوا ته ځي په دې وخت کې د خلکو غوښتنې زياتيږي او په هره برخه کې د پرمختګ څرکونه تر سترګو کيږي.

د ليکوال په وينا : (د افغانستان د فرهنګي ژوند په لوړتيا کې يو بل عمده عامل د امير حبيب الله په دوره کې د هغو فراريانو راستنيدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو،چې د امير عبدالرحمن خان لخوا تبعيد شوي وو.هغی هېواد ته له راستنيدو ووسته د اذهانو په روښانولو کې يې ستره ونډه واخيسته او د معاصرو ادبياتو په بنسټ ايښودلو کې يې مهم نقش درلود.د دغو کسانو په ډله کې د محمود طرزي او غلام محی الدين افغان نومونه په ځانګړي توګه د يادونې وړ دي.همدارنګه د عصري پوهنو د تدريس لپاره له هند څخه ځينې استادان را غوښتل شوي وو،چې د نويو مفکور په ترويج کې يې ډېر خدمت کړی دی.) (روهي،۱۳۸۴: ۵۲).

کله،چې د امير عبدالرحمن لخوا ځينې کســـان تبعيد ته مجبور شو په دې کې يو هم محمود طرزی و،چې لومړی پېښور ته لاړ له هغه ځايه ايران او بيا په همدې ترتيب ترکې ته ورسيد،دوی په بهر کې ډېر څه ولېدل او د خلکو د نوي ژوند حالات او مشـــکلات يې هم درک کړل،دوی چې کله بېرته د امير حبيب الله خان په وخت کې هېواد ته راستانه شو له ځان سره يې نوې مفکورې او د ترقۍ او معاصر ژوند او ادب لپاره يې ډېر مواد خپل هېواد ته راوړل.دوی د معاصـــر ادب د بنســـټ ايښـــودلو کې مهم رول ولوبو او بله مهمه پېښـــه چې د معاصـــر ژوند او ادب لپاره په هغه وخت کې پېښه شوه هغه له هند څخه عصري پوهنو لپاره د اســـتادانو راوســـتل وو،چې د هغوی په راتګ ســـره هم په خلکو کې نوې مفکورې خورې او د پرمختـګ څرکونـه پـه کې ولیدل شو.په دغه وخت کې دفرهنګ په ساحه کې هم مهم کارونه وشو لکه په کابل کې د حبيبې ښوونځي او د حربيې ښوونځي او د سراج الاخبار د جريدې اداره د سياسي فعاليتونو په مرکز و بدل شو.

د مير غلام محمد غبار په وينا : په همدې وخت کې په کابل کې د بهرنيو هېوادنو جريدې لاس په لاس ګرځيدې او د روښـــانفکرانو قشــــر چې په لومړي ســـر کې يې د ملي بورژوازي او ليبرال ملاکانو نماينده ګي کوله وروسته يې د پاچا د بې سرحده واک د محدودولو او د افغانســـتان د خپلواکۍ د ګټلو او د اســـاســـي قانون د جوړولو لپاره په مبارزه لاس پورې کړ.

د تجدد او روښـــانتيا دوران ادبيات د ملي ارمانو د عرادې په توګه د فهرنګ پرمخ بيولو ته وقف شـــوي وو.په دې کې شـــک نشـــته،چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاصــر ادب ترڅنګ،کلاسـيک ادب او فولکلوري ادب دواړه په خپل قوت پاتې وو،خو معاصـــر ادب د محتوا او پيغام درلودلو له کبله نور ادبي جريانونه له خپل عنعنه يي اهميت څخه وغورځول.معاصر ادب د يوه متعهد او رسالتمن ادب په توګه د ټولنې په خدمت کې په کار واچول شــو.په هېواد کې د فقر،بيســوادی،اداري فســاد،احتناق او ټولنېزې بې عدالتۍ عموميت ټول هېواد پالونکي ازداي خوښــوونکي روښــانفکران دې ته وهڅول،چې د منځنيو پيړيو د رکود له منځه وړلو لپاره ســخته مبارزه پيل کړي.په دغه وخت کې ادبيات د يوه معنوي مشال په توګه د خلکو د ذهنونو د ورښـــانولو لپاره اســـتخدام کړي او ولس د غفلت،بې خبرۍ،ړانده تقليد او بې تفاوتۍ لـه درانـه خوبـه راويښ کړي.د دغـه وخت يو شـــمير نامتو شـــاعرانو او ليکوالو د ادبي تخليقاتو له لارې د خان خانۍ،استعمار،ځانځانۍ او استبداد پر ضد ګړندۍ مبارزه کوله او ځينو يې د خپلو لوړو ارمانونو د پوره کولو په لاره کې د قربانۍ ميدان ته هم ورودانګل او د شهادت جامونه يې وڅښل.( روهي،۱۳۸۴: ۵۳).

په دغه پړاو کې د خلکو په منځ کې شعور زيات شوی،خلک د ښــو او بدو فرق کولی شـــي او ځينو ليکوالو او شـــاعرانو،خو لا خپل شـــعرونه همدې ته وقف کړل،چې د ټولنې په بيدارولو او ويښـــولو کې مرسته وکړي.د همدغه ليکوالو او شاعرانو برکت وو چې په خلکو کې د بيداريدو مفکوره قوي شــوه او د پرمختګ خوا ته روان شــو.هغه يوه خبره ده،چې وايي شـــاعر او ليکوال د ټولنې ترجمان دی او دټولنې له منځه خبرې کوي او همداسې ده ځکه که د يوې ټولنې ليکوال او شاعر د وګړو خبره پورته نکړي،نور خلک يې هيڅ په غم او فکر کې هم نه وي.

د سراج الاخبار د جريدې په خپريدلو سره پښتو ژبې او ادبياتو ته هم د انکشـــاف زمينه برابريږي،په همدې وخت کې په لره او بره پښـــتونخوا کې ډېر داســـې ځوانان موجود وو،چې د نيوي علمونو او اروپايي ادب مطالعه يې کړې وه،نوي ادبي ژانرونه او فورمونه يې پيژندلي وو.د خپل خيال د اظهار دپار ه يې نوې لارې په نخښـــه کړې وې او د پښتو د لرغونې ادب پر پاخه بنسټ يې د پښتو د نني ادب ماڼۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل کړه.کـه څـه هم انګریز پـه (۱۸۹۳ م) کـال د ډیورنـډ پـه تحمیلي کرښــې ســره د افغانســتان د وجود یوه ټوټه جدا کړه،خو د دواړو غاړو ادب او فرهنګ یې جدا نکړای شــو.دواړو خواو کې په یوه وخت کې ادب او فرهنګ د پرمختګ په حال کې وو.په افغانســتان کې( ســراج الاخبار افغاندستان) د مولوي عبدالرؤف په مشری له چاپه راووتله،خو د لومړي نشـر سـره سم بیرته بنده شـوه او د دوهم ځل لپاره د (سـراج الاخبار افغانیه) په نامه په(۱۹۱۱م) کې د محمود طرزي په مدیریت او مشرۍ خپره شوه.په همدې وختونو کې په لره پښتونخوا کې هم د پښتو د معاصـر ادب د پراختیا په لار کې ګامونه پورته شـوي وو. په پښـتو ادب کې نوي ژانرونه باب شــو او د راحت زاخیلي ،فضـــل محمود مخفي،عبدالاکبر خان اکبر او عبدالمالک فدا غوندې نامتو شـــاعران او لیکوال د دغه نهضـــت ســـر لاري وو.محمود طرزي او عبدالرحمن لودین په (ســراج الاخبار افغانیه) کې د پښــتو نظمونو او مقالو خپرولو ته په اګاهانه توګه پاملرنه وکړه.د پښتو لومړی شعر چې په دغه جریده کې خپور شو هغه د صالح محمد کندهاري شعر و:

دا څه عجب دوران دی
چې راغلی پر افغان دی
رنګارنګ ترقي ده
څه عجب محبوب عنوان دی
دا له کومه سو په موږ کې
چې ظاهر او نمایان دی
دا خو عصر د سراج دی
چې افغان ټول پرې روښان دی
ته سراج الاخبار ته ګوره
چې د ملک په تن کې ځان دی
اوس بیا نور علی نور سو
په پښتو چې دی ګویان دی

د روښـــانتیا پړاو نامتو شـــاعران او لیکوالان عبارت دي له مولوي صـــــالح محمـد کنـدهـاری،غلام محی الـدین افغـان،محمود

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرزی،عبدالعلي مستغني،عبدالهادي داوي،مولوي عبدالواسیع او ملا عبدالباقي د یادونې وړ دي.د روښانتیا پړاو شعر او ادب د موډرن یا نوي توب او عصري توب خوا ته روان و.په دغه وخت لیکنو او شعر ونوکې هېواد پالنه،خپلواکي غوښتنه،د فساد پر ضد ودریدل،د تعصب رټنه،د علومو او ټکنالوژی او نوي فرهنګ خپرونه،د ملي وحدت ټینګول د عصري ژوند سره ځان اماده کول او دې ته ورته نورې ډېرې ځانګړنې په دغې دوره کې ترسترګو کېږي.( روهي،۱۳۸۴: ۵۶).

**ويښتيا پړاو**

دا،چې ويښتيا پړاو کله او څنګه پیلیږي او له کومو مرحلو او مشکلاتو تېرېږي په دې اړه به د موضوع په دې برخه کې مفصل ډول بحث وشي.محمد صديق روهي په خپل کتاب پښتو ادبياتو تاريخ کې ويښتيا پړواو هم په بشپړ ډول وړاندې کړی.کله ،چې امير امان الله خان د خپل شپږ مياشتني اوږد او ستړي کېدونکي سفر څخه هېواد ته راستون شو او دلته يې د خپل هېواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره متې بډ وهلې،ټولنيز،اقتصادي او فرهنګي اصلاحات رامنځ ته کړل او د ترقي غوښتونکو رشنفکرانو ارمانونه يې تمثيلول د روحانينو،ملايانو،خانانو او محافظه کاره سردارانو له مخالفت سره مخ شو.هرې خوا ته د امير امان الله خان په خلاف دسيسې او پلانونه جوړل شو.که څه هم په ورستيو کې امير امان الله خان د خپلو کړنو څخه څو ګامه په شا ولاړ او پر خپلو ريفورمونو يې نوې کتنه وکړه،خو پاچا په عامه ذهنيت کې وهل شوی و او د ده پر ضد فعاليتونه پيل شول.

محمد صديق روهي په خپل کتاب پښتو ادبياتو تاريخ کې په دې اړه داسې ليکي: ( د ۱۹۲۹م کال د جنورى مياشت چې د ۱۳۰۷ ل کال د جدي مياشتې سره سمون خوري حبيب الله نومې ( چې د سقاو زوی په نامه شهرت لري) پاچاهۍ ته ورسيد.د اکثرو تاريخپوهانو په نظر د امير امان الله خان د ناکامی او زوال يو عمده علت د انګريزانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبليغات او تخريبي فعاليتونه وو،چې نه يې غوښتل په هند کې د آزادي غوښتونکو لپاره پياوړې پشتوانه او تکيه ګاه جوړه شي.انګريزانو له شوري اتحاد سره د اماني دولت د ښو مناسباتو ټينګول هم په خپله ګټه نه بلل.سره له دې د اماني رژيم اساسي علت دا و،چې په افغاني ټولنه کې د نفوذ خاوندان د ريفورمونو مخالف وو او افغاني ټولنه د سايکالوژۍ له مخې د اصلاحاتو منلو ته چا نه وه اماده کړې.( روهي،۱۳۸۴: ۸۲).

له دې خبرو داسې ښکاري،چې امير امان الله خان غوښتل هېواد يې ډېر ژر پرمختګ وکړي او ځان د نړۍ سره سيال کړي،خو د ځينو ناپوه خلکو لخوا له سختو ستونزو سره مخ شو او هغه ارمانونه يې له خاورو سره خاورې شول چې شپږ مياشتې د هغې لپاره در په در ګرځېدلی وو. د سقاو زوی يو بېسواده،جاهل ،لاره وهونکی او نا اهله انسان وو.که څه هم په ظاهره يې ټيپ د افغاني کلتور او فرهنګ سره برابر وو،خو دا وړتيا يې نه لرله چې د يو هېواد سياست دې وساتي او له مشکلاتو يې بهر کړي.د سقاو د زوی په اړه غبار په خپل ليکل شوي کتاب ( افغانستان در مسير تاريخ) کې ويلي دي،چې:( د سقاو زوی د يو کلي اداره نه شوه کولی پاتې،خو لا د يو مملکت اداره او نظم).

حبيب الله کلکاني ( د سقاو زوی) د خپلې پاچاهۍ په لومړۍ ورځ اعلان وکړ،چې د بيت الما ل پيسې به په تعميرونو او مدرسو نه مصرفوم او په لومړي ځل يې د پوهنې وزارات لغوه اعلان کړ او د ښوونځيو دروازې يې وتړلې.ده د څو اويا تنو ملايانو په لاسليک سره د امان الله خان د تکفير فتوا صادره کړه.د تفکير ځينې دلايل يې دا وو چې امان الله خان د پګړۍ پر ځای خولۍ رواج کړه،د ږيرې خرېيلو او دريشی اغوستلو رواج يې وهڅاوه،د ښځو ښوونځي يې پرانيستل،قمري مياشت يې په شمسي واړوله او داسې نور.

د ۱۹۲۹م کال د اکتوبر په ۱۰ ( ۱۳۰۸ ل کال) د ميزان ۲۳ نېټه د کورنۍ اړو دوړ په پای کې محمد نادر شاه پاچاهۍ ته ورسيد.محمد نادر شاه د تدريجي اصلاحاتو پلوی و او کوښښ يې وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له تیرو تجربو څخه په ګټې سره داسې زمینه برابره کړي چې په آرامۍ سره حکومت وکړي.د ده لومړی کار دا و چې راډیکال مخالفان له صحنې لرېې کړي او د طبقاتي یا صنفي اتحاد له لارې د سوداګرانو ،متنفذو روحانیونو،دیني عالمانو او اعتدال خوښوونکو روشنفکرانو ملاتړ تر لاسه کړي.د همدغه داخلي سیاست په ادامه کې یې خارجي سیاست هم داسې عیار کړ چې د پردیو د لاس وهنې لپاره بهانه برابره نه کړي،د بیطرفۍ او له ټولو هیوادو سره برابرۍ،د مناسباتو د ټینګولو تګلارې ته یې د (۱۹۳۱ م) کال په اساسي قانون کې قانوني بڼه ورکړه.

محمد نادر شاه د دغه فارمول په اساس چې (( سره ټول یې کړه کنټرول یې کړه)) خپل احتمالي پلویان په بېلابېلو ګروپونو کې تنظیم کړل.سوداګران یې دې ته وهڅول چې شرکتونه جوړ کړي او د فابریکو په جوړلو کې ونډه واخلي. دشلمې پیړۍ په دیرشمو کلونو کې پنځلس لوی شرکتونه جوړل شول.په (۱۹۳۲م) کې د ( افغان ملي بانک) پرانیستل شو،چې په هغه کې په سلو کې (۹٤) سلنه پانګې په ملي سوداګرو پورې اړه درلوده.د روحانیونو او دیني علماوو د رضایت د جلبولو لپاره یې یو لړ اقدامات تر سره کړل.د زادو دیني مدرسو جوړلو ته یې اجازه ورکړه،شرعي محکمو ته یې په کافي اندازه آزادي ورکړه،پر خپلو دولتي قوانینو باندې یې د شرعي مهر لګولو لپاره ( جمعیت العلما) تاسیس کړ،یو شمیر دیني عالمان په ښوونځیو کې په تدریس لګیا شول.د رسوخ خاوندان لکه روحاني شخصیتونه،ستر ملکان او د سوداګرو د طبقې نماینده ګان یې د ملي شورا مجلس ته جذب کړل.اعتدال خوښوونکي روښانفکران او د ( جوانان افغان) د ډلې پاتې کسان یې په ادبي او فرهنګي مؤسسو کې مقرر کړل.په کابل،کندهار او هرات کې ادبي انجمنونه جوړل شول.په (۱۳۱۱ل) کې په کندهار کې د پښتو انجمن په جوړیدلو سره د (پښتو) مجلې په خپریدلو پیل وکړ.( روهي،۱۳۸۴: ۸۴).

محمد نادر شاه دا ټول کارونه په ډېر احتیاط او هنر سره ترسره کړل او د خپل واک د ساتلو لپاره یې له داسې لارو چارو کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخيســـت چې ټول خلک يې هم ارام کړل او هم يې پرې خپله پاچاهي ومنله.که چېرته محمد نادر شاه دا کار نه وای کړای د دې خبرې امکان لرې نه وو چې د نوموړي په خلاف دې هم بغاوت وشـــي.ملايان يې په ښــونځيو کې مقرر کړل،ملکانو ته يې په کورنو کې معاشـــونه حواله کړل او د هرې طبقې لپاره يې د کار زمينه برابره کړه او له ټولو يې کار واخيست په همدې اساس يې خپل واک وکړ.د نادر شاه بل مهم کار چې دی يې د خـارجي لانجو خلاص کړ د ټولو هېوادونو ســـره بې طرفانه اړيکې وې او هيڅ هېواد ته کومه بهانه نه وه پاتې چې د محمد نادر شـــاه په خلاف تر يوه وخته مخالفتونه وپاروي،دا ټول دلايل د دې لامل شــو چې محمد نادر شــاه خپله واکمني وکړي. کله،چې محمد نادر شــاه مړ شــو په دې تور يې عبدالهادي داوي هم بندي کړ . د محمد نادر شاه د شهادت نه وروسته د هغه زوی محمد ظاهر شاه پاچا شو.

محمد ظاهر شاه په ۱۹۳۳ م کال ( ۱۳۱۲ ل د عقرب ۱٦) کې پاچاهۍ ته ورسيد.ظاهر شاه د خپل پلار لاره تعقيب کړه او هغه څه يې وکړل،چې محمد نادر شاه کول.د ظاهرشاه د سلطنت په دوره کې ځينو نړيوالو پيښـــو پر افغاني فرهنګ په تيره پښـــتو ادبياتو خپل ســـيوری واچو.د المان له نيشـنليزم،د هند د نيمې وچې ويش او د ګاونډۍ هيواد شـوروي اتحاد د کمونيسـتي ايډيالوجی له تبليغ څخه عبارت دي.په دغه وخت کې په افغانسـتان کې يو معتدل نيشـنليزم مينځ ته راغی،چې عمده مضـــمون يې ملت پالنه ،د تاريخي مواريثو او عنعنو درناوی،حماســـي ادب،پر ځان ويســا او ملي غرور و.د هند د نيمې وچې د ويش په وخت کې داســـې مفکوره پياوړې شـــوه چې د ډيورنډ د تحميلي کرښـــې په واسـطه له افغانسـتان نه بيله شـوې برخه دې بيرته له خپل پلرني هېواد سـره يو ځای شـي.هغه ريفرنډم چې د هند په نيمه وچه کې د انګريزانو له خوا ترسره شو د افغانانو د منلو وړ نه و.

د ظاهر شـاه د سـلطنت په دويمه لسـيزه کې پښـتو ادب له يوې خوا د پښـــتو ژبې د تعميم او پياوړتيا له جريان ســـره او له بلې خوا په هيواد کې د دموکراسـۍ او ريفورم غوښتنې له نهضـت سره په ملګرتيا کې ډېر ژر نوي پړاو ته داخل شـــو،چې مونږ يې د و(ويښـــتيا پړاو )

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولو.د ويښـــتيا پړاو تر زياته د ويښ ځلميانو د غورځنګ ســـره اړه لري.د پښتو ژبې تقريباً ټول نامتو او تکړه ليکوالان او شاعران په دغه غورځنګ کې شامل وو،نو د همدې امله د ويښتيا پړاو اکثر شعرونه او ليکنې اجتماعي- سياسـي رنګ لري.د ويښ ځلميانو په مرام نامه کې د ( پښـــتو ژبې له ترقي ورکول) فقره هم شـــامله وه.د ويښـــتيا پړاو ادبي مـيـتـود انـتـقـادي ريـالـيـزم و،چـې پـه عـمـده تـوګـه د اداري فسـاد،بيروکراسـی،اختناق،اتوکراسـي،ارتجاع،ظلم او اسـتثمار پر ضـد مبارزه پکې منعکسـه شـوې ده.همدارنګه د دغې دورې په ادبياتو کې د پښـتنو او بلوڅو د ملي ازادي بخښـوونکي نهضـت د ښـځو دموکراتيک حقوقو،ټولنيزو ،سياسي ريفورمونو،د اقتصادي حالت د ښه والي لپاره مبارزه د يادونې وړ ده.په ويښـتيا پړاو کې د شـعر،لنډې کيسـې،ادبي ټوټې،ډرامې،طنز او ادبي مقـالو پـه ببلابېلو ژانرونو کې پرمختـګ وکړ.( روهي،۱۳۸۴ :۸۷ ).

د وښيتيا په ادبياتو کې د فورم له پلوه د روښانيتا پړاو په نسبت ويښـــتيا پړاو ډېر پرمختګ وکړ. په دغه وخت کې هنر د هنر لپاره مفکوره وغندل شـوه.په عمومي توګه ويلی شـو،چې د پښـتو معاصـر ادب له رياليزم نه پرته بل ادبي مېتود چنداني نه پيژني او علت يې دا دی چې رياليزم پيچلې تکنيک نه لري.ويښـتيا پړاو د پښـتو ادب د ودې او پرمختګ لپاره يو ښه عامل بللی شو.

د ويښـتيا پړاو ليکوال حماسـي ادب ته پاملرنه کوي او حماسـي ادب ته پر غنايي ادب ترجيح ورکوي.محمد صديق روهي ليکي،چې په دغه وخت کې په عمومي ډول ادبيات د ريفورم له حدوده چندان تيری نه کوي.په دغه وخت ادب کې دنيشـــنليزم څرک له ورايه ښـــکاري. په دغه پړاو کې د څېړونکو،کره کتونکو،ليکوالو او شـــاعرانو شـمير ډېر زيات دی،چې دلته يې يوازې نومونه اخلو او په نومو يې بســـنه کوو.( باجوړی ،۱۳۹۷ : ۱۸)

د ويښـــتيا پړاو د ليکوالو او شـــاعرانو نومونه عبارت دي له: عبدالحی حبيبي،ګل پاچا الفت،قيام الدين خادم،عبدالروف بېنوا،صـــديق الله رښـــتين،عبدالشـــکور رشـــاد،نور محمد تره کی،ســيد شـــمس الدين

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجروح او عبدالرحمن پژواک،چې دا د ویښـتیا پړاو د پیل کسـان دي همدارنګه د ورسـتي پیر لیکوال او شـاعران يې عبارت دي له: موسـی شـفیق،سـلیمان لایق،سـید بهاودین مجروح،محمد صـدیق روهي،عبدالله بختانی خدمتګار،عبدالله غمخور،دوسـت شـینواری،سـعدالدین شـپون،محمد صـدیق پسـرلی، مجاور احمد زیار،عبدالروف قتیل خوږیانی، نصـرالله حافظ،امان الله سـیلاب،حبیب الله رفیع،عبدالمنان ملګری او عبدالباري جهاني.دا هغه لیکوال او شـاعران دي،چې د ویښتیا پړاو په پرمختګ کې یې ډېره ونډه لرله او پښتو ادب ته یې ډېر څه په میراث پرېښودل.( باجوړی ،۱۳۹۷ : ۲۵).

په ویښـتیا پړاو کې نظم او نثر دواړه پرمختګ کوي او په لره او بره پښـتونخوا کې په دې وخت کې پرمختګونه کوي.په نثر کې لنډه کیسه،ناول،ادبي ټوټه،طنز،ډرامه او نورې برخې پرمختګ ته رسیږي همدارنګه په شـعر کې ازاد نظم،غزل او د شـعر نور فورمونه هم وده او پرمختګ کوي.

**اوښتون پړاو**

معاصـره دوره یو بل پړاو هم لري،چې د اوښـتون پړاو دی.د ویښتیا پړاو په ادبیاتو کې د کیڼ اړخ روښانفکرانو ځینې داسې غوښتنې او ارمانونه هم انګازې کړي دي،چې ریفورمیزم له سرحد نه اوړي او د هغو په عقیده یوازې د ملي دموکراتیک انقلاب په بریالیتوب سـره تحقق موندلی شـي.د انقلابي افکارو په وده او چټکتیا کې کورنیو او بهرنیو عواملو لاس سره ورکړی و.په هېواد کې دننه دولتي واکمنانو د اوسني حالت د ساتنې لپاره کار کاوه او د تحول څخه په ویره کې وو.په (۱۹۵۵م) کې د افغان – شوروي تړون هم د افغانستان په اقتصادي او فرهنګي ژوند کې د تحول راوسـتلو لپاره زمینه برابره کړه.د محمد داود خان د صدارت په دوره کې د پښتنو او بلوڅو د خپلواکۍ یا داخلي ازادۍ له نهضـت څخه د جلا کېدو په نتیجه کې د افغاني حکومت مناسـبات لـه پاکسـتان او د هغـه لـه متحدینو ( امریکې متحده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايـالتونو،ايران،عربي هېوادونو او لويـديځې اروپـا) ســـره پـه عـادي ديپلوماتيکه سـطحه کې پاتې شــوي وو او لـه شــوروي اتحاد ســره يې دوستانه اړيکې ټينګې کړې وې.له همدې وخت نه وروسته افغانستان د شوروي د نفوذ په ساحه کې واقع شو.

د ۱۹٦۳ م کال په مارچ کې د محمد داود خان په استعفاء سره يو ځل بيا د تحول غوښــــتونکو ځواکونو لپاره د خپل غږ د پورته کولو فضا مساعده شوه.په ۱۹٦٤م کې نوی اساسي قانون نافذ شو،چې د فکر او عقيدې د بيانولو،د اعتصاب او مظاهرې کولو او د سياسي ګوندونو جوړولو ته يې اجازه ورکوله.که څه هم ســـازمانونه جوړ شـــول.د ۱۹٦٥م کال د جنوری په لومړی نېټه د افغانســتان د خلک دموکراتيک ګوند لومړنی مؤسسه کنګره په کابل کې دايره شوه.د افغانستان د خلک دموکراتيـک ګونـد نشــــراتي اورګـانونو د خلق او پرچم جريـدو پـه سيستماتيک ډول د اوښتون د پړاو ادبياتو په ترويج او دودولو پيل وکړ او د انتقادي رياليزم د ادبي ميتود په څنګ کې سوسياليستي رياليزم هم تيغونه ووهل.د يادونې وړ ده،چې د اوښـــتون پړاو زړي لا پخوا کرل شــوي وو.د نور محمد تره کي (د بنګ مســافری) او نورو کيســو ډېر لوسـتونکي درلودل او د سـليمان لايق ( د چونغر ترانې) د انقلابي نظم لومړنی زمزمې وې،چې په ظاهر شـاهي دوره کې د خلکو غوږونو ته رسيدلې وې.

د اوښتون پړاو ادب چې د کارګرې طبقې او زيار ايستونکو د ايډيالوجی انګازه کوونکی و.د ۱۳٥۷ ل کال د ثور د اوومې نيټې له پېښـــې څخه وروســـته په رســـمي او دولتي ادب بدل شـــو.دغه وخت د شـعرونو،کيســو،کره کتنو او ادبي څېړنو محوري مفکوره د فيوډياليزم او امپرياليزم پر ضد او د ټولنيز عدالت،ترقی،سولې لپاره مبارزه وه.په همدغه وخت کې د ليکوالو اتحاديه جوړه شـوه او هغه خلک،چې د علم مخالفت يې کولو هېواد پريښـودلو او يا بندي کېدلو ته اړل شـو.د ثور له پېښې وروسته اکثر شعرونه د شعارونو بڼه خپله کړه او انقلابي ترانې د شـعر اصـلي مضـمون شو.د داسـتانونو محتوا هم د خان خانی سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزې لپاره وقف شـوه.د ادبي کره کتنو محفلونه او سـيمينارونه جوړ شو.( روهي،۱۳۸۴ :۱۵۴).

په اوښـتون پړاو کې د غزل ژانر په نوي بنه بدل شـو.رباعي د نوي مفکورو لپاره اسـتخدام شـوه او د مثنوي لمن هم پراخه شـوه.لنډه کیسـه دود شوه.په دې وخت کې یو شـمېر کیسـې او ناولونه هم وژباړل شول.ژباړو ته مخه شوه او له نورو ژبو ژباړې وشوې.د اوښتون پړاو وروســـتی مرحله کې د ادب په برخه کې ډېر پرمختګ وشـــو.خلکو غوښـتل نوي شـیان واوري او له نوي ادبي ژانرو سره مخ شـي،چې دا کار د اوښـتون پړاو په ورستی مرحله کې وشـو.په هېواد کې یو شـمېر فرهنګي ټولنې جوړې شــوې،چې په دغوټولنو کې به فرهنګي غونډې او مشـاعرې کېدلې .د فرهنګ او ادب په پرمختګ کې د دغوټولنو سـتره ونډه لرله.هغه شــاعران او لیکوال،چې د ویښــتیا پړاو په ورســتیو کې رامنځ ته شـوي وو په اوښـتون پړاو کې اوج ته ورسـیدل او دلته یې د پښـــتو ادب د پرمختـګ او ودې لپـاره د زړه لـه اخلاصــــه کـارونـه وکړل.دلته یوازې د دې پړاو د شـــاعرانو او لیکوالو نومونو ته اشـــاره کوو.

اوښتون پړاو کې دغه شاعران او لیکوالان لکه: سلیمان لایق،نصرالله حافظ،مجاور احمد زیار،حبیب الله زړه ســـواند،عبدالله بختانی،ابراهیم عطایي،دوســـت شـینواری ،عبدالروف قتیل خوږیانی،بریالی باجوړی، لال پـاچـا ازمون،محمـد رفیق،صــــابر خویشـــکی،زرغونـه زیور ربنـتین،زیورالدین زیور، محمد اسـماعیل یون او داسـې نور لیکوال او شاعران یادولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## تمثيلي ټوټه

د تمثيلي ټوټې د پېژندنې په اړه مختلفو ليکوالو خپل نظرونه او اندونه وړاندې کړي دي،چې دلته به د موضوع د ښه وضاحت او تحليل لپاره د مختلفو ليکوالو اندونه او نظرونه راوړو او په هر يو به يې بيل بيل بحث وکړو.

(( په فرهنگ فارسی معين)) کې د تمثيلي ټوټې يا ننداريک د پېژندنې په اړه وايي: ( تمثيلي ټوټه هغه ليکنه ده،چې په ننداره‌ځای يا تيايتر کې د لوبولو لپاره ليکل کېږي،هنر مندان د هغې له مخې خبرې کوي او د هغې له مخې خپل حرکتونه تنظيموي.(معين ،۱۳۸۲ : ۴۸۱).

پورتني تعريف يا پېژندنې ته که وکتل شي،داسې څرگندېږي،چې هره ليکنه چې په تياتر کې ولوستل شي هغه تمثيلي ټوټه ده.دلته بايد يوې خبرې ته پام وشي او هغه دا،چې هغه ليکنه،چې د تمثيلي ټوټې په شکل وليکل شي او بيا ننداري يا تمثيل ته وړاندې شي تمثيلي ټوټه يا ننداريک ورته ويل کېږي.که چېرته موخه هره ليکنه وي او په تياتر يا ننداره‌ځای کې وړاندې شي،نو دا بيا پراخ مفهوم څرگندوي،چې د تمثلي ټوټې له بريده اوځي او هره ليکنه تمثلي ټوټه يا ننداريک نه شي کېدای.

په يوه بله پېژندنه کې چې ( فرهنگ عميد) يې کوي داسې وايي: ( هغه ليکنه،چې په هغې کې يوه کيسه په تياتر کې د لوبولو لپاره تنظيم شوي وي،لوبغاړي د هغې ليکنې له مخې خبرې وکړي او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقش ولوبوي،تمثيلي ټوټه يا نندارليک ورته ويل کېږي.( حسن ،١٣٨٢ : ٩٠٣).

د غه تعريف او پېژ ندنه هم نيمګړې ښـــکاري ځکه چې هره تمثيلي ټوټه يوه پوره کېســـه نشـــي کيدالی،پورته تعريف کې وايي چې )(هغه ليکنه چې په هغې کې يوه کيسه په تياتر وړاندې شي).دلته پورته تعريف ته که وکتل شـي،کېسـې ځخه موخه معلومه نه ده،چې کوم ډول کيســه ، لنډه کېســه،ناول او که د فلم کيســه،نو ويلی شــو،چې په پورته پېژندنه کې هم پوره وضاحت نه دی ورکړل شوای.

د نثري ادب ډولونو اثر ليکوال،چې په خپل اثر کې د تمثيلي ټوټې د پېژندلو په اړه يې مختلف نظرونه راوړي دلته يې دښې پېژندنې لپـاره د څو يـادونې کوو:پـه يوه پژنـدنـه کې وايي چې( تمثيلي ټوټـه يـا نندارليک هغه ليکنه ده،چې د هغو لوبغاړو د حالاتو،کړو وړو او وينا يا خبرو اترو د انځورولو لپاره ،چې د تياتر يا په صـــحنو کې نقش په غاړه لري ،ليکل کېږي او لوبغاړي د هغې له مخې د نندارې او نمايش پـه بهير کې خپلې خبرې اترې او حرکتونـه تنظيم او وړانـدې کوي. پورتنی تعريف تر يوه حده ســم او منظم ښــودلی شــو دی.( هاشمي ،١٣٩۴ : ۴٠٨).

**د تمثيلي ټوټې تاريخچه**

د ځېړنې په دې برخه کې به د تمثيلي ټوټې په تاريخي بهير لنډ بحث او ځېړنه وکړو او وبه ګورو،چې تمثيلي ټوټه کله او څنګه پيل شـــوه.کلـه،چې د تمثيلي ټوټې پـه اړه بحـث او خبرې کېږي،نو ويلی شـو،چې تمثيل د انسـان د ژوند سـره سـم پيل کېږي.حبيب الله رفيع بيا تمثيل هماغه د هابيل او قابيل له کېســـې څخه ګڼه او وايي،چې ( کله قابيل د هابيل د وژلو تکل او بيا هغه په عمل کې پلی کوي او بيا يې د کارغانو په تقليد يا تمثيل پيروی هغه خاورو ته وســـپاره) دا خپله يو تمثيل ؤ.( هاشمي ،١٣٩۴: ١۴٠).

همدارنګه د ډرامې يا تمثيل د نوم په اوريدو سره مو ذهن ته يونان راځي او په اړه يې مختلف نظرونه وړاندې شوي .ويل کېږي،چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړي ځل لپاره په يونان کې د ( اسکايي لس) نومې کس د ( THESUPPLIANT) يې يوه ډرامه وليکله او د يونان په ښار (اتن) ښار کې د سټيج پرمخ وړاندې شوه.
( رضا،۱۹۵۵ : ۱۲۶ ).

که څه هم دا لومړنی ډرامه ياده شوې ده،خو دا په اصل کې لومړنۍ تمثيلي ټوټه ده ځکه،چې د تمثيلي ټوټې په تعريف کې يوه خبره دا هم ده،چې د ستيج يا دريځ مخې ته د خلکو په وړاندې د په ژوندۍ بڼه وړاندې کيږي،نو ويلی شو،چې همدا لومړنی تمثيلي ټوټه ده.لومړني خلک،چې د تياتر،ډرامې او تمثيلي ټوټې بنسټ يې ايښی هغه د يونان خلک دي،چې هغوی ته به يې ( توريوم) وايه.د لومړي ځل لپاره يو ناني چې( فرينکوس) نومېده په تياتر کې بدلون رامنځ ته کړ او دا بدلون داسې پرمخ لاړ،چې د اميرانو،واکمنو او مشهورو شخصيتونو د ژوند تاريخ يې ننداري ته وړاندې کړ،چې دا کار يې د تمثيلي ټوټو په شکل وړاندې کولو.تر ميلاد دمخه په ۴۷۶ کال کې د فنقي ښځو په نامه يوه تمثيلي ټوټه ننداري ته وړاندې شوه،چې خلک يې راوپارول او په دې وپوهېدل،چې ننداره يا تمثيلي ټوټه يوازې مذهبي رنګ او اړخ نلري،بلکې د ژوند نورې برخې هم تمثيلولوی شي.دا ننداره يا تمثيلي ټوټه د د (( آشيلوس)) په نامه يو شاعر وړاندې کړه،چې ارسطو يې هم يادونه کړې ده.( پټيال ،۱۳۸۳ : ۴۷).

له يونان څخه وروسته بيا د نړۍ نورو برخو ته ننداريليک يا تمثيلي ټوټې مخه وکړه،چې لرغوني ښېلګې يې په روم،مصر،هند ،چين او.... کې ليدلی شو،چې په دغه هېوادونو کې يې بيا نور هم پرمختګ وکړ او د ژوند هرې برخې ته يې تياتر يا تمثيلي ټوټه ورداخله کړه.که څه هم په لومړيو کې ننداري يا تمثيلي ټوټې يوازې مذهبي رنګ درلود،خو د وخت په تېرېدو سره يې دومره وده او پرمختګ وکړ،چې د خلکو ناوړه کارونه او ناولې څېرې د همدې تمثيلي ټوټو په مرسته خلکو ته رسواشوې.په مصر کې له ميلاد څخه دوه زره کاله دمخه د ( ايبي ډوس) په نامه ننداره د وخت پاچا يا واکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



( اوسـي ډوس) د مړينې په وخت ننداري ته وړاندې شـوه.( هاشـمي ۱۳۹۴، ۱۴۱).

په لرغوني هند کې هم ننداره يا تمثيلي ټوټه لرغونی تاريخ لري او کابو دوزره کاله پخوا ( عالم بهرتا) په نوم يو کتاب وليکل شـو او پـه دې لړ کې د ( کـاليـداس) نوم هم د يـادونـې وړ دی،چې پـه سـانسـکريټ ژبه يې د ( شـکنتلا) په نامه ننداره يا تمثيلي ټوټه وړاندې کړه.په لرغونې اريانا کې هم تمثيل يا ننداره لرغونی تاريخ لري ،دلته بـه تمثيل د نڅا،اکټونو او نخرو پـه ډول پـه ميلو،رسـمونو او نمانځ غونډوکې تر سـره کېدل.بـه مثال يې د ويدي او اويسـتايي سـرودونه دي،چې زرګونه کلونه پخوا وړاندې شـوي دي.همدارنګه د (سـوما) د ګل د راټولو په وخت کې،چې کومې مېلې جوړېدې هلته به هم خلکو د نڅا او تمثيل پـه ډول خلکو تـه ننداري وړانـدېـک کولې.( هـاشـمي ۱۳۹۳، ۹۹).

د حبيب الله رفيع په وينا په لرغوني اريانا کې داسـې دودونه او نـنـدارې يـا تمثيلي ټوټې وې،چې د ننۍ ډرامې پيلامـه يې ګڼلی شـو.(سـامانه ) يوه لرغونې ميله وه،چې په هغې کې به نجونو او زلمو ګډې ننداري يا تمثيلي ټوټې وړاندې کولې.( رفيع،۱۳۶۰: ۹۷).

همدارنګه په اروپا کې که څه هم په لومړيو کې کليسا تمثيل او ډرامې ته سخت ګوزارونه ورکړل او دا هنر يې د شيطاني هنر په نامه ياد کړ،خو د رنسانس دورې په پيل سره ننداري يا تمثيل هم نوی ژوند پيدا کړ او د پرمختګ پړاونه يې ووهل.په اروپا کې په ۱۳م پېړۍ کې دانته ( څښتن کوميډي) ډرامې په ليکلو سره کليسا ولړزوله او د همدې ننداري په وړاندې کولو سره يې په خلکو کې شعور پيدا کړ،خو د کليسا تر اغېز لاندې رانشـــي.همدرانګه په اروپا کې د شـــکســـپير نوم هم د يادونې وړ دی،چې ډېرې تمثيلي ټوټې او ډرامې يې خپلو خلکو ته په ميراث پرېښـي دي،چې بيا يې د ډرامې د پلار لقب هم وګټلو.په فرانسـه کې مولر د يادونې وړ دی،چې د خپل وخت د ناخوالو او سـتونز په اړه يې تمثيلي ټوټې او نـنـدارې وړانـدې کړې.تمثيـل د ژونـد هغـه برخـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده،چې د انسان سره سمه روانه ده.تمثيلي ټوټې يا ننداري په ټوله نړۍ وزر خور کړ او د ژوند هره برخه يې په خپله غېږ کې ونيوله.
تمثيل يا ننداره په اوس وخت کې دې حد او مقام ته ورسېده،چې په ۱۹۴۶م کې د يونسکو نړۍ والې فرهنګي اداري د ننداري يا تمثيل نړۍ وال مرکز د جوړلو تکل وکړ،چې د همدغه هنر دري تنه پياوړي ليکوال او هنروال : فرانسامورياک،جان پريستلي او اشيباله يې وګومارل،چې د ننداري يا تمثيل د نړۍ وال مرکز د جوړولو په باب غور وکړي او همغه وو،چې په ۱۹۴۷ م کال يوې بلې ډلې غونډه وکړه او په دې اړه يې بحثونه وړاندې کړل،چې په پاى کې د تمثيل يا ننداري نړۍ وال مرکز په ۱۹۴۸ م کې د نړۍ والې ننداري يا تمثيلي ټوټې پروګرام اعلان کړ او دا مرکز د ( ننداري يا تمثيل نړۍ وال مرکز) په نامه ونومول شو.د دې مرکز غړي ۵۵ هېوادونه دي او اصلي ځاى يې په پاريس کې دى،چې له ۱۹۶۱ م کال څخه يې يوه ورځ د ( تياتر يا تمثيل ورځ) په نامه په ټوله نړۍ کې هر کال لمانځل کېږي.(هېوادمل ،۱۳۶۵ : ۱۴۴).
د دې بحث د پايلې په توګه ويلى شو،چې تمثيل يا ننداره د تاريخ اوږد مزل کړى او سخت پړاونه يې تير کړي دي،ورځ تر بلې په کې نوې پېښې او پرمختګونه رامنځ ته کېږي.تمثيل يا نندراه په ټوله نړۍ کې پرمخ روانه ده او د نړۍ تر پايې به خپل اخر منزل ته رسيږي.

**په پښتو ادب کې د تمثيلي ټوټې بهير**

مخکې له دې،چې په پښتو ادب کې د تمثيلي ټوټې يا ننداري په تاريخي بهير بحث وکړو،لازمه ده د تياتر د پېژندنې په اړه چې له نندارليک يا تمثيلي ټوټې سره ډېرې نږدې اړيکې لري او يو له بله پرته نشي مطرح کېداى لنډ بحث پرې وکړو.
**تياتر:** د تياتر لغوي معنا (( پښتو – پښتو تشريحي قاموس)) د تماشې ځاى،ننداره،د تماشې د ښودلو ځاى راخيستى او په ادبي اصطلاحي پېژندنه کې يې داسې ليکي: تياتر هغه ځاى دى،چې د لوبغاړو په وسيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننداري،نمایشـنامې یا تمثیلي ټوټې په کې اجراء کېږي.(پښـتو- پښـتو سـنید ۱۳۸۳، ۷۷۰ : ).

د (نړۍ وال ادبیات) اثر نومې لیکوال پوهندوی جانس خان زړن په خپل کتاب کې د تیاتر په اړه لیکلي چې ( د اتن تیاتر درې طبقې او (۷۸) قطاره درلودل،چې له (۱۴۰۰۰) څخه تر ( ۱۷۰۰۰م) پورې ننداره چیانو بـه ننداره کولـه.پـه لومړي قطـار کـې ( ۷۶) چوکۍ د ننـدارچیـانو لپـاره ایښودل شوې وې.)( زړن ،۱۳۹۳: ۵۱ ).

د تیاتر د لرغونتیا په اړه ویل کېږي،چې لومړی بنســـټ یې یونانیانو کېښــود، لومړنـي خلک چې تمثیل ته یې مخه کړې وه هغه د زاړه یونان خلک وو.په زاړه یونان کې هغه خلک چې تمثیل یې لیکه یـا یې پـه کې کردار ادا کولو هغوی تـه بـه یې ( توریوم) وایـه.دا،چې زمونږ د بخث دا برخه پښـتو ادب کې د تمثیلي ټوټې یا ننداري تاریخي بهیر دی،نو ځکه په پښـــتو ادب کې یې په تاریخي بهیر بحث او څېړنه کوو.

په اوسـني افغانسـتان کې د لومړي ځل لپاره د امیر شـیرعلي خان په دربار کې د فقیر احمد په نوم یو شــخص و چې پاچا د ( مجلس آرا) لقب هم ورکړی و.نوموړي بـه ځینې تـاریخي پېښـــې لـه رزمي شـــعرونو ســـره یو ځای د امیر په وړاندې په نندارېزه یا تمثیلي بڼه ویلې.همدارنګه د اعلیحضــرت امان الله خان د واکمنۍ په لومړیو کې تمثیل پیل وکړ.نوموړي په ۱۳۰۰ لمریز کال په پغمان کې د تیاتر په نامه ودانۍ هم جوړه کړه چې په هغې کې به تمثیلونه ( ننداري) وړاندې کېدلې.په همدې ودانۍ کې پـه ۱۳۰۲ لمریز کې د هېواد د خپلواکۍ د ترلاسـه کولو په جشن کې د ( شـهزاده جوا) په نامه ژباړل شوی تمثیل وړانـدې شـــو چې پـه دې تمثیـل کې لوبغـاړي ( عبـدالعزیز ناصري،نورمحمد،علي محمد،سرور صبا،حسن جان،محمد اکرام،میر محمد، کـاظم هـاشـــمي،ســـید عبدالله،مولوي غلام محمد،محمد فرخ افندي،قاري دوست محمد او محمد اکبر ضیاء ) لوبېدلي وو.

د یاد تمثیل ژباړونکي او ترتیب کوونکي محمود طرزی،فیض محمد ،ذکریا او صـــلاح الدین ســـلجوقي وو چې امان الله خان یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننداري ته ناست وو. په دې وخت کې ځيني تمثلونه وړاندې شو لکه ( فتح ټل،بچه نازدانه، حاکم ظالم، مادر وطن...) د تمثيلي ټوټو دغه ګرم بازار تر ۱۳۰۷ لمريز پورې روان وو،خو د کورنی جګړو له امله سقوط سره مخ شو.دا بهير تر ۱۳۲۰ لمريز پورې ډېر سست روان و خو د ۱۳۲۰ لمريز نه وروسته چې کله سردار محمد نعيم خان د معارف وزير و يو شمېر فرهنګيانو تمثيل ته بيا مخه کړه.همدارنګه کله چې صلاح الدين سلجوقي د مطبوعاتو مسؤول و د کابل د (پوهني نندارې) بنسټ هم کېښودل شو چې د همدې امله افغانستان کې تمثيل وده وکړه او په ښوونځيو کې يې هم رواج وموند.په ۱۳۲۸ لمريز کې د کابل ښاروالی په چوکاټ کې د ( روحي روزنه يا شهري ننداري) په نوم يو تياتر په فعاليت پيل وکړ.مرستون ننداري يا تمثيلونه هم په همدې کلونو کې مينځته راغلي دي.( ۵۲ : ۴۱۷).

د هېواد په مختلفو ولايتونو لکه په ننګرهار کې په ۱۳۳۶ لمريز په پروان کې په ۱۳۴۶ لمريز او پلخمري کې په ۱۳۳۷ لمريز کې تياتر جوړ او تمثيلي ټوټې په کې د خلکو په وړاندې ترسره شوې.په دغه ولايتونو کې مختلفې تمثيلي ټوټې يا نندارې په مختلفو موضوعاتو کې جوړيدلې او د خلکو په وړاندې نمايش کېدلې.په ۱۹۶۶ م کې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په چوکاټ کې د پښتو تياتر د تاسيس سره سم پښتو تمثيلي ټوټې جوړې او خلکو ته وړاندې شوې.د دې ترڅنګ د کابل راډيو په چوکاټ کې د ډرام او ډيالوګ رياست په مرسته په افغانستان کې د تمثيلي ټوټو او ننداړو هنر وده وکړه او پرمختګ ته يې مخه کړه.د ثور د کودتا وورسته هم تمثيل يا نندارې د خلکو د پام وړ وه،خو د مجاهدينو او طالبانو د راتګ سره سم تمثيل له هېواده کډه وکړه او له رکود او زاوال سره مخ شو.

په کوزه پښتونخوا کې د لومړي ځل لپاره عبدالاکبر خان اکبر د پرنګي ښکيلاکګر په خلاف تمثيلي ټوټه وليکله،چې دا تمثيلي ټوټه د اتمانزو په ښوونځي کې د زده کوونکو په مرسته وړاندې شوه.په دغې تمثيلي ټوټه کې د وخت د انګريز خلاف انتقاد شوی وو.ياده تمثيلي ټوټه ( ډرامه) په کال ۱۹۲۷ م کې وليکل شوه او د (دري

(c) ketabton.com: The Digital Library



یتیمان) په نامه وه.له دې تمثیلي ټوټې یا ډرامې وروسته په لره پښتونخوا کې په ډېرې چټکۍ سره حرکت وکړ او په هر ځای کې د ستیج پر سر تمثیل کولې.د دې ډرامې لوبغاړو یا اداکارانو په ډله کې نویالی شاعر خان عبدالغني خان او خان عبدالولي خان هم شامل وو.ځینو د دې ډرامې یا تمثیلي ټوټې کال ۱۹۲۴م ښودلی.( اعظم ۱۹۹۹، : ۴۰۱ ).

په کال (۱۹۲۸م) کې قاضي رحیم الله خان د ( نوې روشني) په نامه یوه ننداره یا تمثیلي ټوټه ولیکله،چې بیا همدا تمثیلي ټوټه یا ډرامه غازي امان الله خان کابل ته وغوښته او دلته یې په تیاتر کې ننداري ته وړاندې شوه. دهغه وخت ډېرې تمثیلي ټوټې او ننداري د پرنګي ښکیلاک (سامراج) په ضد وې اوپرنګیان هم په دې پوه شوي وو .نوکله به چې کومه تمثیلي ټوټه یا ډرامه ستیج شوه نودخاورې اووطن دښمنان به ورته متوجې وو .اوداخوښکاره خبره وه چې په ډېرو ډرامو یا نندارو کې به دوطن دمینې رنګ پروت وو .اوهم پرنګیانو په خلاف روحیه په زرغرده سره په کې په ډاګه شوې وه.دپښتو تمثیلي ټوټو اونمایشنامو لیکنه دخدایي خدمتګار له تحریک سره یوځای پیل شوه لکه چې دمخه موووېل لومړنۍ ډرامه یا ننداره په کال(۱۹۲۷ م )کې ولیکل شوه.په افعانستان کې په( ۱۲۹۹ه ش) کال کې دعلیحضرت امان الله خان په سلطنت کې ځنې وړې وړې تمثیلي ټوټې (پرچې ) دښوونې اوروزنې په چوکاټ کې دپوهنې شاګردانوله خوا ننداري ته وړاندې شوي .( نیازی ،۱۳۷۰ : ۶۱ ).

**د تمثیلي ټوټې پیژندنه**

د تمثیلي ټوټې یا نندارلیک د پیژندنې په اړه مختلف نظرونه او اندونه وړاندې شوي،چې د موضوع په دې برخه کې به یې په هر تعریف او نظر یو ځغلنده نظر تیرکړو او په پای کې به یې د پیژندنې نچوړ وړاندې کړو.پښتو- پښتو سیند کې د تمثیل لغوي معنی داسې کړې: تمثیل مثال راوړل،د یو شي شکل مجسمونه،ډرامه ښودنه،نمایش ښودنه.( پښتو-پښتو سیند ،۱۳۸۹ : ۲۹۷ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (( ادبيات فارسـي)) نومې کتاب ليکوال د تمثيلي ټوټې په اړه داسې ويلي دي: ( ننداړليک د کيسې يو ډول دی،خو له هغې سره دوه توپيره لري. يو دا،چې په څو ثابتو صحنو کې د ښودنې او ننداړې وړ وي.بل دا چې ټولې پېښې د ښودنې وړ وي،د بېلګې په توګه که د کېسې د اتل افکار او تصورات د ننداړې وړ نه وي بايد ونه ليکل شي.( هاشمي ۱۳۹۴، ۴۰۹ ).

په پورته تعريف کې ويل شوي دي،چې په څو ثابتو صحنو کې بايد تمثيل يا ننداره شي،معنی دا،چې تمثيلي ټوټه يا ننداره ډېره اوږده نه وي او په څو معلومو صحنو کې په سټيج يا ميدان کې پای ته رسيږي.تمثيلي ټوټه په ژوندۍ توګه وړاندې کيږي.

په يو بل تعريف کې د (( نامه نګاری نوين)) اثر ليکوال د تمثيلي ټوټې د پېژندنې په اړه خپل نظر داسې وړاندې کوي او د لنډې کېسې سره يې توپيرونه په لاندې ډول ښودلي دي:( ننداړليک يوه کېسه ده،چې د ننداړې په ځای يا د سټيج پرمخ د لوبغاړو له خوا اجراء کيږي.له کېسې څخه جلا او لرغونې ده.ځکه ،چې له ميلاد څخه دمخه پنځمه پيړۍ کې ننداړليک يا تمثيلي ټوټه په يونان کې رامنځ ته شوې او اوج ته رسېدلې و. له کېسې سره يې توپيرونه دا دي،چې ننداړليک له يوې مخې د مکالمې او ډيالوګ په بڼه ليکل کيږي او په کېسه کې کله کله ډيالوګ او مکالمې ته اړتيا پيښيږي.ننداړليک د وخت او موضوع له مخې په بيلو بيلو برخو ويشل کيږي،چې هرې برخې ته يې پرده ويل کيږي.( هاشمي ۱۳۹۴: ۴۰۹ ).

په پورته تعريف يا پېژندنه کې يې د لنډې کېسې سره جوت او ښکاره توپير ښودلی دی او ويلي يې دي،چې تمثيلي ټوټه د ډيالوګ او مکالمو په بڼه وړاندې کيږي.په تمثيلي ټوټه کې ډيالوګ په ژوندۍ بڼه وړاندې کيږي او کرکټر بايد د تمثيلي ټوټې يا ننداړې ټولې مکالمې او صحنې بايد په خپل ذهن کې وساتي او په ژوندۍ بڼه يې هره صحنه يو له بل سره اړيکه او رابطه ولري.د نثري ادب ډولونو نومې کتاب ليکوال بيا د ننداړليک يا تمثيلي ټوټې په اړه خپل نظر داسې څرګندوي او وايي: ( تمثيلي ټوټه يا ننداړليک هغه کېسه ده چې د ډيالوګ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکالمو په بڼه د سټيج پرمخ د ښودنې لپاره ليکل کيږي او بيا د تياتر يا بله ځانګړې صـــحنه کې د خلکو په وړاندې د کردارونو يا لوبغاړو په وســـيله تمثيل او ښـــودل کيږي،ننداريک ورته ويل کيږي.( هاشـــمي ۱۳۹۴، : ۴۱۰ ).

په پورتني تعريف کې هم ويل شـــوي ،چې تمثيلي ټوټه هغه ډيالوګ دی،چې په سټيج يا ميدان او صـحنه کې بايد تمثيل شـي،که څه هم په اوس وخت کې تمثيلي ټوټې په مختلفو ځايو نوکې اجرا کيږي،لکه تلويزون،راډيو او سينما ته ورته صحنو کې وړاندې کيږي،خو لومړني تمثيلونه به په اوار ميدان يا ســتيج په ژوندۍ بڼه وړاندې کېدل.کله،چې په کوزه پښـتونخوا کې عبدالاکبر خان اکبر په اتمانزو کې کومه تمثيلي ټوټه وړاندې کړه هغه هم په ژوندۍ بڼه د شـــاګردانو لخوا د ســـټيج يا ميدان پر مخ د خلکو په وړاندې تمثيل شوه.

د دې موضـــوع په پايله کې د تمثيلي ټوټې يا ننداريک لپاره د ټولو پېژندنو په نظر کې نيولو ســـره ويلی شـــو چې: تمثيلي ټوټه يا ننداريک هغه لنډه او وړه موضـــوع يا کيســـه ده،چې د کرکټرونو او کردارنو په وســـيله هره مکالمه د ســـټيج يا ميدان پر مخ د خلکو په وړاندې په ژوندۍ بڼه په داســـې ډول وړاندې شـــي،چې هره مکالمه او صحنه د بلې سره اړيکه ولري او هره برخه يې تر پای پورې په منظم ډول تر سره شي.

د يـادونې وړ ده،چې تمثيلي ټوټـه هم لکـه د ډرامې او نورو ژانرونو پـه څېر تراژيدي،کوميډی،تراژيدي کوميډی ډولونـه لري او هره برخـه يې ځـانلـه ځـانګړنې لري.د تمثيلي ټوټې د ليکنې پر وخت ليکوال بايد داســـې مکالمې جوړې کړي،چې ډېرې اوږدې نه وي او ممثل وکولای شي تر پايې پورې تمثيلي ټوټه په سمه توګه ورسوي.که چېرې په ســـټيج تمثيلي ټوټه کې مکالمې ډېرې اوږدې شـــي،ممثل له کړاو سره مخ کوي او کله کله داسې هم کيږي،چې کرکټر يا ممثل هغه مکالمه چې ليکوال يا ډايرکټر ورته ښـــودلې له ياده وباســـي او نورې مکـالمې پـه کې ورزيـاتې کړي،خو مکـالمې لنډې او پـه زړه پورې وي،نو کرکټر يا ممثل په ډېرې ارامۍ او ښـــه توګه خپلې مکالمې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســمه توګه پای ته رســوي او په تمثیلي ټوټه کې کوم خلل نه رامنځ ته کېږي. پـه تلویزوني یـا راډیویي تمثیلي ټوټو کې کـه مکـالمې اوږدې وي،نو پروا نه کوي،ځکه چې په راډیو یا تلویزون کې هره مکالمه څو څو وارې تکرار تکرار ثبت یا ریکارډ کېږي او بیا هره برخه دومره اصلاح او ایډیټ کېږي،نو هلته د ممثل لپاره دومره ستونزمنه نه وي.

**د تمثیلي ټوټې چوکاټ،جوړښت، توکي او د لیکنې لار**

تمثیلي ټوټه هغه ادبي ژانر دی،چې ځانله چوکاټ او جوړښــت لري.د جوړښت توکي یې د نورو ادبي داستاني ژانرونو په څېر دي که چېرې یاد توکي یا جوړښــت ونلري کېدای شــي تمثیلي ټوټه یا نیمګړې شـــي او یا هم مفهوم او پیغام په ســـم ډول وړاندې نکړي.نو ځکه یې لانـدې توکي اړین دي او پـه کـار ده،چې دا ټول پـه نظر کې ونیول شي.لکه:

۱:**کېســـــه:** د تمثیلي ټوټې کېســــه به وړه،خو له مفهومه ډکه او پوره وي.ځکه،چې دا کېســـه د صـــحنې پر مخ د خلکو په وړاندې په ژوندۍ بڼه خپرېږي او ډېر کم وخت کې پای ته رسیږي،نو ځکه یې باید کېسـه لنډه،واضحه او مکالمې یې باید لنډې لنډې وي.

۲: **پلاټ:** پلاټ هم پـه تمثیلي ټوټـه کې پـه پـام کې نیول اړین کـار دی،ځکـه کلـه چې لیکوال د یوې ډرامې یـا تمثیلي ټوټې پلاټ پـه نظر کې ونـه نیسي،نو ټولـه کېسه به ترې بې ترتیبه او غېر منظمه شي.پلاټ د تمثیلي ټوټې هغه برخه ده،چې لیکوال په کې د واقعاتو یا پېښو ترتیب او تنظم په نظر کې نیســـي،چې کومه پېښـــه په کوم ځای کې راولي.د بېلګې په ډول که مونږ د نشــیي توکو په اړه کومه تمثیلي ټوټه لیکو،نو لومړی به د هغه کس رول او کرکټر راوړو،چې په نشـــیي توکو اخته وي،که چېرې ســمدلاســه د ډاکټر کرکټر راولو او بیا وروســته د خلکو نظر او بیا ورپســې په نشــه کس انځور وړاندې کوو،نو دلته به دا پلاټ غېر منظم ترسره شي او اثر به یې پر خلکو کم وي.

۳:**کرکټرونــه:** کرکټر پـه تمثلي ټوټـه یـا ننـدارلیـک کې ډېر مهم او د ارزښت وړ توک دی.دا برخه باید په سمه توګه تر سره شي.ځکه ،چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تمثيلي ټوټې کېسه د همدې کرکټرونو په مرسته او وسيله پر مخ ځي او ننداريې ته وړاندې کېږي.دا،چې په ډرامه کې اصلي او فرعي کرکټرونه موجود دي،نو په تمثيلي ټوټه کې هم مرکزي او فرعي کرکټرونو ته اړتيا وي،ځکه چې دا کرکټرونونه هر يو پر خپل ځای د ارزښت وړ وي.که چېرې هر کرکټر پر خپل ځای رانشي بيا د تمثيلي ټوټې پلاټ او کېسه بې مفهومه کوي د مثال په ډول.که يو کس د ډاکټر کرکټر تر سره کوي او هغه د دهقان په جامه کې مريض ته راشي،نو دلته دا کرکټر خپل ارزښت له لاسه ورکوي او د ناستو خلکو د پام وړ نه وي.يا که يو کس د دهقان يا ډريور کرکټر لوبوي او هغه د انجينر يا ډاکټر په جامه کې صحنې ته راځي،نو په تمثيل کې ګډوډي راځي او د تمثيل ارزښت او خوند له منځه وړي.

**۴:مکالمې:** مکالمه هم د تمثيلي ټوټې لپاره مهمه او دپام وړ برخه ده.مکالمه هماغه خبرې دي،چې کرکټرونه يې پرمخ وړي.په تمثيلي ټوټه کې مکالمه همدومره د ارزښت وړ ده لکه څومره،چې کرکټر دی.که کرکټر نه وي مکالمه پرمخ نه ځي او که مکالمه نه وي،نو کرکټر په ټپه ودرېږي او د خبرو لپاره د کرکټر سره هيڅ نه وي.مکالمه د تمثيلي ټوټې مهمه برخه ده او له مکالمو پرته تمثيلي ټوټه پرمخ نه ځي.د يادونې وړ ده،چې په تمثيلي ټوټه يا ننداره کې بايد مکالمې منظمې او لنډې وسيې،ځکه چې دا په ژوندۍ بڼه وړاندې کېږي،څو د کرکټر په خبرو کې د اوږدو مکالمو په مرسته ګډوډي رانشي.

**۵: سپېنس يا تجسس:** تجسس په کېسه،ډرامه يا تمثيلي ټوټه کې ډېر مهم توک دی.که کېسه کې تجسس يا تلوسه نه وي ليدونکي يا اوريدونکي له ځان سره نه شي ساتلی.هره تمثيلي ټوټه بايد ډېره جالبه او له تلوسې ډکه وي،ځکه چې دا لنډه او وړه کېسه چې د سټيج يا صحنې پرمخ په ژوندۍ بڼه وړاندې کېږي د خلکو توجه ځانله نشي جلبولی،نو لازمي ده،چې د لنډې کېسې هره برخه جالبه او له تلوسې ډکه وي او نندارچيان له ځان سره تر اخره په خندا او ولولو وساتي.په تمثيلي ټوټه کې تلوسه او تجسس د ساه يا روح په معنا ده که دا روح او ساه په کې نه وي په خلکو کې شروع او ولولې نه شي راوستلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمثیلي ټوټه هم لکه د ډرامې جوښــــت او ســـاختمان لري.تمثلي ټوټه د پیل،اوج او پای نقطه لري او په دې ډول پرمخ ځي.لیکوا ل دغه کېســـه په مختلفو پردو ویشــي او هره پرده بلې ســره اړیکه نیســي .هره پرده پیل،اوج او پای لري،څو بلې پردې ته داخل شــــي.د هرې پردې پــای پــه داســــې ډول ختمیږي،چې بلې پردې تــه د داخلیــدو لاره هواروي.مخکنۍ پرده له وروســتۍ پردې ســره منطقي تړاو لري او په دې ځای کې باید داسې تلوسه او تجسس ور ځای شي،چې ننداړچیان یا لیدونکي بلې صحنې یا پردې ته په تمه شي او تر اخره یې تعقیب کړي.

د تمثیلي ټوټې کېســـه ډېره مهمه ده او موضـــوع په غوره کولو کې باید پوره غور او کوښښ وشي.د تمثیلي ټوټې یوه ښېګڼه دا ده ،چې د هر وخت او مهال ســره ســمه موضـــوع ورته پیدا کېږي او په خپل وخت هره موضـوع څېړي.که د کېسـې موضـوع په زړه پورې وي،نو کرکټرونه هم کولای شي،چې مکالمې په زړه پورې پرمخ یوسي.تمثیلي ټوټې زیاتره په طنز او خندا ولاړ ې وي،که طنز او خندا په کې نه وي جالبیت او خوند یې له منځه ځي،کوښـښ باید وشـي،چې د طنز ژبه یې هم خونـدوره او هم ادبي وي او لـه چوکـاټـه وتلې نـه وي.دلتـه،چې پـه تمثیلي ټوټه کې د طنز خبره راغله نو اړینه ده،چې د طنز د پېژندنې په اړه هم لنډې خبرې ولرو.د ادب پوهنې بنســــټونه نومې اثر لیکوال په خپـل کتـاب کې د طنز پـه اړه وایي ( طنز پـه لغـت کې نـاز،نخرې کرشمې،پېغور او مسخره کولو ته وایي.)( رفیق ،۱۳۹۵ : ۹۷ ).

همدارنګه د (معاصــــره لیکوالي) اثر لیکوال وایي ( طنز،هزل،مطایبه او فکاهیات یوه معنا لري.توپیر مطلب په داســــې خوندورو الفاظو کې را اخلي،چې هم خندونکی وي او هم ملنډې وهونکی.)( زغم ،۱۳۹۴ : ۴۶۴ ).

نو دا چې د تمثیلي ټوټې ژبه زیاتره په طنز ولاړه وي،نو اړینه ده،چې د طنز د تعریف یـا پېژنـدنې پـه اړه هم لنډ بحث ولرو،خو پـه تمثیلي ټوټه کې به طنز داسې نه وي،چې د چا شـخصیت یا کوم قوم ته په کې سپکاوی شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحدتونه هم مهمه برخه ده.په تمثيلي ټوټه کې ( وحدت مکان،وحدت زمان او وحدت عمل ) دا مهمه برخه ده او وخت ته په کتو سره بايد خپلې مکالمې وړاندې شي.مکان او ځای يې هم بايد په نظر کې ونيول شي او د عمل وحدت يې هم بايد په پام کې ونيول شي،نو په پای کې ويلی شو،چې د تمثيلي ټوټې يا ننداريک ليکوال بايد پورته ټولې برخې او توکي په پام کې ونيسي او هره برخه يې بايد په زړه پورې له تلوسو او مکالمو ډکه وي،که ليکوال دا توکي په پام کې ونه نيسي،نو کيسه يې بې خونده او د ليدونکو د پام وړ نه ګرځي.په تمثيلي ټوټه يا بل هر ژانر کې سپنس يا تلوسه د هغه مقناطيس يا هندروبا په معنا ده،چې په شاوخوا کې پرتې د اوسنپې ټولې زرې او ټوټې په ځان پسې راکاږي او راټولوي يې، که په مقناطيس کې کشش کم وي يا په کې نه وي،نو هيڅ کله نه شي کولی چې اوسپنه په ځان پسې راټوله کړي،په کيسه يا تمثيلي ټوټه کې چې تلوسه ،تجسس يا سپنس نه وي،نو کيسه سترې کيدونکې او د خلکو د پام وړ نه ګرځي،نو اړينه ده په کيسه کې ټولې خواوې په پام کې ونيول شي او په ډېر هنر سره د خلکو په وړاندې تمثيل شي.

**د تمثيلي ټوټې ژبه**

هره ليکنه او کيسه ځانله د ليکنې ژبه لري او د هر هنري ژانر لپاره بايد کوښښ وشي،چې د داستان يا کيسې ته په کتلو سره د هماغې کيسې لپاره ژبه وکاروي.ځکه د هرې خبرې او هر کار لپاره خپل ځای او مکان وي.که د هرې کيسې ژبه په پام کې ونه نيول شي،هغه کيسه يا داستان خپل خوند له لاسه ورکوي او لوستونکي يې لوستلو،اوريدلو يا ليدلو ته زړه نه ښه کوي.دا،چې تمثيلي ټوټه څه ډول ژبه لري؟ او د ليکلو او ويلو ژبه يې بايد څه ډول وي؟ او د ډرامې له ژبې سره يې توپير ليدل کيږي کنه؟ د موضوع په دې برخه کې به په همدې موضوع تم شو او دا به جوته شي،چې د تمثيلي ټوټې ژبه بايد څه ډول وي.مونږ مخکې په بحث کې وويل،چې تمثيلي ټوټه هم لکه د ډرامې او فلم يو داستاني او ادبي ژانر دی،خو په دې توپير،چې ډرامه او فلم اوږد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمثیلي ټوټه وړه او لمنه یې تنګه وي. په خپله لمن کې د خپل قد او وس په اندازه موضــوعات رانغاړي او د ډېرو اوږدو خبرو او موضــوعاتو توان نلري.

نو دلته به د ننداریک یا تمثیلي ټوټې په ژبه بحث وکړو.تمثیلي ټوټه که څه هم ډرامې ته ورته ده،خو ژبه یې نسبت ډرامې ته خوږه،له خندا ډکه او وړه ده.په تمثیلي ټوټه کې زیاتره له طنز او مزاح څخه ګټه اخیســـتل کېږي او همدې طنز او مزاح یې ښه او شـــکل خوندور کړی دی.په ندارلیک کې د ژبې کارول او څرنګوالی هم په خپل ځای ډېر د ارزښت او اهمیت وړ دی.د تمثیلي ټوټې ژبه باید عام فهمه او د لیدونکو او اوریدونکو د فهم وړ وي.کومې مکالمې،چې په تمثیلي ټوټه کې لیکل کېږي،باید داسـې ولیکل شـي څرنګه،چې تلفظ کېږي.له تصـنع څخه په کې کار وانخستل شي.ژبه یې باید واضحه،اسانه او روانه وسي.مکالمې یې باید ډېرې ســـختې نه وي.د بېلګې په توګه که مونږ په یوه تمثیلي ټوټه کې د یو کوچي کرکټر لرو او د هغې لپاره په کوچۍ لهجه خبرې ونه لیکو،نو دلته زمونږ د ننداریک ژبه مصـــنوعي بڼه خپلوي.دلته د بېلګې په توګه څو مکالمې راوړو او ګورو،چې ژبه یې څنګه ده.که کرکټر د کوچي وي،نو هغې ته به لاندې مکالمه راوړو.

۱- کوچی ځوان: ادیو وه ادیو څه سوې وړ.ای سوای یمه مستې سته که نسته.

۲- د کوچي ځوان مور: نا غلی ســه مســتې له کومه ســوې.مېږې سـر خوړلې شدې نه کوي.

که مونږ د پورته مکالمې ژبه په اصلي بڼه راوړو،نو دلته ده،چې د تمثلي ټوټې یا نندارې خوند له منځه ځي او لیدونکو یا اوریدونکو ته نه په زړه پورې کېږي .دلته به د بېلګې په ډول د ډاکټر نورالحبیب نثار د لیکنې یوه برخه راوړو،چې د لیکنې عنوان یې یې دی ( دست خوش) په دغه کېسه کې که څه هم لنډې کېسې ته ورته کېسه ده،خو دا چې خبره د تمثیلي ټوټې د ژبې ده،نو ښه ده چې په مثال کې یې راوړو او وګورو،چې د کوم کرکټر لپاره یې کومه ژبه غوره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دستخوش

پرون لوړ مازیګر په څه کارپسي له کوره ووتم.ارباب صاحب ګل دين په مخه راغی .ويې پوښـــتلم ،چې چېرتـه لـه خيره.ما ورتـه وويل،چې باغ قاضـي ته ځم،څه کار مې دی او ضـمناً به له منډيي څخه سود سودا وکړم. هغوی هم پېسې راکړې ،چې شيرني ورته راوړم.له بده شـــامته د بېنظير هوټل لاندې د شـــيرني فروشـــی په مخه کې پر ټوپکمارو واوښـــتم.ويې درولم پوښـــتنه يې راڅخه وکړه چې فلانی ته يې؟ما بېدو داســـې وانګېرله،چې په لوی لاس چا ورته په ګوته کړی يم.هو مې ور ته وکړه نور نو چې څو پر ځان پوهېدم ډاټسـن ته يې خېژولی وم.تر يوه ښـه ښـايسـته ټوټه مزله وروسـته يې خپل مرکز ته ورسولم او نېغ يې خپل امير ته مخامخ ودرولم،هغه راته کړه:

-مدامين خودت استي؟

- بلی.

- از عاشقان و عارفان استي؟

-بلې

هغه راته د ناســـتې اشـــاره وکړه.قلم مې تيار په جيب کې و،کاغذ يې راوغوښت، راته يې وويل:

- تجار صاحب! ای کاغذ بګی، بدست مبارک خود بخانه ات نوشته کو که اګه مه را زنده کار دارين دوصد لک افغاني را تا سبا چاشت روان کنين.

زه لږ څه ډاډه شـوم،ځکه ما ته داسـې ښـکاره شـوه چې ادرس يې غلط کړی ،عوضـې يې راوسـتی يم. معافي او معذرت مې ځنې وغوښـت او په خندا مې ور ته وويل: جناب! بېشـــکه چې زه محمد امين يم،مګر ســوداګر نه يم.زه يو معلم يم چې ســر او ږيره مې دواړه له ماشــومانو ســره ســپين شــوي ،درســت عمر مې کاڼې په نس پورې تړلي دي، په الوګانو مې ګوزاره کړې ده .که خپل درســـت ســـره هســـت وبود مې دروځنځوم،ستاسو د حوالې حتی اومه – اتمه برخه به هم پوره نه کړای شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هغوی زما په خوله باور کله کاوه ځکه چې زه يې د بېنظير هوټل له مخې ورپورته کړی وم.ما ورته دا هم له غوږه تېره کړه چې که دولت د معاشـــانو اســتحقاقونه اجرا کړي روغ د اوو ،اتو میاشــتو مو پوروړی دی.ټول به تر ســـتاســـو ځار کړم،خو د هغوی ســـودا نغده وه،نسیه يې نه پېژنده ،څه به مو کړوم خو حواله يې راباندې ولیکله او په خپل منشي يې تر لوستلو وروسته له واره ،چاته ورکړه چې زمونږ کورته يې ورسوي او زه يې يوې تیاره کوټې ته چې تور غټ قلف ورته پروت و،ور دننه کړم.

کوټه ډېره سړه وه خو ښه و دغه شړی مې راسره وه،له سړو مې ساه ونه خته،که نه نور مې د چا خبره تمامه شـــپه چاقوګان جوړ کړل.يو وخت غالباً چې چرګبانګ به و شـــرنګ شـــو چې د دروازې زنځير پورته شو.د کوټې ور راخلاص شو.ټوپک والا و راته يې کړه:هله ژر کوه چې قوماندان صـــاحب دې غواړي،په ما کې په زغرده د ورجګېدا جوکه نه وه پاتې،تر مټ يې ونیوم او وريې وســـتم.که ګورم چې د جواری پر لګېدلی او ( نیم پته)) ښه په درز کې روانه ده،قوماندان چې دا وخت هر څۀ بايللي وو،ښـــه په ســـوخت کې راغلی و،ماته يې لاس ونيو او ويې ويل:

- ای داو اخری مه است،دوصد لک بکش.

قطعه چې د چا په لاسونو کې وه ښايستو کې.ګردکۍ ،ږیره يې لرله.ګومان کوم چې اصلاً د کوچه،خرابات اوسېدونکی و په هر ځل چې به يې ورته بوت اړاوه د قوماندان د تندي په ګونځو کې به رڼا خپرېده ،خو د برېښنا غوندې يو پړک به يې و او بس.ځکه چې وبه يې کاته نو د پاچا پرځای به غلام بهر شوی و،څو ځله يې دغه وړ ټنډه وغوړېده ،خو ډېر ژر به يې تمه ځنې پرې شوه،خو چې څنګه درست سره غلامان بهر شول،پیوسته ورپسې پاچا دننه شو،یخې اوبه پرې تلې شـوې ،قوماندان میدان بايلود.دا چې زه له يوې خوا د خپلو ماشـومانو په غم کې کیوتی وم او له بلې خوا مې خپلې راتلونکې ته په ســـوچ کې وم،پر ځان ونه پوهېدم، بېواکه مې له خولې ووتل چې دستخوش،طالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانه دستخوش!! د هغه چې دا وخت طبعه ښه راسته وه او زه یې هم کینې ډډې ته ښه برابر ناست وم،نو داسې یوه ګړنګینه څپیړه یې ګرم کړم،چې ازانګې یې لا اوس هم زما په غوږونو کې دي،او راته یې کړه.ځغله،چې شاته ونه ګورې،،.( غضنفر ،۱۳۸۹ ).

په پورته کېسه کې ژبه عامفهمه او د سېمې په لهجه لیکل شوې ده.که چېرې لیکوال په دې کېسه کې ادبي ژبه کارولای وای،نو شاید دومره خوند به په کې نه وای.نو د دې موضوع په پای کې ویلی شو،چې کوښښ باید وشي د تمثیلي ټوټې ژبه ډېره ساده،روانه او عام فهمه اوسي او د هر کرکټر په پام کې نیولو سره یې ژبه هم په هماغه شان وي.که دهقان کرکټر وي،ژبه یې باید دهقان ته ورته وي نه،کوم ډاکټر یا انجینر ته.که ټکسي ډریور کرکټر وي یا کوم موچي وي،نو د مکالمو ژبه یې باید د هغوی په ښه وي،نه د داسې کوم کس،چې هغه لوستی یا داسې کس وي،چې د کرکټر او مکالمې ترمنځ واټن موجود وي.د دې موضوع د وضاحت لپاره به بیا د تمثیلي ټوټو په بیلګو کې وګور،چې د تمثیلي ټوټې یا ننداریک ژبه باید څه ډول اوسي.

په لرغونو وختونو کې ننداریکونه یا تمثیلي ټوټې په شعر یا نظم جوړېدلې او خلکو ته به وړاندې کېدلې،خو ورو ورو د نظم تر څنګ په نثر هم ولیکل شوې او د نولسمې پیړۍ په ورستیو کې چې په ادبي آثارو کې ریالیستي او واقع ګرایي تمایلات زیات شول نثر د ننداریک یا تمثیلي ټوټې لپاره ځانګړی شو او نن تمثیلي ټوټه په نثر او نظم دواړو لیکل کیږي.( هاشمي ،۱۳۹۴: ۴۱۰ ).

**په تمثیلي ټوټه کې د کرکټرونو کارونه**

د تمثیلي ټوټې په جوړښت او چوکاټ کې مو په کرکټر لږ لنډکی بحث وکړ.اوس د موضوع په دې برخه کې په تمثیلي ټوټه کې د کرکټرونو په کارونه بحث کوو.دا،چې کرکټر څه ته وایي لومړی به کرکټر وپیژنو او بیا به یې پر کارونه خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کرکټر:** کرکټر هغه شخص یا کس ته ویل کېږي،چې په تمثیلي ټوټه کې مکالمو ته د خبرو ژبه ورکوي او هره مکالمه په خبرو راولي.کرکټر ته لوبغاړی یا اداکار هم ویل کېږي. یا کرکټر هغه چا ته ویل کېږي،چې د سټیج پرمخ د خلکو په وړاندې د تمثیلي ټوټې لیکل شوي الفاظ یا مکالمې په ژوندۍ بڼه وړاندې کوي او هرې کلمې ته یو انځور او ساه ورکوي.کرکټرونه یا کرکټر د تمثیلي ټوټې د جوړښت یو اساسي توکی دی.که کرکټر نه وي تمثیلي ټوټه د کاغذ پر مخ تشه لیکل شوې کېسه پاتې کېږي.د تمثیلي ټوټې یا ننداري کېسه او موضوع همدا کرکټرونه پرمخ وړي او د خبرو ژبه ورکوي.کرکټر هغه څوک دی،چې هرې مکالمې ته ساه ورکوي،هره مکالمه په خبرو راولي او هره مکالمې ته غږ ورکوي.هره ډرامه،فلیم ،سریال کرکټرونه لري،نو څکه تمثیلي ټوټې ته هم د کرکټرونو اړتیا ده او همدا کرکټرونه دي،چې تمثیل د سټیج پر مخ نځوي او ښکلا ورکوي.په تمثیلي ټوټه یا ننداره کې لکه د ډرامې په څېر اصلي او فرعي کرکټرونه موجود وي.اصلي کرکټر هغه کس وي،چې دا وړه او لنډه کېسه پرې راڅرخي او ترڅنګ یې بیا واړه واړه فرعي کرکټرونه هم رامنځ ته کېږي.

اوس خبره دا ده،چې په یوه تمثیلي ټوټه یا ننداره کې باید کرکټرونه څنګه او په کوم ځای کې راوړل شي.هره تمثیلي ټوټه جلا موضوع لري او د هرې ټوټې د وړاندې کولو لپاره مختلف کرکټرونه یا لوبغاړي په کار وي.لیکوال باید کوښښ وکړي،د کرکټر یا لوبغاړي په سمه کارونه کې له دقت څخه کار واخلي.د بېلګې په توګه که مونږ د یوې کلیوالې نجلۍ د واده په اړه تمثیلي ټوټه اماده کوو او دا نجلۍ د جګ ولور په بدل کې خرڅه شوې وي،نو دلته به څرنګه لوبغاړي او کرکټرونه کاروو.

لومړی،خو دا،چې واده به په داسې ځای یا سټیج کې اماده کېږي،چې کلیوالي بڼه ولري څکه که د داسې واده صحنه د هوټل په څېر وي،نو بیا د کېسې اصلي مفهوم او محتوا له منځه وړي.بله دا،چې په کېسه کې به ناوې د کلیوالو په دود او دستور جوړه وي که چېرې دلته د ناوې کرکټر یوه ښاري نجلۍ پرمخ وړي،نو د کېسې بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلوي.کومه نجلۍ چې په دې تمثيل کې اصـــلي کرکټر يا لوبغاړې ده هغه به بېسواده او ساده باده کليواله نجلۍ وي.

همدارنګه که زمونږ د تمثيل موضوع د ډاکټرانو په اړه وي،نو بـايـد ټولـه موضـــوع موږ ډاکټرانو راوڅرخي او مرکزي کردار يـا کرکټر بايد د ډاکټر په څېر جوړ شـــوی وي.که چېرې موضـــوع د ډاکټرانو وي او مونږ لوبغاړی د دهقان په شـــکل راشـــي،نو دلته به د موضوع خوند او رنګ دواړه بې خونده کړي.

نو په پای کې ويلی شـو،چې په يوه تمثيلي ټوټه کې هر کرکټر په خپل ځای کې بايد راوړل شـي او د موضـوع تسلسل ته په کتو سـره هر لوبغاړی او کرکټر په سمه توګه وکارول شـي.هغه يو متل دی چې وايي :( هره خبره خپل ځای لري) نو ليکوال بايد پوره هڅه او کوښښ وکړي،چې د لوبغاړو کاورنه کې تېروتنه ونکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپیږم څپرکی

## د تمثیلي ټوټې ډولونه

د موضـــوع په دې برخه کې به په دې بحث وکړو،چې تمثیلي ټوټه کوم ډولونه لري او یو له بل ســـره یې توپیر په څه کې دی.تمثیلي ټوټه یا ننداره هم د ډرامې په څېر ځانله ډولونه لري او هر ډول یا نوعه یې په خپل ځای کې د خپل ارزښـــت او اهمیت وړ دی.پخوا به تمثیلي ټوټې یوازې د ســـټیج یا دریځ پر مخ پـه ژوندۍ بڼـه وړانـدې کېدلې،خو د ټکنالوژۍ د پرمختګ سره تمثیل هم وده وکړه او اوس په راډیو،تلویزون او مجازي نړۍ کې هم پرمخ روانـه ده او د پرمختګ پړاونـه وهي.اوس بـه د تمثیلي ټوټې هر ډول جلا جلا روښـــانـه او واضحه کړو.

### د فورم له مخې د تمثیلي ټوټې ډولونه

د فورم یا شـــکل له مخې د تمثیلي ټوټې ډولونه په لاندې ډول دي،چې هره ډول یې جلا جلا تر بحث لاندې نیسـو او کوښـښ کیږي، چې د هر ډول لپاره بېلګه راوړل شي.

### سټیج تمثیلي ټوټه

مخکې له دې،چې پر ســټیج تمثیلي ټوټه بحث وکړو،لومړی به سټیج وپیژنو،چې څه ته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ســـتيج:** انګليســــي کلمه ده،هغه لوړ او جګ ځای ته ويل کېږي،چې مجلس،تمثيلي ټوټې او غونډې په کې تر سـره کېدی شــي. يا په بله وينا ســتيج يا په ســاده اصــطلاح چوتره هغه ځای ته ويل کېږي،چې ممثلين پکې د تمثيلي ټوټې د وړاندې کولو لپاره راځي او خلکو ته يې ننداره کوي.سـتيج بيا ډېر ډولونه لري،خو دلته يې د ډولونو له وضـحات څخه تېرېږو او په همدې تعريف يې بســـنه کوو.ځکه،چې زمونږ اصـــلي موضوع نده.

**ستيج تمثيلي ټوټه يا ننداريک**

هغه تمثيلي ټوټه ده،چې په يو لوړ ځای کې يې ټول لوبغاړي په خپل وار خپلې مکالمې په ژوندۍ بڼه د ناســـتو خلکو پر وړاندې اجرا کوي او د خلکو پام ځانله راګرځوي.يا ســـتيج تمثيلي ټوټه يا ننداريک هغه تمثيلي ټوټه ده،چې د ستيج پرمخ د ښودنې لپاره ليکل کېږي او بيا په تياتر يا بله ځانګړې صـــحنه کې د خلکو پر وړاندې په ژوندۍ بڼه د کردارنو په وسيله تمثيل او ښودل کېږي.( هاشمي ،۱۳۸۹ : ۱۹۹).

د يادونې وړه ده،چې د ژوندۍ تمثيلي ټوټې لپاره ســـتيج يا صــــحنه ضرور ي ده او بې له ستيج څخه د ياد ژانر يا فن په سمه توګه نه شي تر سره کېدلی.د تمثيلي ټوټې د ښه اجرا لپاره ستيج ته اړتيا وي.

دلتـه بـه د ســـتيج تمثيلي ټوټې لپـاره يوه بېلګـه راوړو او وبـه ګور،چې يـاده تمثيلي ټوټـه څومره اغېز نـاکـه ده او پـه ټولنـه يې کومه اغېزه کېدلی شــــي کنه.په دغه تمثيلي ټوټه کې ټول څلور کرکټرونه يا لوبغاړي برخه اخلي.يو کرکټر په کې د نجلۍ دی،چې په افغاني ټولنه کې د ولور پـه مقـابـل کې پـه خـارج کې داســـې يو کس تـه ورکول کېږي،چې يولاس او پښــه يې معذوره وي،خو د نجلۍ پلار د پيســو په لالچ کې راځي او د خپلې لور سرنوشت د خاورو سره خاورې کوي.د نجلۍ رول يا کرکټر د ( احمد شـــاه) په نوم يو ممثل وړاندې کوي.بل کرکټر د نجلۍ پلار دی،چې د خپلې لور په غم کې نه وي،خو د پيســـو په اوريدو سره يې هر څه له ياده اوځي او خپله لور په خارج کې هغه معذوره کس تـه ورکوي .د نجلۍ د پلار کرکټر د ( حکيم الله) پـه نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس تر سـره کوي.دریم کرکټر د نجلۍ غوښـتونکی دی،چې پلار یې د نجلۍ پلار تـه ډېر غـټ او لوړ کس معرفي کوي او ورتـه وایي،چې زوی مې په خارج کې ډېره ښه دنده لري.

د نجلۍ غوښـــتونکي کرکټر د ( نیازالله) په نوم کس تر ســـره کوي. څلورم کرکټر د هلک د پلار دی،چې په جرګه د نجلۍ پلار ته ورځي او د خپل زوی لپاره رشته غواړي.دا کرکټر ( تمیور شاه ) لخوا وړاندې کیږي.د تمثل د وړاندې کولو ځای د ننګرهار ولایت د غونډو تالار دی،چې په ۱۳۸۹ لمریز کال کې کله ګل اغا شـیرزی د ننګرهار والي وو.په یاده غونډه کې د ښوونځیو د زده کوونکو ترمنځ د سیالۍ په جریان کې یاده تمثیلي توته د سـلګونو ځوانانو او مشــرانو په وړاندې تمثیل او ننداري ته وړاندې شوه.د یادونې وړ ده، دا چې په ننګرهار او په ځانګړي ډول د ښــځینه ممثیلنو پیدا کول ډېر ګران کار دی،نو ځکه په دغه تمثیلي توته کې د هلک څخه نجلۍ جوړه شـوې وه،چې د نجونو پوره لباس ورته ورکړل شوی او خپل کرکټر یې د غړ په بدلولو سره د نجلۍ په ډول وړاندې کړ،چې مرکزي کرکټر یا لوبغاړې هم همدا نجلۍ وه.په یاده تمثیلي توته د وخت والي یادو کسانو او ممثلینو ته د خپل وس په انداز نغدي ډالۍ هم ورکړلې.

**بېلګه**

دتمثیلي توتې نوم: د رواج په لمن کې
لیکوال: تاج محمد
لوبغاړي:
احمد شاه د ( نجلۍ په کرکټر)
حکیم الله ( د نجلۍ پلار)
تیمور شاه ( د هلک پلار)
نیازالله ( د نجلۍ غوښتونکی ځوان)
د ننداري ځای د ننګرهار ولایت د غونډو تالار

**د رواج په لمن کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نجلۍ ( ګل پري):** له ښــوونځي راځي او په ډېرې خوشــحالۍ پلار ته وايي.پلار جانه سلام څنګه يې.
**د نجلۍ پلار:** لورې ښه يمه ته څنګه يې له ښوونځي نه پخير راغلې.
**نجلۍ( ګل پري):** پلار جانه هو پخير راغلم،نن مو ډېر درسونه ولوستل او ډېر په زړه پورې وو.
**د نجلۍ پلار:** لورې ته څومره بختوره يې،چې نن ښــوونځي ته ځې. زمونږ په وخت کې نه ښوونځی وو او نه درسونه.
**نجلۍ( ګل پري):**پلار جانه دا،خو ســتا مهرباني ده،ګنې زه،نو چا درس ته پرېښودلم.
**د نجلۍ پلار:** لورې بس درس دې وايه.... او رښـتيا لور جانې غوښـتل مې يوه خبره درته وکړم... او ستا نظر واخلم.
**نجلۍ( ګل پري):**پلار جانه څنګه خبره خدای دې خير کړي.
**د نجلۍ پلار:** ګل پري لورې،مور دې خدای وبخښــه که هغه ژوندۍ وای نن به يې زما خبره منله او هيله ده،چې زما خبره ته هم ومنې.
**نجلۍ( ګل پري):**پلار جانه خبره څه ده،ته خو يې ووايه کنه.
**د نجلۍ پلار:** لورې هغـه د کچول خـان نوم خو بـه دې اوريدلی وي،د هغې زوی،چې په لندن کې دی،هغه لاتو درته يادوم.د هغې پلار راغلی وو او غوښـتل يې،چې ستا رشـته رانه وغواړي،زه خو وايم چې لورې هغه هلک ډېر ښه دی او خارج کې هم دی،نو ژوند به دې ورسره جوړ شي.
**نجلۍ( ګل پري):**هههههههههه پلار جانه ز ه اوس واده کولو ته تياره نه يمه لومړی خپل درســونه وايمه له هغې وروســته به بيا ګورمه چې څه کيږي.
**دنجلۍ پلار:** نه لورې درســـونه به بيا په خارج کې ووايې اوس دا کار وکړه دا دسرو زور مرغۍ مو له لاسه ونه اوځي.
**نجلۍ( ګل پري):** پلاره اول خو زه واده نه کوم او که بيا مې ته ډېره مجبوروې،د هغه لاتو ســـره خو يې هيڅ نه کوم،هغه شــــل ګوډ دی په هغې څه وکړم. هغه يو بې پروا او نا اهله انســـان دی،نه غواړمه خپل ژوند برباد کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نجلۍ پلار:** لورې ډېرې خبرې به نه کوې ســـبا د لاټو پلار او لاټو راځي او زه دې دســـمال ورکوم او ډېرې نخرې به نه کوې ګنې خه به درته نه وي.

**نجلۍ( ګل پري):**پلار جانه سـوال درته کوم،زارۍ درته کوم،داســې مه کوه،ګنې بيا به ډېر پښـيمانه شــې،زه غواړم خپلې زده کړې پوره کړمه بيا به ستا په خوښه واده وکړم،خو اوس دې کار ته اماده نه يمه.

**د نجلۍ پلار:** په غوســه او قهر له کوره اوځي او خپلې لور ته وايي،دا زما وروستۍ خبره ده او نورې خبرې کوم ارزښت او اهميت نلري.

( نجلۍپه سـروسترګو ژاړي او په دې سـوچ کې وي که لاټو او د هغې پلار راشــــي څه بايد وکړي،په همدې فکر کې د ځان لپاره د مړو يا مړکـانو دارو پيـدا کړي،پـه اوبو کې حـل کړي او لـه ځـان ســـره يې وساتي،که چېرې د لاټو کورنۍ او د دې پلار نوموړې مجبوره کړي،نو دا زهر به وڅکي ګل پري ځان اماده کړي او په ســـوچونو کې ډوبه وي،چې پـه دې وخـت کې لاټو،د لاټو پلار او د نجلۍپلار پـه کور را دننه شي،ګل پري په ژړا ژړا د پلار پښتو ته وغورځي او داسې زارۍ ورته پيل کړي.)

**نجلۍ( ګل پري):** پلار جانه خير دی،داســې مه کوه که.که د پيسـو لپاره دې دا کار وکړ زه ځان وژنم.

**د لاټو پلار:** ګوره لورې لاټو وګوره څومره ښـايســته ځوان دی ته يې ځوانۍ ته وګوره.

لاټو ( نيازالله): هههههه هو کنه دغه دی دا ،ته ما ته لږ وګوره څومره ښايسته يمه،دغه دی دا.

**د نجلۍ پلار:** لورې خير دی ته ولې ضد کوې،لاټو به دې له ځان سر ه خارج ته بوځي هلته به ښه ژوند ولري.

**نجلۍ( ګل پري):** پلار جانه ته دې لاټو ته وګوره کوږ وږ لکه د تنور اورلګونی،زه به له دې سره څنګه ژوند وکړمه،داسې مه کوه.

**لاټو ( نيازالله):** خه خه خه پلاره ګوره ما ته يې اور لګونی وويل زه څومره ښايسته شهزاده يم او دا په ما کبر کې.دغه دی دا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نجلۍ پلار:** د لاټو پلاره راځه راځه چې په چوکۍ کینو دا نجلی ده یوه ورځ نیمه به ژاړي بیا به خپله عادت شي،د لاټو جان سره به ډېر ښه ژوند وکړي،چې زه او ته خپله خبره خلاصه کړو او ګوره درکړم،چې خوله خوږه کړې.

**لاټو ( نیازالله):** نه نه زه ګوره نه خورم لډو خورم لډو ،دغه دی دا.ګل پری جانې ته به هم خوله کې لډو ورکړم.

( په دې وخت کې د ګل پري پلار،د لاټو پلار او لاټو په چوکیو ناست وي،خپلو کې خبرې کوي،چې خوله خوږه کړي،ګل پري په منډه راوځي او د زهرو بوتل یې په لاس کې وي،خپل پلار او د لاټو پلار ته وایي،که تاسو دا کار وکړ زه دا زهر خورم او ځان وژنم.)

**نجلۍ( ګل پري):**پلار جانه دا زهر ګورې که زما دسمال دې ورکړ دا زهر خورم او ځان وژنم.

**د نجلۍ پلار:** ګوره ګل پري جانې لورې داسې مه کوه،ولې زما خبره نه منې،زه ستا دسمال نن ورکوم،که ته هر څه کوې ویې کړه.

**لاټو ( نیازالله) :** دغه دی دا پلار جانه دا بوتل کې ورسره شربت به زه هم لږ وخورم په خارج کې له دې نه غټ بوتلونه مونږ په شیشې نښاځایونو کې څکل ،دغه دی دا.

**د لاټو پلار:** غلی شه لوچکه خوله بنده کړه دا زهر دي،او هغه تا چې څکل هغه شراب وو،خوله دې بنده کړه.

**نجلۍ( ګل پري):**پلار جانه تاسو ته ټوکې ښکاري،خو زه یې په رښتیا څکم بیا به ډېر ارمان وکړې،د خدای لپاره زما ژوند مه بربادوه.

**د نجلۍ پلار:** لورې خیر دی داسې مه کوه ،دوی به ما ته ډېرې روپۍ راکړي زما به هم ژوند جوړ شي او ستا به هم جوړ ي.

( د نلجۍ پلار لا په همدې خبرو کې وي،چې نجلۍ د زهرو بوتل په سر راواړي او خپل پلار ته داسې وایي)

**نجلۍ( ګل پري):** پلار جانه دا دی زه لاړمه ته پوهه شه او ستا پیسې ته د پیسو او ولور په رواج کې دومره ډوب یې،چې زما ژوند درته ارزښت نلري.زه درنه لاړمه د خدای په امان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( نجلۍ په ځمکه راولویږي مړه شـــي ،پلار یې په چغو چغو وژاړي ،لاټو او د لاټو پلار وتښــتي او د نجلۍ پلار په دغه پیغام خپله تمثیلي ټوټه پای ته ورسوي.)

**د نجلۍ پلار:** ای خلکه غرق شـوم،تباه شـوم،برباد شـوم،د څو روپو په لالچ کې مې د خپلې لور خون په غاړه واخیســـته.خدای ته وګوری،دا ناسم رواجونه مات کړی،په خارج کې د لور ورکولو سزا خپلو بچو ته مه ورکوی.زه به هیڅ کله ځان ونه بخښم.

( تمثیلي ټوټه د نجلۍ د پلار په ژړا ژړا پای ته ورسیږي.)

پورتنۍ تمثیلي ټوټه چې د سټیج تمثیلي ټوټې د بېلګې په توګه مو رواړه په ژوندۍ بڼه د خلکو په وړاندې ننداري ته وړاندې شـــوه،چې په هغه وخـت کې د ډېرو خلکو د خوښـــې او د چکچکو پـه بـدرګـه پـای تـه ورسېده.د پورته تمثیلي ټوټې پیغام خلکو ته دا وو،چې د خلکو په وعدو او پیسـو مه غولیږی،که خپله لور او خور ورکوی،نو د پیسـو په مقابل کې نه بلکې د انسانیت او تعلیم په مقابل کې یې ورکړی،څو هم تاسو او هم مو اولاد په ژوند کې خوښ او خوشحال اوسي.( رحیمي،۱۳۸۹ ).

**راډیویي تمثیلي ټوټه**

راډیویي تمثیلي ټوټـه هغـه تمثیلي ټوټـه ده،چې پـه راډیو کې د خپریـدو لپـاره لیکل کیږي.پـه دې ډول تمثیلي ټوټـه کې هر کرکټر یـا لوبغاړی خپل رول تر ســره کوي.راډیویي تمثیلي ټوټه په یوه ســټوډیو کې ثبت وروســته ایډیټ او بیا د خپرولو لپاره اماده کیږي.نسـبت سـټیج تمثیلي ټوټې ته راډیویي تمثیلي ټوټه لږه اســـانه وي او دا ځکه چې که چېرې په راډیویي تمثیلي ټوټه کې کومه غلطي یا ستونزه رامنځ ته شي نو د بیا تکرار چانس یا موقع له کرکټر ســره وي،خو په ســټیج تمثیلي ټوټه کې د تکرار چانس له لوبغاړي ســره نه وي او هلته ممثل هره څه په پوره هوش او عقل ســره تر ســره کوي،څو کومه ســتونزه یا غلطي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسره نکړي.په راډيويي تمثلي ټوټه يا ننداره کې اکثره هغه موضوعات راخيستل کيږي،چې په غږ پورې اړه لري او تصوير يا نځور ته يې اړتيا نه وي.په دې ډول تمثيلي ټوټه کې غږونه انځورونه جوړوي او هر غږ ځانله يو انځور وي.دا ډول تمثيلي ټوټې د يو ښه پروډيوسر او ايډيټر په مرسته برياليتوب ته رسيږي.پروډيوسر يا ډايرکټر بايد تمثيل داسې اماده کړي،چې اوريدونکی له ځان سره يوسي.او تر اخره يې د تلوسې په مرسته له ځانه سره وساتي.په دې ډول تمثيل کې تلوسه او تجسس ډېر اړين دی که تلوسه ونلري يو بې معنی او هڅې غږونه به وي.په راډيويي تمثيلي ټوټه کې موزيک او سازونه ډېر رول لوبوي .

**بېلګه**

پخوا به هر کور حريم او برف انداز درلوده،نو ځکه به نه ګاونډيان ترې په عضاب وو او نه هم خپله،خو د ډالرو سيلابونو هم د کورنو حريمونه ويوړل او هم برف اندازونه.اوس زياتره خپلې واورې د نورو په سرونو او بامونو غورځوي لکه داسې.

**د تمثيل نوم: د خپل بام واورې سمبال کړئ.**

**لکيوال: ننګيار نا اشنا**

**لوبغاړي:**

**۱: حيا اورياخيل**

**۲: صادق سپين غر**

لومړی يوه ښځه د ګاونډي د کور دروازه په ډېره غوسه او قهرټکوي او د کور نه چې کوم سړی راوځي . ښځه او سړی خپلې مکالمې داسې پيلوي.

**ښځه(حيا اورياخيل) :** دا څومره بې شرمه خلک دي.

**صادق سپين غر:** خورې څه دې ويل؟

**(حيا اورياخيل) :** هو. هغه زوی دې د خپل بام واورې زمونږ انګړ ته را اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صادق سپین غر:** نو چېرته يې واچوي؟
**(حيا اورياخيل) :** په انګړ کې راسره شريک يې!؟
**صادق سپین غر:** شريک نه يم.
**(حيا اورياخيل) :** نو ولې واورې راچوئ.
**صادق سپین غر:** ځای نشته ،نو چېرته يې واچوو.
**(حيا اورياخيل) :** نو دا خو دتاسو مشکل ده ته ورته د حل لاره پيدا کړه.
**صادق سپین غر:** خورې په غوسه کېږه مه.دتاسو ګټه هم په کې شته. په انګړ کې مو ونې دي او چې هر څومره ډېرې واورې په کې ولوېدې هماغومره به مو نيالګي تازه وي.د واورې اوبه ځمکه جذبوي او ذخيره کېږي.

**ښځه(حيا اورياخيل) :** واه واه ! چې دومره هوښيار وې،ولې دې انګړ ته ځای نه پريښود.
**صادق سپین غر:** مونږ دې کوټو غم وکه،چې کوټې ډېرې شي،ځکه انګړ ته ځمکه پاتې نه شوه.
**ښځه(حيا اورياخيل) :** او اوس واوره زمونږه انګړ ته راچوی؟
**صادق سپین غر:** دومره واوره نده.هڅې دې زړه ورته په تنګ دی.پريږده چې څو ورځې ماشومان لخچکونه پرې وخوري.خواران به چېرته لاړ شي.
**ښځه(حيا اورياخيل) :** ګوره وه وروره! دا يوه ورځ نه ده.يو کال ندی د ټول عمر خبره ده. ځان ته دې د واورو اچولو ځای پيدا کړه،زه دې نور نه پريږدم چې زمونږه انګړ ته واوره واچوې.
**صادق سپین غر:** خورې!په غوسه کېږه مه. دغه سږ کال مې تاسې پرېږدی.بل کال ته يې دغه بل ګاونډي انګړ ته اچوم.که په بام يې پريږدم کوټې څڅېږي.لږ خو تاسو هم زړه راباندې خوږ کړئ کنه.
**ښځه(حيا اورياخيل) :** په خپل ځان به دې خپله زړه خوږ کړئ وو او انګړ به دې پريښی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صادق سپين غر:** ځه خير دی خورې! اوس سهوه راڅخه شوې ده.تاسو لږ ګوزاره راسره وکړئ.
**ښځه(حيا اورياخيل) :** مونږ ګوزاره نه شو کولی،چې هر څنګه يې کوې،زمونږ انګړ ته به واوره نه اچوې.
**صادق سپين غر:** خه که داسې وکړم،چې د تاسې انګړ ته يې واچوم او بيا يې دتاسې له انګړه دباندې کوڅې ته اوباسم.څنګه به وي؟
**ښځه(حيا اورياخيل) :** ته نو په هماغه خپل خره سپور يې او نه ترېنه کته کېږې.همدا اوس لومړی د کوڅې خلک درباندې راخبروم او بيا په حوزه کې عريضه درباندې کوم.
**صادق سپين غر:** نو دې ته مې مجبورې چې په ټول کور دې دعوه وکړم.چې د کور نيم قيمت دې رشوت ورکړم، دا کور دما دی،ته په نرمه ژبه پوهه نه شوې.
**ښځه(حيا اورياخيل) :** ځه خير دی.سږ کال يې واچوی بيا دې نه پرېږدم.(ننګيارناآشنا ،۱۳۹۸).

په پورته تمثيلي ټوټه کې،چې د ازادۍ راډيو د ګوړې اچار خپرونې لپاره ليکل شوې ،د ټولنې هغه قشر او خلک،چې خپلو مسؤليتونو ته نه متوجې کېږي او په ټولنه کې د نورو لپاره مشکلات او ستونزې جوړي او د بل په تاوان او شر کې خپله ګټه او خير لټوي،يو درس او نصحيت وړاندې شوی او ټولنه يې دې ته متوجې کړې،چې هيڅ کله هم بايد د نورو په مشکلاتو کې ځان لپاره سهولت مه لټوی او په دې تمثيل کې يې هغه متل هم راخيستی چې وايي د ( دخپل بام واورې د بل په بام مه غورځوی).ټولنه کې د همدې ډول تمثيلي ټوټو په مرسته سمون او بدلون راتللی شي او کوښښ بايد وشي،چې د تمثيلي ټوټو څخه مثبته ګټه پورته او منفي ته يې شا کړو.

### د راډيويي تمثيلي ټوټې بله بېلګه

دغه راډيويي تمثيلي ټوټه چې د مرکې په شکل پرمخ وړل کېږي،دوه کرکټرونه چې يوه ښځه د مرکه کوونکې په شکل او بل سړی د ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويونکي په شـــکل تمثيل کوي دغه تمثيلي ټوټه د ليکونو او ځوابونو په شکل سره ترسره کېږي.

**ليکوال: ننګيار نا اشنا**

**لوبغاړي :**

**سپوږمۍ**

**هارون ګلزاد.**

**نجلۍ کرکټر( سپوږمۍ) :** فيلفوس کړتو صيب ليکونه راواخلم

**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** را وايخله مه ورته ګوره.

**نجلۍ کرکټر( سپوږمۍ) :** دغه لومړی ليک مونږ ته N.O.T له صفر پنځه حوزې نه رالېږلی دی.او له سلامونو ورسته وايي،چې د شاوخوا کورونو کې مو زوغالي بخارۍ ايښـــې دي او ټول دودونه يې زمونږ کور ته راځيN.O.T وايي،چې د ګاونډيانو د بخاريو دودونو تورې پيشـــوګانې راڅخه جوړې کړي دي.د ورځې درې څلور ځله ارايش يا سنګار کوم.خو هيڅ ګټه نه کوي.

**هلـک کرکټر کړتو(هـارون ګلزاد):** نو ليـک کومې نجلۍ يـا ميرمنې رالېږلی دی؟

**نجلۍ کرکټر( ســپوږمۍ) :** هو کړتو صــيب هغه وايي،چې که کړتو صــيب دې خلکو ته لږ نصــيحت وکړي او دا راته ووايي،چې مونږ څنګه وکړو؟

**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** د N.O.T سلامونو ته وعليکم سلام وايم او د پوښـــتنې په هکله به يې ووايم چې نحصـــيت ګټه نه کوي،دا ځکه چې اوس چا ته نصـحيت کوې،هغه نور هم ضـد درسـره کوي او په اوبو کې پورته ځي.

**نجلۍ کرکټر( ســپوږمۍ) :** خـه نو دا څنګـه وکړي،چې دود يې مخ خراب نکړي؟

**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** دا دې داسې وکړي،چې سهار وختي دې مخ پلســتر کوي او د شـپې چې له کاره خلاصـيده بېرته دې پلسـتر لرې کوي. او که دې ما منې،نو تر پسرليه دې له ارايشه تېره شي. چې خدای مکړه نوره توره نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نجلۍ کرکټر( ســـپوږمۍ) :** خه دغه بل لیک ســـمندر خان رالیږلی او پوښـــتنه يې کړې ده چې مونږ کومې خوا ته روان یو د پرمختګ که شاتګ لور ته.

**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** سمندر خانه مونږ د نړۍ والو مخالف لور ته روان یو،نوځکه په هر منفي کار کې لومړی مقام اخلو.مثلآ په بې امنیتی کې،په اداري فســاد کې،په تقلب کې،په ککړتیا او نورو ټولو برخو کې لومړي مقامونه لرو.

**نجلۍ کرکټر( سپوږمۍ) :** سمندر خان وایي،چې مونږ ته ازار شوی که نه پوهیږو؟

**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** سمندر خانه ازار به هم شوی وي او ځان هم نه پوهو.هغه کار کوو،چې سمدلاسه ګټه راته رارسوي.لکه په بخاريو کې زغال سـوزو چې خه تاوده شـو.خو دودونه او ضـررونه يې نه سنجوو،چې په راتلونکي کې څومره تاوان راته رسوي.

**نجلۍ کرکټر( سپوږمۍ) :** نو اخربه څنګه شي؟

**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** اخر يې نو خدای ته معلومه ده.نړۍ خو يې له ټولو ډالرو سره معالجه ونه شوه کړی،بل لیک راوخله.

**نجلۍ کرکټر( ســـپوږمۍ) :** دغـه بـل لیـک پوډري خـاني رالیږلی او وایي،چې حکومت مو په غم کې ندی په دې ســـاړه ژمي کې مو نه احوال اخلي او نه راباندې ګرځي.د پولې ســـوخته لاندې په کوټو کوټو پراته یو ،خو حکومت یوه بخارۍ هم راته کېښنـــوده.که کړتو صـــیب حکومت راباندې خبر کړي.

**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** خانی مســت دی مســت.کنه حکومت په روغو ندی خبر څه خو لا پوډریان دي.بیا د پولې سـوخته لاندې خو بخارۍ څه ګټه نلري.هســـې هم پوډریان یو د بل په تخرګ کې ننوتلي دي. او ځانونه تودوي.

**نجلۍ کرکټر( ســـپوږمۍ) :** نو پوډریان خواران له یخنۍ ســـره څه وکړي؟

**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** امر دې واخلي او چارواکو د کورنو دیوالونو ته دې ډډه ووهي،چې تاوده شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نجلۍ کرکټر( ســپوږمۍ) :** دغه بل ليک ددک راليږلی او وايي،چې د وسلوالو غلو له ويرې له کوره نه شـي راوتلی.ځنګه وکړو،کاروبار ته ځنګه لاړ او راشو.
**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** غله رښــتيا هم ډېر شــوي دي او د سړي له تالاشی وروسته ډز کوي او سړی وژني.که رښتيادرته ووايم زه هم په ډار ډار له کوره راوځم.ددک نه چې ټول ښـــاريان مجبوره دي.داســـې دې وکړي،چې لـه يوه کوره دې بـل تـه لاره پريږدي او همداسې له يوه کوره بل ته او له بل کوره دې بل کور ته لاړ شی ترڅو سـرک ته اووځي.يا دې هم ددک يوه کراچۍ واخلي.سـهار دې له کوره کثافات په کې باروي او چېرته دې دوکاندار ته دروي.مازيګر يا ماښام دې بېرته له کراچۍ ســره کور ته راځي.چې غله ګومان وکړي،غريب سړی دی او پيسې نلري.
**نجلۍ کرکټر( سپوږمۍ) :** که کراچۍ ترې واخلي؟
**هلک کرکټر کړتو(هارون ګلزاد):** غله زياتره په موټر ســـايکل ســـپاره وي،کراچۍ نه شـــــې وړلی. هههههههههههههه دلته تمثيلي ټوټه په يو موزيک پای ته رسيږي.
پورته تمثيلي ټوټه،چې دوه کرکټرونه يو د هلک چې کړتو نوميږي او بله يې نجلۍ ده،چې دواړه خپل تمثيل په ليکونو پيلوي.نجلۍ ليک وايي او له کړتو يې ځواب غواړي.کړتو هم خپل ځوابونه ورکوي او خلکو ته په طنز کې نصـــيحتونه او د ســـمې لارې خبرې کوي.،چې پورته تمثيلي ټوټــه کې د ټولنې د ســـمون او جوړونې خبره شـــوې ده. ( ننګيارناشنا ،١٣٩٨).

## تلويزوني تمثيلي ټوټه

تلويزوني تمثيلي ټوټه هم سـټيج تمثيلي ټوټې په څېر په ليدلو او اوريدلو پورې اړه لري،خو په دې توپير چې په ســـټيج تمثيلي ټوټه کې ليـدونکی يـا اوريـدونکی هر څـه پـه ژونـدۍ بڼـه ګوري او دلتـه يې د تلويزون پر پرده ګوري.په تلويزوني تمثلي ټوټه کې مختلفې منظرې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



صـــحنې وړاندې کېږي او هر ډول ســـټوډيو ورته جوړېږي.تلويزوني ننداره يا تمثلي ټوټه هم د راډيويي تمثلي ټوټې په څېر په ســـټوډيو کې جوړېږي.که کومه صـــحنه غلطه شـــي په تکرار ډول جوړېږي.په دې ډول تمثيلونو کې د کرکټر کړنې او عمل ته ډېره پاملرنه کېږي او کله کله د ډېرو خبرو پر ځای يوه کتنه هم لوی کار کوي او خپل مطلب اغېز ښـــندي.مکالمې بايد د کرکټر يا لوبغاړي له حال او شـــان ســـره مناســـبې وي.پـه تلويزوني تمثلي ټوټو کې ډيزاينر،لايټ مين يـا رڼـا خورونکی،کمره مين يا کمره لرونکی،ســـنګاروونکي او ايډيټر پورې زياته اړه لري.ديادونې وړه ده،چې په دې ډول تمثيلونو کې د پروډيوسر لاس ډېر پراخ وي او په ډېرې هوښياری سره هره صحنه اماده کوي. پـه تلويزوني تمثيلي ټوټـه کې لوبغـاړي ډېر راحتـه او اســـوده ځکـه وي،چې که کومه مکالمه ترې غلطه شـــي،نو په تکراري ډول يې بيا ريکارډ کوي،خو په ستيج تمثيلي ټوټه کې بيا هر څه په ژوندۍ بڼه وي که لږه غلطي هم وشي،نو لوبغاړی مجبور دی خپله مکالمه ترميم کړي او نندارچيانو ته دا موقع ورنکړي،چې هغوی په دې پوهه شـــي،چې لوبغاړی يا کرکټر سهوه شو.

**بېلګه**

د تمثيلي ټوټې نوم: کروناويروسه مړ شې
ليکوال: شير احمد شيری
لوبغاړی:
۱: شيری
۲: شامو ( مستعار نوم)
د خپريدو ځای: لمر نړیٔ وال تلويزون
د ځپرونې نوم: د خندا شپه
د خپريدو نيټه: جمعې شپه،۱۳/۱/۱۳۹۹

لمر راډيو تلويزون،چې د نړۍ په ډېرو ځايونو کې ليدونکي لري او په پښـــتو ژبه مختلفې خپرونې خپروي،چې يوه خپرونه يې د خندا شـــپه ده.ياده خپرونه کې مختلف ميلمانه او کوربانه وي.د خندا شـــپه خپرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه تفریحي او له ټوکو ډکه خپرونه ده،چې په همدغه خپرونه کې یوه تلویزوني تمثیلي ټوټه د دوه کسانو لخوا چې یو یې شیر محمد شیری او بل یې د شـــامو په نوم کس دی،د کورنا ویروس په اړه یوه تمثیلي ټوټه جوړه او خپره کړه.یاده تمثیلي ټوټه کې شــــیری د کرونا ویروس رول لوبوي او شــامو د یو خبریال په څېر له کرونا ویروس ( شــیري) څخه پوښــتنې کوي،چې په یاده تمثیلي ټوټه کې له ویروس څخه د خوندیتوب پــه اړه یو لوی پیغـام هم پروت دی،نور بــه یې پــه تمثیلي ټوټــه کې وګورو،چې څه ډول پیغام دی.

**شـــــامو:** نن مو مو د خیره ســـره د کرونا کرونا ماحول کې د کرونا د ویروس سره مرکه ده،چې دا ولې په څه خاطر دلته راغی،او ولې یې د دنیا ټول انســـانان په وارخطایی کې واچول.څوک وژني،څوک مریض کوي،څوک یې د فکر او ســوچونو څخه لیوني کړي دي.نو کرونا جانه له تا مې لومړی پوښتنه دا ده،چې اول راته دا ووایه چې ته ولې دومره وحشـــــي یې،ولې په دومره وحشـــــي حالت کې راغلې،چې د دنیا ټول انسانان چې د هر مذهب دي،لیوني او سرګردانه دې کړل.

**شیری ( کرونا ویروس):** آففففرین افرین،لا تر اوسه پوری پوهه شوی نه یې،چې زه د څه شـــي لپاره رغلی یم.مکمله پټی شـپتله مو خلاصــه کړه.اوس هم په تاســو د موږک ګمان وکړم چې دا موږکان دي.خود به راځمه،په دې دنیا کې کوم حالت روان دی،خیر څنګه رانشــم،ورور – ورور وژني،مســـلمان د مســــلمان حق خوري،ظلم کوي،وینې روانې دي،بیچچچـاره بیببې مـانـا وینې روانې دي،زه مجبور شـــومـه چې راغلم،همدا اوس هم تاسو ته چانس دی،توبې وباسی توبې.

**شـامو:** یعنې ته عذاب یې؟شـه نو که دا راته وویاسـت چې ستا دوستان څوک دي؟ په دغه انسـانانو کې ستا دوسـتان څوک دي،ته خو د کرونا ویروس یې حتما به دوستان او دشمنان لرې؟

**شیری:** بیببیږږږ زما دوشمنان.....

**شـــــامو:** نه د دشـــمانانو پوښـــتنه نه درنه کومه هغه بیا وورســـته کوم،دوستان دې څوک دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شـــيرۍ:**بببررررړ،دوســـتان زما هغه څوک دي،چې څوک د ډاکټر خبرې نه مني،ماسـک نه اچوي،دسـتکشــې نه په لاس کوي،فاصـله نه مراعت کې،هغوی تـه کرونـا ټوکې ښـــکاري ،خو چې کلـه مې ونيو بببررررړ.

**شــامو:** شــه يعنې هغه څوک دې دوســتان دي چې د ډاکټرانو خبرو ته غوږ نه نيســي او بې پروايي کوي.ښـــه دا راته ووايه چې دښــمنان دې څوک دي؟ کرونا ويروسه.

**شـيرۍ:** دوشـمنان مې هغه څوک دي،چې څوک د ډاکټر په خبرو عمل کې،بببررررړ دستکشې په لاس کې،فاصله مراعتوي، او مخ ته ماسک اچوي،دا مې دښـــمنان دي دښـــمنان ،ولې چې زما زور پر هغوی نه رسيږي.هغوی رانه په مفتو کې بچ کيږي.

**شامو:** شه ستا ولې له انسانانو سره دشمني ده ؟ ولې له حيواناتو سره دشــمني نه کوې؟ څه دليل دی چې انســانانو ســره دشــمنی لپاره راغلی يې؟

**شـــيرۍ:** وی وييبيی وی وی، تا کله کوم حيوان ليدلی چې حيوان د بل حيوان غيبـت وکړي؟نـه يې کی.تـا کلـه حيوان لیـدلی ،چې بـل حيوان وژني؟ نه يې وژني. تا کله حيوان ليدلی چې د بل حيوان حق وخوري؟ نه يې خوري،نو ځکه مې حيوانات پريخوستل دا مرض ټول په انسانانو کې دی،هماغه ده چې انسانانو باندې عذاب نازل شوی دی.او زه راغلی يم.

**شـــامو:**ته دومره وحشــــي ويرويس يې،چې نه زوړ پېژني،نه ښـــځه ګورې،نه ځوان ګورې،نه ماشوم ګورې، هر چا ته راراوان يې دا ولې؟

**شـيرۍ:** بلکل ،بلکل که هر څوک بې پروايي وکړي،ډېر خلک داســې وايي،چې ما کرونا نه نيسي،زه مسلمان يمه،خو مونږ ته مسلمان،مونږ ته هر مذهب والا،چې په چا مو وس بر شـــو او د ډاکټر خبرې ونه مني،بببرررررررړ نو بيا په جامعه کې رانه شپه نه شي تيرولی.

**شامو:** ته يو چا جوړ کړی يېييييي او که خپله دا دنيا ته راغلی يې؟

**شـيرۍ:**دا کېســې پريږده،چې زه چا جوړ کړی يم،زه الله ج جوړ کړی يم،خو بيا هم درته وايم چې همدا اوس هم تاســـو ته چانس شـــته،توبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وباسی، سجدې وکړی،لمونځونه وکړی خپل،تیر شی د بل د حق خوړلو نه،د بیت المال د مال چورولو نه،دیتیم او غریب د حق د خوړلو نه،ګنې اوس خو قرنتین استی،بیا به ټول عمر قرنتین شی،

**شامو:** ستا څخه کرونا ویروسه ویره په کار ده او که یا تاسره دوستي؟

**شـیری:** بلکل زه نه د دوسـتی یم او نه د خپلوی،زه د ډار شـی یم،زه د خوف شـی یم،ولې چې زه د چا دوست نه کېږم،ما درته وویل چې زه د هغه چا دوسـت یم خخخخخههههه،زه خوشـحالیږمه چې د چا دوسـت،چې د ډاکټر خبرې نـه مني،مخکې مې درتـه دا ټولې خبرې وکړې،لوده ته خو هیڅ په خبره نه یې،ځې که نه تا هم ونیسم او قرنتین دې کړم.زه د هغه چا دوست یم چې د ډاکټرانو خبرې نه مني او د هغه چا دوشمن یم چې د ډاکټرانو خبرې مني.

**شامو:** ته دومره وحشی یې،چې د خلکو په سوچونو او فکرونو او کله کله په خوبونو کې ورځې،ولې دومره ظالم یې؟

**شیری:** بلکل –بلکل،تر څو دا خلک اصلاح شي،که اصلاح نه شي،هی پوهیږې بله اسـماني دبره هم درپسـې راروانه ده. په هغې به نور هم زلیله شی،اوس هم درته چانس شته توبې وباسی،توبې.

**شامو:** دوستانو تاسو د کرونا ویروس د خطرونو،د دوستۍ او دشمنۍ پـه اړه خبرې واورېدې،پـه دې هیلـه چې ټول لـه کرونـا ویروس څخـه ځان وسـاتی اوس ما او کرونا ته اجازه راکړی د خدای په امان. ( شـیر ۱۳۹۹،).

## ببلګه

لیکوال: سید فخرالدین هاشمي

د تمثیلي ټوټې نوم: ته زما د پلار نښانه یې ( د ټکان خپرونې زندان)

لوبغاړي:شیر احمد شیری ،سیف الدین خندان او ملګری یې

د نشر ځای: شمشادنړۍ وال راډیو تلویزون،ټکان خپرونه،۲۰۱۷م

دغه تمثیلي ټوټه چې ټول په کې درې ممثلینو برخه اخیستې ده او د شمشاد نړۍ وال راډیو تلویزون له خوا په ټکان خپرونه کې ،خپره شوې ده.په دغه تمثیلي ټوټه کې چې د ټولنې د هغې طبقې چې جرمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي او بیا زندان ته راځي،د هغوی د ژوند په اړه لیکل شـــوې ده،چې دا د تلویزوني تمثیلي ټوټې یوه بېلګه ده.مرکزي لوبغاړي یې شیر احمد شیری او سیف الدین خندان دی.
**ســـرتیری ( شــــیر احمد ):** وی د دې زندان منځ کې پیپل نو... په دې بندي جانان مې وایه سلامونه
والاکه ســـرتیریه ،هغه د بندیانو د بند موده چې پوره شـــوې ده، او د خوشې کېدو امر یې شوی،له زندانه یې خوشې کړه،چې خپلو کورنو ته لاړ شي.زر شه هله نو.
**ســرتیری ( شــیر احمد ):** خه قومندان صــیب په ســترګو ته بې غمه اوسه... ای مبارک دې شه لاس دې راکه خه شو چې راخوشې شوې. ځوانه دا راته ووایه چې په کوم جرم بندي شوی وې.
**زنداني:** صیب ما خپله میرمن په چاقو وهلې وه ځکه بندي شوم.
**ســرتیری ( شــیر احمد ):** ای خدای دې غرق کړه،میرمن مې په چاقو وهلې وه،په ښــځه نو څوک وار کوي.بې شــرمه په دې کار دې چې تا کړی دی،بدبخته انسانه.
**زنداني:** خو صیب څه وکړم په چیړقه یې ویشتلی وم.
**سرتیری ( شیر احمد ):** ځه ځه مخ دې ورک کړه بې شرمه.په چیړقه یې ویشتلی یم،فقط په ټوپک یې ویشتلی یې.دا مونږ لکه چې چیړقې نه خورو.ای هلکه بل بندي راخوشـــې کړی.بل بندي،راوځه باتوره.تا څه جرم کړی وو،چې بندي شوې وې.
**دویم بندي:** صیب ما مې له خوابنې سره جنګ کړې وو. ومې وهله او دوه غاښونه مې پرې مات کړل.
**ســرتیری ( شــیر احمد ):** هههههههههههههههههههههههههه وایم دا دې ایله د ســړي توب کار کړی دی. ههههههههههههههههه دغه ســتا جرم لګ د منلو وړ دی. هههههههههههه ډېر دې خه کړي ډېر دې ښــه کړي. خدای دې ژوندی لره ،جنګونه مه کوه،په چا غاښـــونه مه ماتوه،په چا پټکه مه کوه، دغه شــــان به بندي کیږې. دې څټ ته دې ګوره .... خوابنـــې دې وهلې ده....عجیبه خلک دي.څوک خوابنـــې وهلی، چا خوابنــې وهلې،څوک میرمن په چیړقه وهي....دغســې جرم کوی بندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږی،ولې جرم کوی... وا هلکه بل بندي راخوشـــې کړه.هی هی هی کاکا ودریږه.دا راته ووایه چې تا کوم جرم کړی ته خو ســـپین ږیری سړی یې ته یې ولې بندي کړی یې.
**دریم بندي ( سیف الدین خندان):** ما جرم اوس نه ،جرم مې پخوا کړی وو،ما خپله ځواني په زندان کې تیره کړه.
**سرتیری ( شیر احمد ):** داسې وایې بابا دا.
**دریم بندي ( سیف الدین خندان):** ما شل کاله خپله ځواني په دې زندان کې تېره کړه،په هغې وخت کې ســتا مرحوم پلار په دې زندان کې امر وو،لکه نن چې ته یې .
**سرتیری ( شیر احمد ):** د سرتیری د ژړا غږ. خخخخخخخخخخه .
**دریم بندي ( سیف الدین خندان):** ژاړې ولې ؟مړي دې خدای وبخښي.
**سـرتیری ( شـیر احمد ):** د ژړا په حالت کې.ګوره بابا،ته له دې زندان څخـه تـلـلـی نـه شـــې،تـه بـه ټـول عـمـر زنـدان کـې پـاتــې کېږې.خخهخخخخخخخخخه
**دریم بندي ( سیف الدین خندان):** زه خو ازاد شوی یم دا ته څه وایې.
**سـرتیری ( شـیر احمد ):** کاکا ته زما د پلار د دې زندان د لاس نخښـه یې،دا ځکه .
**دریم بندي ( سـیف الدین خندان):** پرېږده ته دا څه کوې،زه ځم نور په دې زندان کې نه پاتې کېږم.
**سرتیری ( شیر احمد ):** نننه ته نه شې تلی راځه هله نو بېرته زندان ته داخل شه. (هاشمي ،۲۰۱۷).

**د لوستلو تمثیلي ټوټه**

دا هغه ډول تمثیلي ټوټه ده،چې په ســټېج یا بل کوم ځای کې د اجراء کېدو او په هغې کې د نقش لوبولو په وړاندې ستونزې وي او په نندارېزه توګه وړاندې کیدای نه شـي،یوازې د لوستلو لپاره لیکل شـوي وي.دا ډول تمثیلي ټوټې زیاتره یوازې لوســـتل کېږي او کرکټرونه په کې رول نه شـــي لوبولی.دا ډول تمثیلي ټوټه د یوکس له لورې لوســـتل کېږي.دا ډول تمثیلي ټو ته ځکه نندارې ته نشـــي وړاندې کېدلی،چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيدای شـي،پېښــه يا موضـوع يې داسـې وي،چې ليکوال يا ممثل ته يې ســتونزې پېښـــي شـــي،نو ځکه يې ننداريې ته د ممثلينو په مرســته نه وړاندې کېږي.دا ډول تمثيلي ټوټې ډېرې کمې او په نشـت حسـاب دي.د دې ډول تمثيلي ټوټې ليکل ليکوال لپاره هم ستونزمن وي .

**يو اکټيزه تمثيلي ټوټه**

دا ډول تمثيلي ټوټه هغې تمثيلي ټوټې تـه ويـل کېږي،چې د يو کس لـه لورې پر مخ وړل کېږي.په يوه صـــحنه کې ټو لـه تمثيلي ټو ټه راټوليږي دا ډول تمثيلي ټوټه ډېره لنډه او په زړه پورې وي.ياده تمثيلي ټوټه د وخت د ضايع مخه نيسي او خلـک يې زياته خوښوي.په دې ډول ننداره يا تمثيلي ټوټه کې يو کس يا يو کرکټر کېدای شـي د دوو يا زياتو کسـانو اکټونه او مکالمې وړاندې کړي او همدا يو کس کيدای شـــي،څو مختلف غږونه او انځورونه د خلکو مخې ته تمثيل کړي.په يو اکټيزه تمثيلي ټوټه کې لوبغاړی يا کرکټر بياد ډېر ځېرک او هوښـيار وسـي،د تمثيل هر اړخ او د نندارچيانو د توجه او پاملرنې راړول د ممثل لپاره ډېر اړين دي،ځـکه چې پـه دې ډول تمثيلونو کې ممثـل يو کس وي او هره خوا او لورې بايدکنترول کړي،څو کولی شي،نندارچيان ستړي او تنګ نه شي.د دې ډول تمثيل د بيلګې په توګه به په لاندې ډول يو تمثيل وړاندې کړو.

**بېلګه**

دا يو اکټيزه تمثيلي ټوټـه ده،چې د يوه کس لخوا پرمخ وړل کېږي.په دغې تمثيلي ټوټه کې ليکل شــوې کېســه په ځانله ځان پرمخ وړي او خپل ليکل شـــوی پيغام خلکو ته په ډېر مهارت او هنر ســره رسوي،چې بېلګه يې په لاندې ډول وړاندې کېږي.

د تمثيلي ټوټې نوم: د دوبۍ لندن د شرکت خبرتيا

ليکوال: نګيار نا اشنا

لوبغاړی: بری افغانپور

د خپريدو ځای: ازادۍ راډيو د ګوړې اچار خپرونه،۱۹\۱\۱۳۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دوبۍ لندن د شرکت خبرتيا**

۱: د دوبۍ لندن شرکت يو تن داسې د اداري چارو کارپوه کس ته اړتيا لري،چې لاندې مهارتونه بايد ولري.
- لومړی: په نورو شرکتونو او مؤسساتو کې پنځويشت کاله کاري سابقه ولري.
- دوهم: عمر يې بايد له ديرشو کلونو زيات او له پنځلسو کلونو کم نه وي.
- دريم: په اداره او منجمنټ کې د ليسانس او ماسترۍ برسيره د نړۍ د يو معتبر پوهنتون څخه د دوکتورا او فوق دوکتورا سند هم ولري.
- څلورم: په انګليسي،فرانسوي،جاپاني،چينايي او لړو ډېرو نورو ژبو رواني خبرې او ليکنې وکړي.
- پنځم: قد يې بايد ار تجاعي خاصيت ولري، يعنې د ريس په مخ کې دوه نيم لويشتې او دماموريېنو په وړاندې دونيم متره اوسي.
- شپږم: د ويښتانو،سترګو او مخ رنګ يې مهم نه دی او ارايش يې هم خپله سليقه ده که يې کوي او که يې نه کوي.
- اوم: د ډريورۍ،خوشامند او ستايل لسنس لري او که يې نلري شرکت يې په کېسه کې ندی او حوصله يې تر ټولو مهم شرط دی او هغه هم دومره چې که د شرکت خاوند ورته په يوه ساه سل کنځلې وکړي، دی ورته څه ونه وايي. ځکه چې بيکاري زياته او کارونه کم دي.نو بايد ځان د شرکت د خاوند نادودو او ناخوالو ته ټينګ کړي. مينه وال دې ډېر زر خپل غوښتنل ليکونه د خپلو پنځلسو عکسونو سره يوځای د نوموړي شرکت د خاوند کور ته ورسوي.د انټريووګانو نېټې د ټيلفون د لارې اعلانيږي.( ننګيارناآشنا ،۱۳۹۸ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انټرکټ تمثيلي ټوټه**

دا هم د تمثيلي ټوټې او ننداريې په زړه پورې بڼه ده.دا تمثيلي ټوټه له ورو ټوکو ټکالو څخه واخله تر مبالغې او ظرافت پورې ځرګندونه کوي.د جوړښت په لحاظ په کې تمسخر او پېښې زياتې وي.ژبه يې تر ډېره په طنز پوښـــلې وي.جملې يې لنډې او خوږې،خو په زړه پورې وي.د طنز مالګه په کې دومره ډېره وي،چې ناست خلک له خندا شنه کوي.انټرکټ تمثيلي ټوټه زياتره کوميډي بڼه لري،ډېر کم داسې پېښـــيږي،چې په تراژيدي ډول دې وړاندې شـــي.( ځدراڼ ،١٣٨٥ : ٢٣).

**بېلګه**

په دغه ١۴ ثانيې انټرکټ ويډيو کې دوه هلکان ناست دي،چې يو سره په لاس کې موبايل دی او د ژورناليست دنده پر مخ بيايي او بل ته يې خولې ته ميک نيولی وي او په لاندې ډول ورسره مکالمه کوي.

١:روره ته ولې داسې بې حاله ناست يې؟

٢:واده په کار دی واده واده. دوه زره شلم کال راغی او غريب تباه دی.

١:ستا حکومت نه څه غوښتنه ده؟ سترګې دې چا ته دي؟

٢:سترګې خو مې جنکو ته دي. او له حکومت نه مې غوښتنه ده،چې څومره ژر کېدلې شي واده راته وکړي.

١: هههههههههههههه ( ۵٨).

**بله بېلګه**

په دغه ٨ ثانيې ويډو کې ،چې يو نفر په کې غټه ږيره پريښــــې او د وعظ او تبليغ په شــــکل خپلې خبرې کوي او په لومړيو کې کس فکر کوي،چې دا به کومه ښه مسله بيانوي چې کله يې اخر ته غوږ شې بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وي مکالمه يې په لاندې ډول ده.دا يو انترکټ تمثيلي ټوټه ده،چې يوه ټوکه يې په کې تمثيل کړې ده.

- زما مشـرانو او کشـرانو ورونو يوه خبره کوم او هغه دا ده چې دا کله څوک په لارو کوڅو کې جنګ کوي.
- نو مونږ او تاسو له په کار دي،چې مونږ ښه په قراره باندې شاته کېنو.
- چې هغه شاته ولاړ کسان هم دا جنګ وګوري.

په پورته مکالمه کې که څه هم د طنز په ژبه يوه لنډه ويډيويي مکالمه ده او ځيني خلک به دا فکر کوي چې دې نفر د کوم مولوي تمثيل کړی او دا يې ښـــه کار ندی کړی، خو په حقيقت کې نوموړي د جنګ نه د نفرت لپاره دا ويډيو جوړه او خلکو ته وړاندې کړې چې دا د طنز په ژبه هغه خلکو ته يوه درنه سپېره ده چې کله دوه کسان جنګ وي او دوی ورته ولاړ وي او يوازې سيل يې کوي. ( @abdurahim44 ، ۱۴۰۰ ).

**د محتوا له مخې د تمثيلي ټوټې ډولونه**

د محتوا له مخې هم تمثيلي ټوټه مختلف ډولونه لري،چې دلته بـه يې هر ډول جلا جلا معرفي او بحـث بـه پرې وشــــي.کلـه چې د ډرامـايي يـا تمثيلي هنر خبره کيږي،نو حتمـا بـه تراژيـدي او کميـډي انځورونه به د ليدونکو يا لوســتونکو ذهن ته راځي.د موضــوع په دې برخه کې لاندې هر ډول تر بحث او څېړنې لاندې نيول کيږي.

**تراژيدي تمثيلي ټوټه**

دا هغه تمثيلي ټوټه يا نندارليک دی،چې د غم،درد،ژړا ،وير حالت او پېښې په کې راغلې وي.دا ډول تمثيلي ټوټه په غمجن ډول پای ته رســـيږي.د دې ډول ننداري ليکل يو څه ســـتونزمن ځکه وي،چې کرکټر په کې ځان داســـې اماده کوي،چې خلکو ته واښــــايي ،چې دی څومره غمجن دی او د خلکو په زړونو کې د همدردۍ او ترحم جذبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولاړه کړي.دا ډول تمثلي ټوټـه پـه خلکو ډېر اثر کوي او خپلو مسؤلیتونو ته یې متوجه کوي.

**بېلګه**

**یتیم ماشوم**

د تمثیل نوم: یتیم ماشوم

لیکوال: تاج محمد رحیمي

لوبغاړي: شوکت ( ماشوم)

الیاس ( ښوونکی)

**ښـوونکی:** بچیه پلار دې څه کار کوي،چې ته داسـې خیرن او ناپاک ښوونځي ته راځې؟

**شاګرد:** ( ماشوم په سلګو سلګو) استاد جانه پلار مې په ځانمرګي برید کې شهید شو،زه اوس بې وسه او بېکسه یم،پلار نلرم،مشر وروړ مې نشته،مور سره مې پیسې نشته چې ماته پاکې جامې واخلي او زه هم د نورو زده کوونکو په څېر پاک ستره راشم.

**ښـوونکی:** ځویه کله او په کوم ځای کې دې پلار په چاودنه کې شـهید شو.

**شاګرد:** ( په وړه ژبه د خپل پلار کېسه داسې کوي) استاد پلار مې په کابل کې په یوه چاودونه کې شهید شو،زه دومره بې وسه یم چې کله له ښـوونځي نه کور ته لاړ شـم،له خپلې بکسـې نه کتابونه لرې کړم،په همدې بکســـه کې بیا د بوټانو رنګ،بورس او پالش واچوم.مور مې په سـرو سـترګو ژاړی او زه ورته وایم مور جانې ژاړه مه زه ښـار ته ځم،مور مې په سـر ښـکل کړي او په ژړا ژړا راته وایي زویه ځه الله دې مل شه.

**ښوونکی:** خه زویه چې کله ښار ته لاړ شې بیا څه کوې؟

**شاګرد:** استاد د ښار په یوه څنډه کې کینم او د خپلې بکسې نه برس،ټوټه او رنګ راوباسـم او بیا د دې ښـــار ړندو خلکو ته داســـې ناري وهم.ماما،کاکا راشه بوټان درته رنګ کړم،په لس روپۍ یې رنګوم،ډېر ښـایسـته یې رنګوم خیر دی راشـه که خوښ دې نه شـو پیسـې یې مه راکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښوونکی:** بچیه ته د ښار خلکو ته ړانده ولې وایې؟
**شـــاګرد:** ځکه ورته ړانده وایم چې تر ننه رانه چا پوښـــتنه ونکړه چې ماشومه په دې بکسه کې خو خلک کتابونه ګرځوي،نو ته په کې ولې د رنګ ډبی،برس او پالش ګرځوې ،ولې درس نه وایې تر ننه زما د حال پوښتنه چا ونکړه،هر څوک مې رټي او له ځانه مې لرې شړي.
**ښوونکی:** زویه له چا ګیله لرې کنه؟
**شـــاګرد:** نه اســـتاد له هیچا ګیله نلرم ځکه کله چې د انســـان د احســـاس ســـترګې ړندې او غوږونه یې کاڼه شـــي له هغوی ګیله کول کومه معنا نلري. دلته چا کې رحم نشـته،دلته انسـانیت نشـته،دلته څوک زړه نلري هر څوک خودخوا او د ځان غوښـــتونکي دي،زما هم خدای شـــته له بندګانو یې نه غواړم خپل همت او محنت په مرســـته د خپلې کورنۍ لپاره حلاله نفقه ګټم او بس.اســـتاد زه به د قیامت په ورځ د خدای په وړاندې د دې ظالمانو څخه شـکایت وکړم او خدای به یې ټولو ته سـزا ورکړي. ( ماشـوم په ژړا ژړا له سـټیج کوزیږي او تمثیلي ټوټه پای ته رسوي).( رحیمي ،۱۳۸۷ ).

**کومیډي تمثیلي ټوټه**

دا ډول تمثیلي ټوټه په خوندرو او له خندا ډکو کلمو او حرکتونو پیلیږي.د دې ډول تمثیلي ټوټو لوبغاړي یا کرکټرونو خبرې هم کومیډي جوړیږي،څو وکولای شـــي د خلکو پام ځانله راوګرځوي او د هغوی د توجـه وړ وګرځي.دا ډول تمثیلي ټوټـه پـه ټولنـه کې پـه هغو کړنو او خلکو ملنډې او ر شخند وهي،چې ټولنیز مسولیتونه نه پیژني او د خپلې ټولنې د خدمت لپاره کار نه کوي.کومیډي تمثیلي ټوټه یا ننداریک له پیل نه تر پای په خندا او طنز ډکه وي او هره برخه یې د خلکو پام ځانله راګرځوي.په دې ډول تمثیلي ټوټه کې مهمه خبره دا ده چې هر کرکټر د خپلو مکالمو ســـره ســـمه خبره ځانله جوړه کړي څو وکولای شـــي د خلکو خندا او زړه لاس ته راوړي.په دې ډول تمثیل کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوکو،مسـخرو او خندا د ټولنې د ښـکته او ټيټې طبقې احسـاسـاتو او جذباتو د وړاندې کولو هڅه کيږي.

## بېلګه

د تمثل نوم: ښه واده دې کړی بيا خو دې ممبارک شه
ممثلين: عالم زيب مجاهد او نظر محمد
نشر ځای: نشتر حال ستوډيو, مهران سی ډی هاوس

په دغه تمثيلي ټوټه کې،چې د سـټيج پر مخ د خلکو په وړاندې ننداره کيږي،دوه کسان،چې يو يې عالم زيب مجاهد دی او بل يې نظر محمد دی.دواړه يې پرمخ وړي.عالم زيب مجاهد څخه په کې پوښـتنې کيږي او هغه ځوابو نه ورکوي.تمڈيل په دې ډول پيليږي،چې لومړنی کس وايي،چې نن زمونږ سـره داسـې ميلمه دی،چې مور ورته وايي واده وکړه او دی انکار کوي،چې نور به له ميلمه څخه پوښـتنې وکړو او خپل تمثيل پيلوي. همدا د کوميډي تمثيلي ټوټې يوه ډېره ښـه او په زړه پورې بېلګه ده.

**عالم زيب مجاهد :** اوس راځي زما زلمی ميلمه.زلميه په خير راغلې؟
**نظر محمد:** خير اوسې.مالي روره لږ اوزګار يې؟
**عالم زيب مجاهد :** ولې څه کار دې دی.
**نظر محمد:** او جی
**عالم زيب مجاهد :** څه کار دې دی؟
**نظر محمد:** ما ويل چې دا مچ راڅخه وشـړې.های های دې مچ ته هم معلومه شـوې ده،چې ما واده کړی دی.هر وخت مې لکه خواښـې په غوږ کې بنګيږي.
**عالم زيب مجاهد :** ښه نو واده دې کړی،بيا دې مبارک شه
**نظر محمد:** هههههههه پاک مولا دې په داسـې بلا واړوه لکه زه چې پرې اوړيدلی يم.
**عالم زيب مجاهد :** دا ولې ته خو ډېر ګيله من غوندې يې؟
**نظر محمد:** روره ګيلـه من بـه نـه يمـه.بې تنخوا نوکر يم،د خپلې خواښې،اوو د خپلې ښځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عالم زیب مجاهد :** بس ژاړه مه،ښه نو دا واده دې ولې کولو؟
**نظر محمد:** هاجي بس نو مور مې راته ویلې زویه زه به مړه شمه،خو ستا په سر به څهره ( ګلان) ونه وینمه،ما ورته وویلې چې مور لږ صبر خو وکړه چې په خپلو پښو خو لږ ودریږو.
**عالم زیب مجاهد :** نو بیا مور دته څه ویل؟
**نظر محمد:** نو مور ته ویل،ستا دا کجې پښې ما ته معلومیدي،هیڅ کله هم په خپلو پښو نه شې ودریدلی.بس ویل یې واده وکړه واده.
**عالم زیب مجاهد :** ژاړه مه،ښه نو بیا دې څه وکړل؟
**نظر محمد:** بس جی لکه د کالج د هلکانو ،د بس په ستاپ ودریدم،خو مور مې دا فرمایش کړی وو،چې زه بوډۍ یمه ځانله به خپله ښځه پیدا کوې.بس نو د څوارلسمې سپوږمۍ په شان تکه سپینه،داسې غټې سترګې،داسې اوږدې زلفې او ونه د چینار ټیک یې په اوربل.
**عالم زیب مجاهد :** ښه ته نو په بس ستاپ باندې ودرېدې؟
**نظر محمد:** اوجی بس لکه د کالج د هلکانو د بس په ستاپ ودریدم.بس هرې جینۍ ته به موسکی کیدمه. چابي مې په لاس کې تاووله.
**عالم زیب مجاهد :** دا د موټر چابیانې ( کیلي ګانې) وې؟
**نظر محمد:** نه جي دا زما د زوړ سایکل چابیانې وې.ما پرې هسې د وچې شوشا ورکوله نن سبا خو ټول خلک همدا چل کوي.هغه سایکل هم صیبه چا رانه پټ کړ.
**عالم زیب مجاهد :** ځه مړه خدای به بل سایکل درکړي،خودا راته ووایه چې چا لفټ ( در وکتل) درکړو کنه؟
**نظر محمد:** او جي بس خدای مهربانه شو او مور له په منډه منډه راغلم،ما ویل مورې ممبارکه شه اینږور مې درله وکته.
**عالم زیب مجاهد :** خا،نو مور دې څه ویل؟
**نظر محمد:** نو مور مې راته ویل خا اینږور دې راله وکته،خو دا راته ووایه چې سپیاکې ( خوشیان) تپلی شي کنه؟
**عالم زیب مجاهد :** نو تا ورته څه ویل؟
**نظر محمد:** ما ورته ویل مورې،سپیاکې څه چې یوه ورځ به تا هم دیوال سره وتپي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عالم زيب مجاهد :** خه نو ډولی دې راوړه؟
**نظر محمد:** هو غم مې کور ته راوړو.
**عالم زيب مجاهد :** دا ولې ته خو بيا ژاړې ؟
**نظر محمد:** اخ اخ اخ اخ هااااااااااااااااااا
**عالم زيب مجاهد :** نا نو ته به خپلې ناوې ته څه فروټ ( ميوه ) راوړې او مور ته به يې نه ورکوې نو ځکه به درله خبرې کوي؟
**نظر محمد:** ويم ژاړم په دې هماغه مور چې ما ته به يې ويل چې ستا په سـر مې څهره نه وي ليدلي مړه به شـمه،اوس راته وايي ورک شه.بيکارشاه وی ښځې نه تاوېږې راتاوېږې ېېېېېېېېېې
**عالم زيب مجاهد :** نااا تا له په کار دي ،چې د مور خيال سـاتې چې کله ميوه راوړې،نو مور ته يې هم ورکوه کنه.
**نظر محمد:** د فروټو خبره دې وکړه،پرون مې يو کيلو امروت او نيم پاو مې غوزان ( چارمغز) راوړل،نو ښـځې ته مې ويل سـتا غاښـونه کلک دي،ته دا امروت وخوره او مور ته مې ويل ستا غاښـوونه نشـته دي،تا دا غوزان په خوله کې اړوه را اړوه.
**عالم زيب مجاهد :** نو په هغې يې درته خبرې وکړې؟
**نظر محمد:** نو په هغې يې راته دومره خبرې وکړې غوزان يې راته هلته اااااا
**عالم زيب مجاهد :** جنګ جګړه مو خو نه وه کړې؟
**نظر محمد:** بس هغوی خپلو کې جنګ شـروع کړو او وهلم يې زه.( ژړا )
**عالم زيب مجاهد :** هسې ته څه په رښتيا ژاړې ما ته لږ وګوره.
**نظر محمد:** کور کې مې وهل خوړلي،مړه تاسـې ټول وهل خوری خو چا ته حال نه وايې.
**عالم زيب مجاهد :** اوس دې د زړه خبره وکړه.
**نظر محمد:** بس ټول نـارينـه پـه يوه کشـتۍ کې سـپاره يو. ( مجاهد،۲۰۰۰م).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میلو تمثیلي ټوټه

میلو له یوناني ژبې څخه جوړه کلمه ده،چې معنا یې سندره ده او په اصطلاحي توګه دا هغې ډرامې یا تمثیلي ټوټې ته ویل کیږي،چې سندرې په کې زیاتې وي او هم پکې جذباتو او احساساتو ته ډېر زور ورکړل شوی وي.ظاهري شان او شکوت په کې مهم ګڼل کیږي.( هاشمي ،۱۳۸۹: ۱۹۹)

د تمثیل دا ډول هم ډېر مهم وي او د ټولنې منفي کرکټرونه د سندرو په ویلو سره د خلکو په وړاندې تمثیلیږي.دا ډول تمثیل که څه هم یو څه ستونزمن وي،خو په خلکو یې اغېز ډېر وي او د شعر یا سندرو په ژبه خلک دې ته اماده کوي،څو له بدو رواجونو او کړنو څخه ځان وساتي او د ټولنې سمو رواجونو او کړنو ته مخه کړي.دا ډول تمثیلي ټوټې ډېر لرغونی تاریخ لري ان د یونان لرغوني تمثیلونه په همدې ډول تر سره کېدل.نن سبا په ځینو تلویزونو کې دا ډول تمثیلي ټوټې زیاتې وړاندې کیږي،لکه د لمر نړۍ وال تلویزون په خندا شپه نومې خپرونه کې او همدا رنګه په ډنډوره خپرونه کې هم ترسره کیږي.

### بېلګه

لیکوال: شیر احمد شیری

د خپریدو وخت او ځای: لمر نړۍ وال تلویزون،د خندا شپه خپرونه،ماښام ۷ بجې.

ممثل: شامو ( مستعار نوم)

د تمثیلي ټوټې نوم: کرونا خپله دې کوه خپله کومه

په دغه بېلګه کې، د یوې سندرې په ډول چې په سر کې سروکی او بیا وریپسې یوه یوه لنډۍ اچول شوې ده،د طنز په شکل سره وړاندې شوې او د ټولنې د هغې ستونزې چې کرونا ویروس یادونه یې کړې ده،چې په نن سبا کې ورسره لاس او ګریوان دي.په دغه میلوډي تمثیلي ټوټه کې،یو کس،چې شامو نومیږي،د خپلې چمبې یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



داريا ســـره يادې ټپې په ډېرې هنر او تمثيلي غږ ســـره اوريدونکو ته وايي او دا پيغام ورکوي،چې خلک ځان له دې وژونکي ويروس څخه وژغوري او خپل ځانونه پاک وساتي.

ګل په شرنګ شرنګ هی ګل په شرنګ شرنګ
تور اوربل مې  خور دی ولونه ولونه
کرونا په تلو راتل وزياتيږي
ګل په شرنګ شرنګ هی ګل په شرنګ شرنګ
تور اوربل مې  جوړ دی ولونه ولونه
جانانه دلته مه راځه نه به درځمه

=====

ګل په شرنګ شرنګ هی ګل په شرنګ شرنګ
تور اوربل مې  جوړ دی ولونه ولونه
که قرنتين  يې غږ را وکړه
ګل په شرنګ شرنګ هی ګل په شرنګ شرنګ
تور اوربل مې  جوړ دی ولونه ولونه
که کرونا شوې بيا دې نه راځي غږونه
ګل په شرنګ شرنګ هی ګل په شرنګ شرنګ
تور اوربل مې  جوړ دی ولونه ولونه

===

د صحت عامې وزير  غوسه دی
ګل په شرنګ شرنګ هی ګل په شرنګ شرنګ
تور اوربل مې  جوړ دی ولونه ولونه
په کور کې کېنی ګنې ټول به وتړمه
ګل په شرنګ شرنګ هی ګل په شرنګ شرنګ
تور اوربل مې  خور دی ولونه ولونه
( شير ،۱۳۹۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تراژيدي کوميډي تمثيلي ټوټه

دا ډول تمثيلي ټوټې يا ننداره هم تراژيدي او هم کوميډي برخه لري.په دې ډول تمثيلونو کې دواړه اړخونه په يوه برخه کې تراژيدي يا خفګان او ژړا او په بله برخه کې يې کوميډي ،خندا يا مسخره راوړل کيږي.په اوسنيو راډيويي او تلويزوني تمثيلي ټوټو کې داځانګړنه جوته ده او ليکوال هڅه کوي چې په ليدونکي يا اوريدونکي کې د ليدلو او اوريدلو تلوسـې د زياتولو په موخه په تمثيلونو کې دا دواړه خواوې رانغاړي.په دې ډول تمثيلونو کې د ټولنې منفي خواواې کله په خفګان او کله په خندا يا رشـخند او مسـخره ټولنې ته وړاندې کيږي او ټولنه په دې اګاه کوي،چې خپلو منفي کړنو ته يې پام شـي او په راتلونکي کې ترې ځان وسـاتي.د دې ډول تمثيل ليکل ليکوال ته سـخت او سـتونزمن وي.

### بېلګه

تمثيلي ټوټې نوم: يوه دعا به وکړو.
ليکوال: اسعماعيل شاهد
لوبغاړي: اسماعيل شاهد،سيدالرحمن شينو او ملګري يې.
د نشر ځای: نشتر هال تياتر،مسافر سي ډي هاوس له خوا.
دغه تمثيلي ټوټه د ټولنې يوه برخه ده او کله چې يو څوک مړ شـي،نو خپل خپلوان او دوسـتان يې د مړي کور ته راځي او د غمرازی لپاره خپلې خبرې کوي،کله کله دا غمرازي دومره سـتړې کوونکي شـي،چې د مړي د کور خلـک ترې تنـګ شـي،چې پـه دغـه تمثيلي ټوټـه کې همداسـې يوه سـتونزه انځور شـوې ،چې په لاندې ډول يې ګورو. ياده تمثلي ټوټه هم تراژيدي او هم کوميډي ده.ځکه هم په کې ژړا او هم په کې خندا ده،چې په لاندې ډول يې د بېلګې په توګه وړاندې کوو.
**اسماعيل شاهد:** يا الله ته يې وبخې،جنتونه يې نصيب کړې،يا الله هغه دنيا يې ښايسته کړې،مرګ حق دی خلاصی ترې نشته.
**شامېرک:** راځی چې يوه دعا وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اسماعيل شاهد:** بس خدای دې وبخي،هغه دنيا دې ورله خدای ښايسته کړي.
**شامپرک:** مورږ خبر شو،خفه شو،چې پلار دې مړ شو.
**اسماعيل شاهد:** مه ژاړی،خدای دې وبخي،ټول مرو دا حق لاره ده.
**شامپرک:** های کاکاجي مړ شو،ډېر ښه سړی وو.
**اسماعيل شاهد:** بس حقه لار ده نور مه ژاړئ په ژړا څه نه کيږي.
**شامپرک:** يوه دعا به بيا وکړو.
**اسماعيل شاهد:** خدای دې وبخي،بس حقه لار ده ټول مرو. خدايه دا څوک چې ژاړي ته ورله صبر ورکړې،نور يې ورپسې ونه ژړوې.
**شامپرک:** دا مړ شو ؟دا په څه مړ شو.
**اسماعيل شاهد:** هو مړ شو،بس حقه لار وه .
**شامپرک:** ډېر ښه سړی و ما ته به يې هره ورځ پنځه روپۍ راکولې.يوه دعا به وکړو.
**اسماعيل شاهد:** هو هغه سخي سړی وو هر فقير ته يې پيسې ورکولې،خدای دې وبخي.
**شامپرک:** خه نو دا څنګه مړ شو؟
**اسماعيل شاهد:** بس بيمار و،څو ورځې بيمار وو وخت يې پوره شو او مړ شو....
**شامپرک:** خه نو څو ډاکټرانو ته مو وړی و؟
**اسماعيل شاهد:** بس کره نورې خبرې پريږده بس وخت يې پوره شو او مړ شو.
**سيد الرحمن شينو:** په چغو او ژړا صحنې ته راځي او خپلې خبرې داسې پيلوي:. وای خخخخخخه واييی الله دې وبخي مړ شو،اخر هم مړ شو،ما ته خو به يې لږ صبر کړی وو کنه.
**اسماعيل شاهد:** بس ډېر وارختا و.
**سيدارحمن شينو:** بس يوه دعا به وکړو،نرۍ باران وو پاس په لوړو يې وروينه ....ما ويل يو تمبو يا تجير به مو ودرولی وی چې باران ونه شي.
**اسماعيل شاهد:** نه تمبو مو لږولی باران نشته بس خدای دې وبخي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سيدالرحمن شينو:** يوه دعا به بيا وکړو،دا به د پاک الله رضـا وي.چې خدای باک هغه په حق ورسولو.
**اسماعيل شاهد**: چپ شه مړه مونږ دې له ځان سره غلط کړو په مړي کې څوک سندرې نه وايي.
**سـيدالرحمن شـينو:** په ما باندې ډېر ګران وو،وايم په ما ډېر ګران وو،زما دوست وو،ما پرې ځان قربان ولو.
**اسماعيل شاهد**: بس زما په پلار هم ته ډېر ګران وې خو حقه لار ه ده ټول په همدې لاره روان يو.
**سيدالرحمن شينو**: نه نو ستا پلار په رښتيا هم مړ شو؟
**اسماعيل شاهد**: نه مړ نه دی ژوندی دی،خو مړ ی دی دا حقه لاره ده او بس مړ شو.
**سيدالرحمن شينو**: يوه دعا به بيا وکړو؟
**اسماعيل شاهد**: بس کړه مړه تنګ دې کړم بس خدای دې وبخي.
**سيدالرحمن شينو**: خه جنازه يې شوې ده.
**اسماعيل شاهد**: خود يې جنازه شوې مسلمان وو او اوس خښ شوی دی.
**سـيدالرحمن شـينو**: خدای دې يوزلې بيا وبخي زما ډېر ګران ملګری وو،زما په اړه يې درته څه نه وو ويلي.؟
**اسماعيل شاهد**: هو هو ستا په اړه يې راته ويلي وو کنه.نو م دې څه دی؟
**سيدالرحمن شينو**: نوم مې انځر ګلی دی؟
**اسماعيل شاهد**: هو انځری يې ياد کړی دی کنه مونږ خو تا پسې په اسمان کې ګرځېدو خو ته خدای په ځمکه راکړې.په تا خو زما د پلار پنځوس زره روپۍ وې هغه به له تا اخلم.
**سـيدالرحمن شـينو**: څه څه نه نه زه هغه نه پېژنم په ما دچا پيسې نشته،کيدای شي ما مړی غلط کړی وي زه به کوم بل مړي ته تلم...( شاهد،۲۰۰۰م).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د موضوع له مخې د تمثيلي ټوټې ډولونه

د موضـــوع له مخې تمثيلي ټوټې يا نندارليکونو کې کوم بنديز نشــته،ټول هغه څه چې د بشــر او انســاني ټولنې په ژوندانه پورې اړه لري د تمثيلي ټوټو موضـوع ګرځېداى شـي.موضـوع هغه اساسـي فکر او مطلب ته وايي يا هغه انګيزه او محرکه قوه ده چې د ليکوال د ليکلو عمليه پر هغې راڅرخي او مخکې تر ليکلو نه ذهن کې پخه شـــوي وي. د موضـــوع په دې برخه کې به لاندې هر ډول تر بحث لاندې ونيسو .
(هاشمي ،١٣٨٩: ٢٠٦).

**اخلاقي تمثيلي ټوټه**

پـه دې ډول تمثيلي ټوټـه کې د ټولنې د اصـــلاح او اخلاقو د ســـمونې کوښـــښ کېږي.دا ننداره يا تمثيلي ټوته زياتره د ټولنې منفي خواوې پــه ګوتــه کوي او خلکو تــه وړانـدې کوي.ليکوال کوښـــښ کوي،چې د ټولنې د اخلاقو لومړى منفي خواوې خلکو ته په ګوته او بيا وورسـته ورته د نصـحيت په ډول د مثبتو او ښـو اخلاقو نمونه وړاندې کړي،څو ټولنه وکولاى شـي د سـمون خواته حرکت وکړي.په دې ډول تمثيلي ټوټو کې کوميډي او تراژيدي دواړه خواوې راتلى شـــي او يا کېداى شـي يوازې کوميډي يا تراژيدي خوا غوره شـي،خو په اصـل کې موخه د ټولنې اصلاح او سمون دى.دا تمثيلي توټې کېداى شي،په سټيج په ژوندۍ بڼه او يا هم په راډيو يا تلويزون هم خپرې شـــي.که په هر ځاى کې خپرېږي،خو موخه او هدف به يې د ټولنې د سمون او اصلاح کول وي.د ليکوالۍ هنر نومې کتـاب ليکوال د اخلاقي تمثيلي توټې پـه اړه خپل نظر داســـې څرګندوي:(اخلاقي تمثيلي توټه يا نندارليک هغه نندارليک ته ويل کېږي،چې موضـوع او مضـمون يې د نېکۍ او بدۍ پـه پرتلنې ولاړ وي.د دغوننـدارليکونو يـا تمثيلي ټوټو،چې لـه مـذهبي نمانځنو يې ســرچينه اخيســتې،د رنســانس د دورې تر لومړيو پورې رواج درلود.).( هاشمي ،١٣٩٣: ٢٢٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولسي تمثيلي ټوټه

ولســـــي تمثيلي ټوټې زياتره د ولس په منځ کې راټوکېږي او د ولس د منځ څخه بح ث کوي.که چېرې د ماشـــومونو لوبو او کېســـو ته غوږ شـو هغوی هم خپلې لوبې او کېسـې په تمثيلي ډول پر مخ وړي.که ماشـــومان له يوې خوا ځانګړې کېســـــې لري،خو د کېســـــو د تمثيل او ښودنې لپاره يو لړ حرکتونه او خوځښتونه هم د کېسې له تړاو سره سم تر ســـره کوي.د بېلګې په توګه د ماشـــومانو د نانځکو جوړول او بيا د هغوی واده کول او هغوی ســــــره خبرې کول دا خپله د ولســــــي تمثيلي ټوټې بېلګه ده.( سنګروال ،۱۳۹۰ : ۲۵۴).

ماشومان خپله هره کړنه تمثيلوي او نورو ته يې وړاندې کوي.د بېلګې په توګه د چينترو لوبه که وکتل شي هلته ماشومان تمثيل کوي او د خپل ســـاعتيرى يوه وســـيله همدا لوبې او تمثيلونه ګڼي.يوشـــمېر څېړونکي انګيري چې آتڼ تر ويدي پير د مخه هم دود وې چې دا هم د تمثيل يو ډول دی،چې اوس هم د پښـــتنو د ملي اتڼ په نامه يادېږي او د هر عمر خلک کولای شـي په اتڼ کې برخه واخلي.د پښـتو ادبياتو په ولسـي ادب کې هم ولســـــي تمثيلونه يا تمثيلي ټوټې فولکلوريکې بېلګې لري،چې د تمثيل هنر په کې پالل شوی دی.د بېلګې په توګه پښتو لنډۍ،د اتڼ نارې يا کاکړۍ غاړې،چې پېغلې يا ځوانان په کې رنګ رنګ حرکتونه او تمثيلونه کوي،چې مثال يې په لاندې ډول راوړو:

بېلګه:

هلک: ستادې قسم په حسن خپل وي
که يار دې بل وي ماته راکړه جوابونه
نجلۍ: زما دې قسم په حسن خپل وي
که يار مې بل وي زه دې اور واخلم مينه
نجلۍ: زما په مخ دې پرار جوړ کړ
زه به بخيلې مور ته څه ځواب وايمه
هلک: مور ته دې داسې ځواب ورکړه
زه له ګړي سره ويالې ته ووليدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ: مور به مې داسې راته وايي
ګړی دې روغ پر خولې دې راوړل پرهرونه
هلک: مور ته دې داسې ځوابورکړه
ګړی په خټه زه په ګټه وولېدمه
( سنګروال ،۱۳۹۰: ۲۵۸)

دې ته ورته نورې بېلګې یې هم په پښتو ولسي ادب کې لیدلی شو،خو اوس دلته د ولسي تمثیل خبره ده،نو ویلی شو ولسي تمثیل هغه تمثیل ته ویل کېږي،چې د ولس له منځه راوتی وي او د ولس هر قشر په کې ونډه لرلی شي.بښه مثال یې مونږ د اشر ورکولی شو،چې ولس په یوه چغه د یو کار لپاره راوځي او هغه کار په ګډه ترسره کوي. یا ولسي تمثیل یا ننداریک هغه تمثیلي ټوټې ته وايي،چې زیاتره کلیوال او ولسي ژوند پورې اړوند مسایل په کې انځورېږي او په ساده ولسي کچه په مختلفو بڼو وړاندې کېږي،چې مخکې یې مونږ د بېلګو یادونه وکړه.

**د اتلولۍ تمثیلي ټوټه**

دا هغه ډول تمثیلي ټوټې دي،چې زیاتره په کې د اتلانو کارنامې او کیسې وړاندې کېږي.دا ننداریکونه په لرغونو زمانو کې ډېر دود وې،چې اتلان به یې نومیالي جنګیالي او توریالي وګړي وو.په اوس وخت کې هم دا ډول تمثیلونه په ځانګړو مراسمو په ځانګړي ډول د افغانستان د ازادۍ، دروسانو د وتلو یا انګریزانو د ماتو ورکولو په ورځو کې په ځینو مجلسونو او پروګرامونو کې وړاندې کېږي. ښه بېلګه یا مثال یې د د افغانستان د ازادۍ د ۱۰۰ سلمې کلیزې په مناسبت په شمشاد نړۍ وال راډیو تلویزون کې جوړ شوای پروګرام وو، تمثیلي ټوټو کې راتلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تاريخي تمثيلي ټوټه**

دا هغه ډول نندارليکونه دي،چې د يوې ټولنې تاريخي پېښې په کې انځورېږي.په دې ډول تمثيلي ټوټو کې د ټولنې تاريخي پېښو ته پاملرنه کېږي.بېلګه مثال يې انګريزانو ته د ماتې ورکولو او د ملالۍ د لنډۍ د ويلو پېښه ده.يا د احمد شاه بابا د وخت تاريخي پېښې دي،چې دې ته تاريخي تمثيلي ټوټه ويل کېږي.د يادونې وړ ده،چې په دې ډول تمثيلونو کې ټول تاريخ نه بلکې د تاريخو پېښو غورچاڼ په لنډ ډول وړاندې کېږي،ځکه چې د تمثيلي ټوټې غېږه تنګه وي،نو نه شو کولای ټوله پېښه په کې انځور کړو .

**غوټه لرونکي تمثيلي ټوټه**

دا هغه تمثيلي ټوټې دي،چې په منځنيو پېړيو کې دودو وې ،چې اصلي موخه او هدف يې په اروپا کې د مسيحي دين ترويج او تبليغ و.په اوس وخت کې غوټه لرونکي تمثيلي ټوټې ډېرې نه ترسترګو کېږي.( هاشمي ،۱۳۹۴: ۴۱۲).

په دې ډول تمثيلي ټوټو کې د موضوع سپړل ليدونکي يا اوريدونکي ته پرېښودل کېږي او قضاوت کوونکی يې خپله ليدونکی يا اوريدونکی وي.په اوس وخت کې د عيسويت د ترويج لپاره په ځينې هېوادونو لکه پاکستان،هند،ايران او نورو هېوادونو کې ځينې رسنۍ شته ،چې په تمثيلي توګه د عيسويت تبليغ تمثيل کوي او د خلکو په ذهنونو کې د ياد دين په اړه يو ذهنيت ورکوي.

**مذهبي تمثيلي ټوټه**

هغه تمثيلي ټوټې،چې ټولنيز مشکلات او ستونزې په کې په انتقادي ډول مطرح او د حل لاره يې ښودل شوي وي.دا ډول تمثيلونه مذهبي بڼه لري،خو په افغانستان کې د دې ډول تمثيلونو د ليکلو ليکوال ډېر کم دي او دا ځکه،چې په دې سنتي ټولنه کې مذهبي تمثيلي ټوټې وړاندې کول نور مشکلات او ستونزې زېږوي،خو په نورو مذهبونو کې د دې ډول تمثيلونو وړاندې کول ازاد دي او هغه ټولنې چې غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مذهبي مشــکلات او ســتونزې د تمثل په بڼه خپلو خلکو ته وړاندې کړي او د حل لاره ورته پیدا کړي.

**بېلګه**

دتمثیلي ټوټې بېلګه
لیکوال :عبدالبصیر مینه پال
د تمثیلي ټوټې نوم: زه څنګه په لمانځه کولو راغلم؟
یو ځوان چې له لمانځه څخه غافله شوی وو، هیڅکله به یې لمونځ نه کوو. نوموړی وایي ډېر ساده او آسانه په لمونځ کولو راغلم. یوه ورځ په ټولګي کې ناست وم، د دیني علومو ساعت شروع شو، ښوونکی چې څنګه ټولګي ته راغی؛ نو پوښتنه یې وکړه: ستاسو په نظر کوم ډول خلک لمونځ نه کوي
 لومړني زده کوونکي: د معصومیت په بڼه وویل : هغه خلک چې مړه شوي دي، لمونځ نه کوي
 دویم زده کوونکي:د ندامت په ډول وویل:هغه خلک چې لمونځ یې زده نه وي، لمونځ نه کوي
 دریم هلک: له خپل ځای څخه ولاړ شو او معقول ځواب یې ورکړ:هغه خلک چې مسلمانان نه دي، لمونځ نه کوي. (په همدې شکل څلورم هم وویل) :هغه خلک لمونځ نه کوي، چې کافران دي (په ترتیب سره پنځم هم وویل) :هغه خلک چې له الله تعالی څخه نه وېرېږي، لمونځ نه کوي ( ټولو زده کوونکو خپل نظرونه څرګند کړل، خو زه په فکر کې ډوب شوم او له ځان سره مې وویل؛ چې زه له کومې ډلې څخه یم؟ آیا زه مړ شوی یم؟ نه، زه خو ژوندۍ یم !آیا زما لمونځ نه دی زده؟ نه، لمونځ مې هم زده دی .آیا زه مسلمان نه یم؟ الحمدلله! مسلمان یم .آیا زه کافر یم؟ نعوذبالله .آیا زه له الله تعالی څخه، نه وېرېږم؟ ولې نه! الله تعالی قهار ذات دی، ماته په قهر نشي !نو ولې لمونځ نه کوم؟ له ځان سره مې وویل: ښه! که د قبر په اوله شپه کې پوښتنه راڅخه وشي .ژوندۍ وې . لمونځ دې هم زده وو .مسلمان هم وې .له الله څخه هم وېرېدلې؛ نو ولې دې لمونځ نه کاوه؟ څه ځواب به ورکړم؟ ځو ټکانه مې وخوړل او له هماغې ورځې مې کلک تصمیم ونیوه چې نور به په هیڅ حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ نه پرېږدم .راځئ! تاسي هم له ځان سره په دې اړه یوه شیبه فکر وکړئ !!!رسول الله  فرمایلي- :بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ. (مسلم: ۸۲) ژباړه- :د مسلمان او کافر تر منځ فرق په لمانځه کې دی .ګرانه وروره !همدا اوس الله ته توبه وباسه او قوي اراده وکړه چې، له نن څخه وروسته به یو لمونځ هم نه قضاء کوم، که چېرې پدې تمه یې چې، سبا یا هم بل وخت به توبه وباسم؛ هسې نه چې، مخکې له توبې ویستلو څخه مړ شې، هسې نه چې بدعمله له دې فاني نړۍ څخه ولاړ شې، داسې ډېر ځوانان تللي چې، بیا هیڅ نه وي راغلي .ګرانه وروره !هیڅکله د الله تعالی له رحمت څخه مه ناهیلی کېږه، هغه ډېر مهربانه ذات دی، د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړه او امید ساته چې ماته به بخښنه کوي

**اشاروي تمثیلي ټوټه**

اشـــاروي تمثیلي ټوټه هغې تمثیلي ټوټې ته ویل کېږي،چې ټوله مکالمه او کرکټر یې په اشـــارو خبرې کوي.په دې ډول تمثیلونو کې له اشـــارو ،علامو او کنایو کار اخیســـتل کېږي.بېـــه بېلګه یې مونږ د الجزیرې تلویزون د ګونګیانو د خبرونو مثال ورکولی شـو. په افغانسـتان غوندې ټولنه کې د اشـــاروي تمثلي ټوټې ارزښـــت په دې کې دی که څوک نه شـــي کولای د یو چا منفي ټکي په خوله بیان کړي،نو په اشـــارو خو یې بیانولی شـــي.یا ښـه مثال یې په ښـارونو کې په دېوالونو د هغه انځورنو جوړول،چې د فساد،رشوت او ناوړه کړنو په اړه جوړ شوي وي.

**بېلګه**

دا یوه تمثیلي ټوټه ده چې په اشاروي توګه ترسره کېږي

**لومړی کرکټر شپونکی**

په لومړي سـر کې یو تن چې د شـپونکي په بڼه یې ځان جوړکړی وي، لویه چپنې ته ورته کورتۍ یې په تن،ملا یې په ځادر تړلې او په لاس کې یې یو لوی لرګی ( ډانګ) د سـټیج مخ ته راځي لکه د کوچي روان وي رمو پســـې شـپیلي وهي او د حیواناتو په ژبه غږ کوي. په بیګرونډ کې ورپسې د میږو او پسونو اوازونه غږېږي.داسې فکر کېږي چې یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممثل عمل يوه رمه مخکې کړې او روان دی. شــــپونکی لا په خپلې رمې پسې روان وي چې په دې وخت کې يو بزګر راشي.

**دويم کرکټر بزګر**

په دويمه صحنه کې يو سپين ږيری سړی چې شليدلې جامې يې په تن وي د غنمو بوری يې پر شاه راروان وي کله چې خپل پټې ته رسيږي بوری په ځمکه ږدي،د تندي خوله په لســـتوڼي پاکه کړي او بيا غنم په لمن کې واچوي او خلکو ته داســـې ښـــايي لکه دی چې په پټي کې غنم شيندي.

**دريم کرکټر خټګر**

بزګر لا په کرونده کې بوخت وي چې سټيج ته دريم کس چې بېلچه يې په اوږده ده راروان دی او خپل لويدلی ديوال جوړوي خټه تياروي او پسخه وهي.خټګر په خپله خټه جوړولو بوخت وي کار کوي چې په دې وخت کې يو نجار صحنې ته راشي.

**څلورم کرکټر نجار**

نجار ســـره په لاس کې تيشــــه،اره او د نجارۍ نور واړه وســـايل وي او صـــحنې ته راشـــي.د راتګ ســـره ســـم خپل متر يا (پيټه) له بورۍ څخه راواخلي او په اندازه کولو پيل وکړي داســـې ښـــايي چې نوموړی عملي لږيا دی يوه دروازه يا کړکۍ اندازه کوي او د دروازو د جوړلو اندازه يا ناف اخلي.

**پنځم کرکټرموچي**

کله چې موچي صـــحنې ته راشـــي خپل بورس،رنګ او بوټان له خلتې راوباســـــي او په بوټانو ګنډلو او رنګولو پيل وکړي.دوی لا په خپل کا کې بوخت وي،چې د دوی تر شاه د ښوونځي ماشومان چې دوه هلکان او يوه نجلۍ وي راشـــــي په ټولګي کې د خپلې تختې مخ ته کېني او په درس ويلو پيل وکړي او ښـــوونکی يې راشـــي په درس پيل وکړي.کله چې صـحنه له دې ټولو کسـانو څخه ډکه شـي نو په دې وخت کې يو بل کرکټر راشي چې د هغې کړنې په لاندې ډول وي.

**پردی يا بيګانه کرکټر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو كس چې توري جامې او نقاب يې پر مخ وي د شيطان په څېر راشي كله چې وګوري ټول خلک په خپلو كارونو بوخت دي او د خپل وطن په ابادۍ مصرو ف دي، نو سر وخوري او له ځان سره وايي چې دوی ټول به په جنګ اچوم. لومړی راشـــي ښــــوونكی ووهي او هغه له ښــوونځي څخه په وهلو وهلو وشــړي.بيا له تختې څخه ټول ليكل پاک كړي څو ماشومان له ليک او لوست څخه محروم پاتې شي.له ماشومانو كتـابونـه ټول او څېرې يې كړي ښــــوونځی وران ويجـاړ كړي،تختـه وغورځوي ټولګی وســوزوي...د افغانســتان لويه نقشــه ولاړه وي هغه ســـرچپه كړي او د كراس يا چلي پا علام پرې راكاږي.كله چې نقشــــه ســـرچپه كړي او د چليپا علامه پرې راكش كړي نو په دې وخت كې همدا شـيطان نما انســان چې څهره يې وحشــتناكه وي او پردی جاسـوس او غلام وي خپل نوكان ترنګوي او هغه شپونكي ته ووايي چې دا نقشه نجار چپه كړې.بيا دهقان راولي او ورته وايي چې نقشــــه چوپان چپه كړې بيا همداســي موچي او نجار ته شــيطاني وكړي او په دې ســره په صــحنه كې ټول وګړي لاس او ګريوان شـــي او شــيطان ډېر خوشــحاله وي چې هېواد وال خپل وطن ورانوي او خپلو كې جنـګ كوي.جنـګ دومره ګرم شي چې په ټولو سرې وينې رامتې شي په وينو كې لت پت پراته وي.اخ و ډب شروع شي خپلو كې سره په جنګ شي.همدا شيطان نما انســـان ټولو ته په لاس كې وســـله وركړي او يو بل ته وايي چې په ټوپک يې وولی څو مړه شي.ښوونځی وران شي، هر څه ګډوډ شي او بيا په دې وخت كې دا سندره وغږيږي.

په خپل وطن كې جنګ راته جوړ دی
هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم
پردی غوبل دی پردی اثر دی
هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم
زما ګريوان يې ريشې ريشې كړو
زما وجود يې ټوټې ټوټې كړو
زما ګريوان يې ريشې ريشې كړو
زما وجود يې ټوټې ټوټې كړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردی ټوپک دی پردی سنګر دی
هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم

د همدې سندرې د غږېدلو په دوران کې يو بل تن چې سپينې جامې يې پر تن وي هک پک حيران پاتې شـــي هرې خوا چې ګوري هر څه ګډ وډ وي،نو راشي او هر يو زخمي په خپل غېږ کې راجګ کړي او پخلا يې کړي او سـندره همداسـې روانه وي د سـپينو جامو والا له سـترګو اوښـکې بهيږي.له هر يوه ټوپک واخلي او لرې يې ګزار کړي.کله چې يو يو تن راجګ شي يو بل ته ګوري حيران شي هغه سپينو جامو والا ټوپکونه مات مات کړي او لرې يې ګزار کړي.بيا لاړ شي د افغانستان نقشه راواخلي او د لطيف ننګرهاري دا سندره شروع شي.

لو لپه شوم اور مې واخيست په فرياد او په سوران يم
نور مې بچ کړی ای! بچيان ستاسو کور افغانستان يم
ځوک مې ويشي په څو برخو بېلوي رانه اندام
ځوک مې غواړي چې ما خرڅ کړي جوړوي رانه غلام
بس دی بس دی خدای لپاره لږ مې پرېږدی په قراره
زه له هر څه يم لويدلی ورکه شوې رانه لاره

......

دا سندره لا ختمه نه وي چې په تالار کې يو شور او چک چک شروع شـي کله چې دا ټول خلک سره پخلا شـي د تالار زيات ناسـت خلک د سـتيج مخ ته راشـــي او دې هر يو ته غاړه ورکوي او د پخلا کولو کوښـښ يې کوي.سـپينو جامو والا شـخص د ټولو لاسـونه لاس په لاس کړي او يو موټی او يو زنځير ترې جوړ کړي.د اتحـاد او اتفـاق يو سـمبول ترې جوړ شـي.سـټيج مخ ته ډېر خلک راټول شـي د افغانسـتان نقشـه په ټولو لاسـونو کې ونيسـي او يوه خوشـحالي جوړه شـي او بيا له همدې ممثلينو څخه يو تن دا لاندې شـــعر وايي او دا تمثيلي ټوټه په همدې ځای پای ته رسيږي.

مونږ د همدې ځانګې ګلونه يو مونږ مه بېلوه
لکه دا ستوري سره ورونه يو مونږ مه بېلوه
زمونږ په زړو کې د يوې مېنې څراغ بليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوې مينې ارمانونه يو مونږ مه بېلوه
اوس خو مو دلته اړولې چړې مه راښايه
ټول د يوې ځنې خالونه يو مونږ مه بېلوه
زمونږ د ټولو مراد يو دی چې ډېوې بلو
ګډې زاری ګډ تکلونه يو مونږ مه بېلوه
مونږ تل په خپلو کې ټول عمر سره مينه کړې
د خدای لپاره مينه زړونه يو مونږ مه بېلوه
زما (سرتېر) د وطن خاوره څه چې غرونه وايي
مونږ د همدغه وطن غرونه يو مونږ مه بېلوه
د تمثيل پای
( ښادمن ،۱۷ ۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوم څپرکی

## په معاصر ادب کې تمثیلي ټوټه

ادب یا ادبیات د وخت په تېرېدو ســـره پرمختګ کوي او نوي بدلونونه پــه کې رامنځ تــه کیږي.پــه هر دور او هر پیر کې نوي تحولات او بدلونونه زغمي.که چېرته لرغوني دورې ته پام وشـــي هلته ادب دومره پرمختګ نه دی کړی لکه څومره یې،چې کلاســـیکه دوره کې وکړ.بیا په کلاســـیکه دوره کې هغه بدلونونه او پرمختګونه نلري لکه اوس یې چې معاصــــره دوره کې لري.په معاصــــره دوره کې ډېر بدلونونه راغلــل،ازاد نظم،ســـپین شـــعر،هـــایکو،ټپیزه،ټکوریزه،نـــاول،لنـــډه کیسه،کیسه ګی،تمثیلي ټوټه،ډرامه فلم،سریال او ... داسې نور ډېر نوي تحولات پښـــتو معاصـــر ادب ته را داخل شـــو او د پرمختګ پړاونه یې ووهل.په دې ډله کې یو هم تمثیلي ټوټه ده،چې معاصـــرې دورې او په ځانګړي ډول لــه شـــلمې م پیړۍ لــه پیلــه یې ډېر پرمختــګ او وده وکړه.دا،چې معاصـــر یا اوســـني ادب ته تمثیلي ټوټه څنګه راغله او له کومو پړاونو راتېره او پرمختګ یې وکړ په دې موضـــوع به دلته پوره بحث وشي.

**پښتو معاصر ادب ته د تمثیلي ټوټې راتګ**

د تمثیلي ټوټې په لرغونتیا په تېرو بحثونو کې خبرې وشوې او نور یې په لرغونتیا بحث ته اړتیا نه لیدل کیږي.د موضوع دا برخه دې ته ځانګړې شوې،چې معاصر ادب ته تمثیلي ټوټه کله راغله او څرنګه یې پرمختګ وکړ؟ په دې اړه به بحث او څېړنه وکړو،چې څه اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه،چې تمثیل په دې سیمه خپل سیورې وغوړو.لکه څرنګه،چې په دې سیمه د انګریز واکمني قایمه وه او په پښتنه سیمه د وخت جابر نظام ظلم او ستم دومره حد ته ورسولو،چې خلک یې دې ته مجبور کړل،چې د یو تحریک لاندې د خپل ژوند د بقا لپاره مبارزه وکړي.هماغه وو،چې د ډېرو هلو ځلو وروسته خدایي خدمتګار نهضت یا تحریک رامنځ ته شو،خو دا تحریک او نهضت د جنګ لپاره نه بلکې د عدم تشدد لپاره جوړ شو او خلکو ته به یې همدا ویل،چې تاسو وسلې ته مه لاس کوی ځکه که وسله مو لاس ته درشي،نو دا سیمه به نوره هم برباد شي.خلکو د خدایي خدمتګار خبره ومنله او د عدم تشدد سلسله یې روانه کړه.

په دې سلسله کې د عدم تشدد پلویانو زندانونه او مشکلات ولیدل،خو انګریز دوی په ارامه نه پرېښودل،نو هماغه وو،چې د دې تحریک غړو په اخبارونو او مجلو کې لیکل پیل کړل،چې په دې لیکلو هم سخت زندانونه ولیدل شول،په دې تحریک کې یو هم عبدالاکبر خان اکبر و،چې د لومړي ځل لپاره یې په ۱۹۲۷م کې د درې یتیمانو په نوم یوه تمثیلي ټوټه ولیکله او د اتمانزو په ښوونځي کې تمثیل او د خلکو په وړاندې ننداري ته وړاندې شوه.دې تمثیل یا ننداري په خلکو زیات اغېز وکړ او له دې وروسته په کراره کراره په نورو ښوونځیو او مدرسو هم ورته تمثیلي ټوټې او برنامې جوړې شوې.له دې وروسته پښتو ادب ته تمثیل ورو ورو مخه کړه او پرمخ روانه شوه.

عبدالاکبر خان اکبرد جونګړې او خدایي خدمتګار په نوم نورې تمثیلي ټوټې یا ننداري ولیکلې.خدایي خدمتګار یې دومره مشهوره شوه،چې له ښودلو وروسته یې یو شمېر خدایي خدمتګاران،چې په دې ننداره یا تمثیلي ټوټه کې یې ونډه اخیستې وه ټول یې زندان ته ولېږل او سختې سزاګانې یې ورکړې.خدایي خدمتګار تمثیلي ټوټه یا ډرامه په ۱۹۳۰ م کې د ستیج پر سر په ژوندۍ بڼه ننداري ته وړاندې شوه.په پښتونخوا کې بل کس،چې په هغه وخت کې یې تمثیلي ټوټو ته مخه کړه هغه قاضي رحیم الله وو،چې په ۱۹۲۸م کې د ( نوې روښنۍ) په نوم تمثیلي ټوټه ولیکله همدا تمثیلي ټوټه یا ننداره بیا غازي امان الله خان افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راوغوښــته او په ښــوونځيو کې تمثيل او ننداريې ته وړاندې شــوه.( سنګروال ،۱۳۹۰ : ۲۱۷).

په کوزه پښـــتونخوا کې تمثيلي ټوټې څکه ډېره وده وکړه،چې هلته له انګرېزۍ څخه اردو او له اردو ژبې څخه په خپل وخت کې پښــتو ژبې ته راداخېله شــوه.هلته بيا د ســمندر خان ســمندر نوم هم د يــادولو دی،چې لومړيو کې يې تمثيلي ټوټې او بيــا يې ډرامې ولېکلې.همدارنګه د حافظ محم ادريس نوم هم نه شــو هېرولې نوموړی د ښــوونځي ښــوونکی هم وو.نوموړي د ( اســتاد او ښــوونځي) په نوم تمثيلي ټوټې وليکلې او په ښوونځيو کې د زده کوونکو لخوا د ستيج پر مخ ننداريې ته وړاندې شوې.په کوزه پښتونخوا کې پښتو تمثيلي ټوټې يا ننداريې ډېره وده وکړه او خپل پړاونه يې ووهل.په کوزه پښــتونخوا کې د سرحد ارټ له خوا د پېښور په نشتر هال کې په ۱۹۹۲م کې د پښتو خاکو يا تمثيلي ټوټو د نشــر لپاره لاره هواره شــوه او هلته يې پښـــتو تمثيلي ټوټو د نشر او خپريدو سره په کوزه پښتونخوا کې پښتو تمثيلي ټوټه نوره هم مشهوره او وده يې وکړه.په دې لړ کې د نطر محمد ليکلي ((ديوانه مســتانه)) د نثار احمد زاهد( د دريو ښــځو ښــتن)) د خالقداد اميد ( کوټه پيسه) د طارق ناياب ( پام کوه اشنا) او د فرمان عمرزي ( ناوې څه شـــوه؟) تمثيلي ټوټې د يادونې وړ دي.( رضـــا ،۱۹۹۵ : ۱۲۶).

په بره پښــتونخوا يا افغانســتان کې بيا د تمثيلي ټوټې يا نندارليک په اړه دا نظر دی،چې د امير شــير علي خان په دربار کې د فقير احمد په نوم يو شـــخص و،چې پاچا د ( مجلس آرا) په لقب نمانځلی و.نوموړي به ځيني تاريخي پېښـــې د رزمي شـــعرونو ســـره په تمثيلي ډول د پاچا په وړاندې تمثيل کولو.( سرور ،۱۳۷۹ : ۴۲).

خو تر کومه ،چې د اوســـني تمثيلي ټوټې يا ندارليک خبره ده،نو دا برخه د غازي امان الله خان د واکمنۍ په لومړيو کلونو کې پيل کيږي.کله چې په ۱۳۰۰ لمريز کال په پغمان کې د تياتر ودانۍ جوړه شـــوه همدغه تياتر کې د لومړي ځل لپاره نندارليک يا تمثيلي ټوټې وړاندې شــوې او له همدې ځايه په افغانســتان کې تمثيلي ټوټه وزېږدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او رو رو  د ځوانۍ مرحلې ته ورداخل شــو.په همدې تياتر کې په ۱۳۰۲ لمريز کال کې د څپلواکۍ د جشـن په ورځ د ( شـهزاده جوا) په نامه ژباړل شوې نندارليک يا تمثيلي ټوټه ننداري ته وړاندې شو.د دې تمثيلي ټوټې ننداري ته غازي امان الله خان خپله هم ناست وو.

د يادونې وړ ده چې ياد تمثيل د فيض محمد ذکريا،محمود طرزی او صــلاح الدين ســلجوقي وو،چې همدوی يې ترتيب او پروډيوســري هم کړې وه.په دې تياتر يا سټيج باندې بيا نورې ننداري او تمثيلي ټوټې هم وړاندې شــوې چې عبارت دي له: فتح ټل،بچه نازدانه،حاکم ظالم،مادر وطن او داسې نورې ننداري او تمثيل شوې.( هاشمي ،۱۳۹۴: ۴۱۶).

کله،چې په افغانســـتان کې په کال ۱۳۰۷ لمريز کې کورنۍ ګډوډي جوړه شوه،نو تمثيلي ټوټه هم له سـکوت سره مخ شوه،چې تر ډېره په دې ډګر کې زياته پاملرنه ونه شـــوه اوډېر خنډونه ورته جوړ شـو،خو کله چې په کال ۱۳۲۰ لمريز کال کې محمد نعيم خان د پوهنې وزير شو،نو په دې وخت کې ځينو فرهنګيانو يو ځل بيا د تمثيل هنر ته وده ورکړه او کله،چې سلطان صلاح الدين سلجوقي د مطبوعاتو مستقل رييس شـو،نو په کابل کې يې د پوهنې د ننداري بنسټ ډېره کېښـوده او تمثيلي ټوټې يا نندارليک ته يې يو ځل بيا ســـاه ورکړه.د ســـلجوقي په مرسته تمثيلي ټوټې دومره پرمختګ او وده وکړه،چې هره اونۍ کې به يې نوې نوې ننداري او تمثيلي ټوټې ننداري ته وړاندې کولې.

د تمثيلي ټوټې د پرمختګ ســره په ولاياتو کې هم نندارليک او تمثيلي ټوټو وده وکړه. په ننګرهار،پروان او پلخمري کې د تمثيلي ټوټو د ننداري لپاره مرکزونه جوړ شـــو او هلته به هم مختلفې تمثيلي ټوټې ننداري ته وړاندې کېدلې.په ۱۳۳۹ لمريز کال په کابل کې د ښځو لپاره د (زينب ننداره) په ۱۳۳۸ لمريز کې د عســکری کلوپ په چوکاټ کې ( لښــکري ننداري) تاســيس شــوې او دا مرکزونه د همدې لپاره جوړ شــول،چې تمثيلي ټوټې په کې ننداري ته وړاندې شـــي.په همدې کلونو کې په کابل کې هم يو مجهز او په هر څه ســمبال تياتر جوړ شـــو او د همدې تياتر په جوړېدو سره په کابل کې هم تمثيلي ټوټې وده وکړه او د پرمختـګ پر لور يې قـدمونـه او ګـامونـه پورتـه کړل.همـدارنګـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطبوعاتو د رياست په چوکاټ کې د تياتر د هنري مؤسسې جوړيدلو،په ۱۹۶۳ م کال د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په چوکاټ کې د ښـــکليو هنرونو د مؤســـســـې جوړيدل او په ۱۹۶۶م کې د پښــتو تمثيلي ټوټو د اســـاســـي فعاليتونو پيل کېدل ،د کابل راډيو په چوکاټ کې د ډرام او ډيالوګ رياســـت جوړيدل.دا ټول هغه څه وو،چې په افغانســـتان کې تمثيلي ټوټې ته يې وده او پرمختګ ورکړ.

کله،چې د ثور کودتا مخ ته راغله تر دغه وخته هم په افغانستان کې تمثيل او تمثيلي ټوټې وده وکړه او د يوې ښې وسيلې په توګه يې په خلکو کې پرمختګ وکړ،خو کله،چې د مجاهدينو او طالبانو واکمني منځ ته راغله،نو له دې ريژيمونو وروســـته په افغانســـتان کې تمثيلي ټوټې ځـان د رکود غېږ تـه وغورځـاو او تر ډېرو کلونو پورې تمثيل خپله ساه ورکړه.

د تياتر در افغانســـتان ليکوال چې د نثري ادب ډولونو ليکوال يې نظر راخيســـتی ياد ليکوال په هېواد کې د تياتر او تمثيلي ټوټې له پيلامې يعنې ۱۳۰۰ لمريز کـال څخـه تر ننـه د بيلابيلو دورو د نندار ليکونکو،لوبغاړو او ډايرکټرانو د نومونو مفصل ليست خپور کړی،چې دلته به يې د نمونې په توګه د ځينو نومونه راوړو.

**په نندارليکونکو کې**

استاد عبدالغفور بريښنا،استاد عبدالرشيد لطيفي،عبدالرحمن بينا،غلام علي اميد،عبدالرشـيد جليا،اســتاد قيوم بيســد،عبدالطيف نشـاط ملک خېـل،اســتـاد علي کهزاد،غرغښـــت،يوســف کهزاد،عبـدالرحمن پژواک،غلام حضـرت کوشـان،عبدالغفور روان فرهادي،سـيد مقدس نګاه،عبدالروف بېنوا،محمد عثمان صـدقي،منان ملګری،فضـلي،اکبر پامير،محمد يوســف آيينه،مهدي دعاګوی،پير محمد خاوري،خان آقا سرور،اسدالله حبيب او ... داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډایرکټران:**

استاد صلاح الدین سلجوقي،بهره هروي،استاد عبدالغفوربرښنا،استاد غوث الدین رســام،اســتاد رفیق صـــادق،غلام علي امید،محمد علي ورق،فیض محمد خیرزاده،حمید جلیـا،راز محمد فراز،عصــمت الله انصاري،سید مهدي شفا،ستار جفایي،پووند،فضلي،منان ملګری،محمد اکبر روش،ډاکټر محمد نعیم فرخـان،محمد عظیم رعـد،وزیر محمد نګهت،رشــید پایا،تواب لطیفي،ســردار محمد امین او... داســې نور. (هاشمي ،۱۳۹۴: ۴۱۸).

په هر صـورت په هېواد کې تمثیلي ټوټې وده او پرمختګ په لور روان وو.تر کومه،چې په افغانســتان کې د ننداریک یا تمثیلي ټوټې خبره ده،نو ویلی شــو،چې د دې غورځنګ د پیلامې څخه څو کاله دمخه د ننداریک لومړي ځرکونه د مولوي صـــالح محمد کندهاري په هغه لومړي درسي کتاب کې وینو،چې د حبیبې د لیسې د زده کوونکو لپاره یې لیکلی او په ۱۹۱۶م کال کې چاپ شوي دي.په دې کتاب کې داسې ډیالوګونه راغلي چې هغه به زده کونکو د تمثیلي ټوټو په توګه د سـتیج دپاسه لوستل.( رفیع ،۱۳۷۱: ۹۹).

په دې لړ کې د ۱۳۰۰ لمریز کال شاوخوا د مولوي صالح محمد د ( غېر حاضري) په نوم یوه لنډه تمثیلي ټوټه ده،چې د پوهنې زده کوونکو د اعلیحضـرت امان الله خان په وړاندې یې د سـټیج پر مخ لوبولې وه.( انځور ،۱۳۷۱ : ۱۸۶).

دننداریک یوه بله بېلګه،چې مخې ته راځي هغه د محمد اعظم ایازي د( ازاد افغان او ســپین ږیری) تر ســرلیک لاندې لیکلې او د کندهار پښـتو ادبي انجمن د خپرندویه ارګان پښـتو مجلې په یوه ګڼه کې خپره شـــوې ده.د دې دورې پـه ننـداره یـا تمثیلي ټوټو لیکونکو کې اروابښـــاد عبدالروف بېنوا،اروابښـــاد قیـام الـدین خـادم،محمد نـادر ایوبي،غلام رحمن جرار او جان محمد پکتیا نومونه دیادونې وړ دي.( هاشمي ،۱۳۹۴: ۴۱۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۳۲۲ لمريز کې د پوهنې ننداري په چوکاټ کې هم ډېرې پښتو تمثيلي ټوټې ننداري ته وړاندې شوې او په کال ۱۳۳۲ لمريز کې په مرکز او ولاياتو کې په پښتون ميشتو ښوونځيو کې هم ډېر تمثيلونه او ننداريکونه د سټيج پرمخ ښودل شوي ،خو له بده مرغه په دې اړه ليکلي اسناد او شواهد نشته،چې کومې تمثيلي ټوټې په دې ښوونځيو کې ننداره شوي دي.اروښاد سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار په خپله يوه مقاله کې،چې (( فرهنګ مردم)) مجله کې (( په ننګرهار کې د تمثيلي ټوټې هنر بېلګې)) تر ســرليک لاندې خپره کړې يادونه کړې،چې په خپله يې په ۱۳۲۲لمريز کال په کابل کې په يوه ننداريک يا تمثيلي ټوټه کې،چې د اروښاد نورمحمد پوونده په ډايرکټرۍ د ( مات کنډول) تر سرليک لاندې په کابل کې ننداري ته وړاندې شـوې په کې يې کار کړی.( بختاني خدمتګار ،۱۳۶۵ : ۷۷).

همدارنګه په ۱۳۳۶ لمريز کال په ننګرهار کې د ننګرهار د ښـــاروالۍ په چوکاټ کې د ننداررو لپاره يو تياتر يا ننداتون هم جوړ شـو،چې په دې تياتر کې به مختلفو ليکوالو خپلې تمثيلي ټوټې ليکلې او په همدې تياتر کې به يې ننداري ته وړاندې کولې.( هاشـــمي ،۱۳۹۴: ۴۲۰).

په ورو ورو په هېواد کې په مختلفو ولاياتو کې هم تمثيلي ټوټې رواج او د پرمختګ ګامونه يې پورته کړل.بختاني صـــاحب د ځينو تمثيلي ټوټو ليکوونکو نومونــه داســـې راپېژني.( غلام دســـتګير رنګ،عبدالروف قتيل،عبدالله بخاني،عبدالطيف ګرديوال او... داســـې نورو نومونه په ګوته کوي.) او د هماغه وخت د ممثيلينو نومونه يې هم په خپله مقاله کې ياد کړي لکه،اســـتاد نورالدين مهموم،اســـلام دين هنريار،اسدالله شينواری،اسدالله نصـرتي،نثار احمد نثار،غلام دسـتګير رنګ،بختاني صـــاحب،ګرديوال او خانګل نومونه يې ياد کړي دي.د همدغه يادو ليکوالو او ممثيلنو پر مټ په ننګرهار کې د تمثيلي ټوټې هنر دومره وده او پرمختګ وکړ،چې ډېر مېنه وال يې پر ځان رامات کړل او دا هنر د هر چا د خوښـــې وړ وګرځېد.همدارنګه د ننګرهار د ولسواليو په ليسو لکه، د کامې په مراد عالي لېسه،د کزې د شيخ ملکيار

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېسه،د روښان ليسه،د روداتو د احداد ليسه،د کوز سلطانپور د ميا فقير الله جلالابادي ليسه،د ښېوې جمالي ليسه او ... دې ته ورته نورو ډېرو ليسو او ښوونځيو کې همد تمثيلي ټوټې يا ننداريې وړاندې کېدلې او دا کار د دې لپاره کېده،چې د خلکو پام زده کړو ته راجلب کړي او له هېواده د بې سوادۍ لمن ټوله کړي.

په مشرقي کې وخت پر وخت مختلفې تمثيلي ټوټې ننداريې ته وړاندې شوي دي،چې په هغې کې يو هم د عبدالله بختاني د ( سيدو ملنګ) ننداره د پام وړ ده،چې په کال ۱۳۳۸ لمريز کې وليکل شوه او څو ځلې ننداريې ته وړاندې شوه.د ننګرهار د ليسې د فعاليت په نتيجه کې بيا د ننګرهار ښاروالۍ په مرسته ( ننګرهار ننداره) هم جوړه شوه.( هاشمي ،۱۳۹۴: ۴۲۱).

دې ته ورته په کندهار او د هېواد په نورو ولاياتو کې هم د تمثيلي ټوټې هنر وده او پرمختګ وکړ او د خلکو پام يې ځان ته راوګرځو.په دغه وخت کې د تمثيلي ټوټې پيليدل يو لوی کار او لوی هنر ځکه و،چې نني عصري وسايل نه وو او خلکو له همدې لارې خپل هنري ذوق ماتولو.د پښتو تمثيلي ټوټې يا ننداريې د راتګ او پرمختګ بل پړاو بيا په کال ۱۹۶۶م کې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په چوکاټ کې،چې کله د پښتو تياتر يوه څانګه جوړه شوه او مسؤوليت يې ارواښاد پاينده محمد پوونده پر غاړه واخيسته،نو نور يې هم پرمختګ او وده وکړه.ښاغلي پوونده څو کاله په دې ډګر کې خدمت وکړ،خو کله چې د تمثيلي هنر يوه ډلګۍ کندهار ته لاړه او هلته يې په فعاليت پيل وکړ،نو پوونده همدلته کندهار کې پاتې شو او په کابل اطلاعاتو او کلتور وزارت کې د پښتو تياتر يا تمثيلي ټوټې په ټپه ودرېدې.

د يادونې وړه ده،چې د ښاغلي پوونده په وخت کې،چې چا په تمثيلي ټوټو کې برخه اخيستې وه،د هغوی نومونه په دې ډول دي.( فضل محمد فضلي،منان ملګری او زليخا فخري ) وو.چې له دې اداريې له ختميدو وروسته يې په راډيو افغانستان کې د ډيالوګ او راډيو ډرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



په برخه کې يې کار پيل کړ.فاطمه،صــايمه مقســودي،محمد اصــف وردگ،حاجي کامران او عبدالرشــيد پايا په دغه اداره کې د ډايرکټرۍ تر حده رسيدلي وو،خو کله،چې د عبدالاحد صالحي په مشرۍ د ثقافت او هنر رياست بيا په فعاليت پيل وکړ،نو پښتو تمثيل او تياتر هم ورسره وده او پرمختــګ وکړ،چې پــه دې لړ کې جــان محمــد پلار،جميلــه يامن،فضل محمد فضلي،منان ملګري،رشيد پايا او محمد اصف وردګ ورســره بيا فعاليت پيل کړ او پښــتو تمثيل ته يې له ســره ســاه ورکړه.( سرور ،۱۳۷۹ : ۱۱۸).

د نثري ادب ډولونو ليکوال،چې تياتر در افغانســـتان د ليکوال نظر يې راخيستی ليکي،چې کله په راډيو افغانستان کې د راډيو د هنر او ادبياتو اداره کې د تفريحي او تربيوي پروګرامونو لپاره مســـتقله اداره جوړه شـــوه د دې لارې چارې برابرې شـــوې،چې د پښـــتو تمثيلي ټوټو پروګرامونــه يې پــه مســـتقل او خپلواکــه توګــه کــار کولو تــه مجبور کړل،چې له همدې لارې د فضـــل محمد فضـــلي په ډاريکټرۍ پښـــتو تمثيلي ټوټې ته د پام او قدر وړ خدمتونه وشو او د پرمختګ لور ته يې ګړندي ګامونه پورته کړل.( هاشمي ،۱۳۹۴: ۴۲۲).

ددې بحث د پايلې په توګه ويلی شــو،چې پښــتو تمثيلي ټوټې په لره او بره پښتونخوا کې بلکې په ټوله پښتنه سيمه کې له لوړو او ژورو راتېر شوی او هر وخت يې مشــکلات او ســتونزې ګاللي دي.همدارنګه ويلی شــو،چې پښــتو معاصــر ادب ته د تمثيلي ټوټې راتګ او پرمختګ په يودمي توګه ندی شوی بلکې د وخت په تېرېدو سره په کراره کراره يې پښتو ادب ته سر ښکاره او بيا يې ورو ورو د پرختګ قدمونه پورته کړل،چې په دې وروستيو کې يې ګامونه دومره ګړندي شول،چې اوس د هېواد پــه هر تلويزون او راډيو کې د تمثيلي ټوټو لپــاره ځــانګړي پروګرامونه او خپروني جوړې شـــوي دي.په افغانســـتان کې مختلف تلويزوني چينلونه لکه شــمشــاد نړۍ وال راډيو تلويزون،ژوندون نړۍ وال راډيو تلويزون،لمر نړۍ وال تلويزون،افغان تلويزون. په کابل کې او همدارنګه په لوی مشـــرقي کې بيا انعکاس راډيو تلويزون،شـــرق راډيو تلويزونه،مرام ،صفا راډيو او د هېواد په نورو ولاياتو کې مختلفو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رســـنيو او همدارنګه په يوټيوب چينلونو،فيس بوک او نورو مجازي چينلونو کې پښتو تمثيلي ټوټې وده او پرمختګ وکړ او ځان يې د د اوج پړاو پر لور روان کړ.د يـادونې وړ ده،چې پـه افغـانســـتـان او کوزه پښـتونخوا کې تمثيلي ټوټې په سـتيج ښـودل کېدې،نو ځکه يې کتابي يا چـاپي بڼـه نـده لرلې يوازې پـه مختلفو خورو ورو ليکنو او مقـالو کې ورته اشـــاره شـــوې ده،نو ځکه يې زياتې بېلګې په لاس کې نلرو،خو اوســـنې تمثيلونه او نندارليک ليکونه له نېکه مرغه په يوټيوب،فيس بوک،ټيک ټاک او نورو اجتماعي چينلو او رسنيو کې شته او هر وخت که څوک وغواړي ليدلی او ګټه ترې اخيستلی شـي.د موضـوع دا بحث دلته د څو تنو مشـهورو پښـتو ننداره ليکونکو د نومو په يادونې پای ته رســـول غواړم: عبـدالاکبر خـان اکبر،رحيم الله ،عبـدالرحمن پژواک،عبدالروف بينوا،محمد اعظم ايازي،صـالح محمد کندهاری،قيام الـدين خـادم،پـاينـده محمـد پوونـد،عبـدالله بختـاني خـدمتګـار،قتيـل خوږياني،منان ملګری،فضـــل محمد فضـــلي،واحد نظري،محمد اکبر پـامير،جـان محمـد پلار،احـد ژونـد،ممنون مقصـــودي،محمـد اصـــف وردګ،عنايت الله شـــفق،ننګيار نا اشـــنا،تاج محمد رحيمي،امام جان مجبور... او داسې نور د يادونې وړ دي او په دې برخه کې نوي ځوان ممثلين هم نـه شـــو هېرولی لکـه : امـام جـان مجبور،ممنون مقصـــودي،حضـــرت ګل زنداني،ضـــياءالرحمن لالاخيل،محمد يونس داودزی نومونه د يادونې وړ دي.

### په پښتو ادب کې د مشهورو تمثيل ليکونکو پېژندنه او د ځينو تمثيلي ټوټو بېلګې

د موضـــوع دا برخه مو دې ته ځانګړې کړې ده،چې د ځينو مشـــهورو تمثيل ليکونکو لنډه پيژنـدنـه او د ځينو يې بېلګې وړانـدې کړو.دا،چې په پښـــتو ادب کې ډېر زيـات ننداره يـا تمثيل ليکوونکي لرو،نو د ټولو راوړل او معرفي کول،د موضوع لمنه پراخوي ،نو ځکه د ټولو له ډلې يواځې د څو تنو پېژندنه او د تمثيل بېلګې راوړو،څو و

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شــو،د ځېړنې دا برخه هم پرې غني کړو،نو په همدې اســاس به دلته د ځينو تمثيل ليکوونکو په پېژندنه پيل وکړو او که د کوم ليکوال بېلګه مو تر لاسه کړه هغه به هم ورسره مل کړو.

**عبدالاکبر خان اکبر**

ښــاغلی عبدالاکبر خان اکبر د عبدالقادر خان زوی او د ســخي ارســلا خان لمســـی په خټه محمد زی او په ۱۹۰۰ م کال د پېښــور د چارســـدې په عمرزو کلي کې زېږدلی دی.لومړنی او منځني تعليمات يې په خپله ســيمه کې تر ســره کړي وو.بيا وروســته د لوړو زده کړو لپاره د پېښــور په اســلاميه کالج کې شــامل ،خو له بده مرغه د کالج په دويم کال کې وو،چې د وخت ظالم نظام له امله يې کالج پرېښـــود. د پښــتونســتان له مجاهدو شــاعرانو او ليکوالو څخه دی.نوموړي د خپل ژوند زياته برخه په خدايي خدمتګار تحريک د خان عبدالغفار خان ســـره په مبارزه کې تير کړ.د وطن د ازادئ لپاره يې قلمي او ځاني مبارزه دواړه پر غاړه اخيســـتي وو.هم يې د قلم او هم يې د تورې په برخه کې د وطن لپاره خپل ژوند قربان کړ.په کوزه پښـــتونخوا کې لومړنی تمثيلي ټوټه يا ســـټيج ډرامه ليکوونکی دی،چې لومړنی تمثيل يې د درې يتيمان په نوم او بيا وروسته يې د خدايي خدمتګار په نوم يوه تمثيلي ټوټه وليکله،چې په ښـــوونځي کې تر تمثيلولو ورســـته يې ټول لوبغاړي د وخت ظالم نظام زندان ته ولېږل.

په دې پســې يې يوه بله ســټيج ډرامه يا تمثيلي ټوټه د (جونګړه) تر نوم لاندې په ســـټيج تمثيل کړه،چې ياده ډرامه يې په کتابي شـــکل هم وليکله،خو کله چې د وخت پوليســـو د نوموړي کور تالاشـــي کړ د نوموړي ټول ليکلي اثار يې له ځان ســـره ويوړل او تر اوســـه يې هيڅ درک نشته.تعليم جديد،تهذيب جديد ،تربور او کاروان روان دی دا هغه تمثيلي ټوټې دي،چې ښـــاغلي عبدالاکبر اکبر ليکلي او په ښـــونځيو کې يې ننداريې ته وړاندې کړي،خو لـه بده مرغـه د نوموړي هيڅ تمثيلي ټوټه په ليکلي بڼه نه تر لاســـه کېږي او د وخت نظام يې ټولې ليکنې له ځان سره وړي دي.( بېنوا ،۱۳۹۳: ۹۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فرهنګ ادبيات پښتو دوهم ټوک ليکوال يې د مړينې نېټه داسي يادوي چې نوموړی په کال ۱۹۷۷ م د اکتوبر د مياشـــتې په يوولســـمه نېټه له دې نړۍ سـترګې پټې او ابدي دنيا ته رخصـت شـو.( هېوادمل ،۱۳۶۵: ۲۲۵).

**عبدالله جان اسير**

عبدالله جان اسير د مقرب خان زوی او د شېر زمان خان لمسی د ۱۹۱۰م کال د جولای په څوارلســـمه د مردان د ســـميې د ســـوابۍ په زيده نومې کلي کې زيږدلی دی.لومړنی زده کړې يې د خپل کلي په مدرســه کې تر ســره کړي دي. د محکوم پښــتونســتان شــاعر او ليکوال دی.نومړی هم د خدايي خدمتګا تحريـک غړی وو.نوموړي پـه يـاد تحريک کې نه ستړي کېدونکي خدمتونه وکړل.ښاغلی اسير د شاعرۍ ترڅنګ يو ښه او تکړه ليکوال هم وو.نوموړي د درس عبرت په نوم د ثميلي ټوټو يو چاپ شـــوی اثر هم لري،چې پـه لومړينو تمثيلي ټوټـه ليکونکو کې يې نوم د يادونې وړ دی.نومړی په ۱۹۷۸ م کال د نومبر پـه ديـارلســـمـه نېټـه ومړ.دا،چې زيـاتره تمثيلي ټوټې پـه کتـابي بڼـه نـه دي،خپرې شــوي ،نو ځکه يې د ځينو بيلګو له راوړلو عاجز يو.( بېنوا ،۱۳۸۸: ۸۲).

**محمد اکبر پامير**

محمد اکبر پامير د بهاولادين زوی او د ګل جان لمســـی په کال ۱۲۹۸ لمريز د ننګرهار د کامې ولسوالۍ په سنګر سرای نومې کلي کې نړۍ ته سترګې پرانيستې دي.په پښـتو او فارسـي ژبو يې ډېرې ليکنې کړي دي.لومړنۍ زده کړې يې د خپل کلي له ملا څخه تر ســره کړي دي.بيا لوړو زده کړو لپاره د وخت حکومت د نورو هلکانو سره يوځای ترکې ته ولېږه.لوړې زده کړې يې په ترکيه کې تر ســـره کړې او په کال ۱۳۲۱ لمريز کې د کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځی استاد شو.نوموړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښـــتو تمثيلي ټوټو او ډرامو کې لوی لاس درلود،چې د ځينو نومونه يـــې پـــه لانـــدې ډول دي: مـــجـــنـــون، ګژدم،ديوانه،محبت،مجرم،قاتل،دوسـت،بخت ازمايي ،بندي او ...داسـې نورې تمثيلي ټوټې او ډرامې يې ليکلي دي.د نوموړي بنـدي منظوم تمثيل د ډېرو خلکو پام ځانله راوګرځو،ياده ډرامه يا تمثيلي ټوټه يې په کال ۱۳۲۸ لمريز له کابل راډيو څخه د پښـــتونســـتان په پروګرام کې خپور شـو او دې کې د پاکسـتان د حکومت ظلم پر پښـتونسـتاني بنديانو باندې تمثيل شــوی دی.ښــاغلی پامير په کال ۱۳۵۱ لمريز په کابل کې وفات شو.( بېنوا ،۱۳۹۳: ۱۹۳).

**بېلګه**

ليکوال: محمد اکبر پامير

د تمثيلي ټوټې نوم: بندي

کرکټر يا لوبغاړي: مستعار نوم بندي

دلته به يې د بندي منظوم تمثيل يوه برخه د بېلګې په توګه راوړو

**بندي**

کرکټر يا کردار يې په دې ډول دی،چې ( بندي په ډېر غم او درد د ځان سره خبرې کوي او خپله منظومه مکالمه داسې پيلوي):

بندي:

دا دنيا ده ورونو کله تياره کله رڼا وي

کله کاندي ځوک خندا کله چاباندې ژړاوي

د طبعيت نظام او عدل هيڅکله نه ورکيږي

د حقيقت لويه برېښنا په ګوتو نه پټيږي

(بندي لږ مکث او مسکا وکړي او د اضطراب نه ډک اوسېلې وباسي او بيا وايي)

د ازادۍ په لار کې بنديتوب وي او که مرګ

دواړه يو دي دواړه يو دي سره غبرګ

هغوی ګمان لري چې په ظلم او ستم بيا

کاږه واږه فکرونه به شي ببر ته سم بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ظلم او تحکم زور کېدای شو په عدالت
نن به نه و په دنيا کې ژوندی هيڅ يو ملت
( د بندي د غټو بوټونو آواز کرار کرار رانژدې کيږي په دې وخت
کې بندي په لوړ او مسخره غږ وايي او له ځان سره خاندي)
بيا څه وايي لېونيه آواز دې نه پټيږي
آواز مې مکڅ ته زما نه ډېر بېرېږي
راته ښکاري نور دې عقل کوچېدلی دی له سر نه
نور دې تللی دی بلکل ديد له بصر نه
ته ړوند کوڼ يې.........
(بندی بيا په غرور سره وايي) :
....... رښتياده........ درانه دې غوږونه
ستا خبيث آواز چې اورم غوځيږي مې هډونه
زه حېران يمه تاته چې څنګه دې زړه خاندي
سبا غر غره کيږې................
هغه وخت به نه ته خاندې.....
دا دنيا دغه يې حال او دا يې روزګار دی
څوک کاندي غلامي او باداري د ځېنو کار دی
څوک د حق په لاره دورمې شهيدانو هديرې ته
څوک ناست وي په کرسۍ کې بادارانو امر يې ته
زما و ستا منځ کې موجود يو لوی توپير دی
زه عاشق د آزادۍ يم خو اجنبي د ستاسو پير دی
ترپايه..( بېنوا ،۱۳۹۳ : ۱۹۳ – ۱۹۴).

په پورته منظوم تمثيل يا ننداريک کې د کوزې پښتونخوا پر بنديانو د ظلم او ستم کېسه د يو کس لخوا پر مخ وړل کيږي،چې هغه د بندي په شکل کې خپل ځان جوړ کړی وي او ټوله کېسه تمثيل کوي او د وخت د ظالم نظام پر وړاندې د خپلو بندي ورونو د خلاصون او پرې د ظلم نه کولو هڅه او تمثيل کوي.ياد تمثيل په کابل راډيو کې تمثيل او په پښتونستان خپرونه کې ننداري ته وړادې شوی دی.ښاغلی پامير په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمثيلي ټوټه او ډرامه کې لوی لاس لري او د قلم ښـــکلا يې د بندي منظوم تمثيل نه له ورايه ښکاري.روح دې يې ښاد وي.

**محمد رضا رضا مومندي**

محمد رضا رضا مومندي د عبدالعزيز خان زوی د پښتو ژبې تکړه ليکوال او شاعر وو.په کال ۱۹۲۵ م د پښتونستان په هزار خانئ سيمه کې چېرته چې د رحمان بابا مزار دی زېږدلی او په ۱۹۴۱ م کې د ميټرک يا لســـم ټولګي څخه فارغ او په ليډی ريډنګ هســـپتال کې د نرس يا کمپوډر په حيث دنده تر ســـره کړې ده.نوموړي د ( کوډې) تر ســـرليک لاندې يوه وړه تمثيلي ټوټه يا ننداره په ډيالوګي شـــکل ليکلې اوپه ۱۹۶۰ م د اکتوبر په مياشـت کې د پېښـور په ( غنچه) نومې مجله کې چاپ او خپره شـوې ده چې دلته به يې د نمونې په توګه راوړل ښـه وي.نوموړی په کال ۱۹۹۹ مې کې د اګســـت په ديارلســـمه وفات او د هزار خانې په مشـــهوره هديره کې خاورو ته وســـپارل شـــو.مخکې له دې،چې يې ببلګه راوړو د څو اثـار نومونـه بـه يې ذکر کړو.رواچې زنـدان تمثيلي ټوټې،غنچـه ډرامې،د کوچنيـانو لپـاره.ديـادونـې وړ دي.( انځور ،۱۳۷۱ : ۲۳).

**بېلګه**

ليکوال: محمد رضا رضا مومندي

د تمثيلي ټوټې نوم: کوډې

لوبغاړي يا کرکټرونه:

۱: شمعه

۲: ثمرو

۳: بلقيس

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوډې**

اول تمثیل یا اوله ننداره

( په یوه کور کې د واده نه څو ورځې پس)

**شمعه:** وای ( ثمرو) خور ! نږور ده که سور اور دی سور اور؟ د راتلو سره یې راته په کور کښې هغه ویجاړۍ شروع کړې دي چې تپوس یې مه کوه.

**ثمرو:** دا څه وایې؟ شمعې خور! بلقیس ګنې دومره بده ده؟

**شمعه:** وای خورې! بده ده که زه درته وایم،بغمه یې کړه راته.

**ثمرو:** نو آخر غواړې څه؟

**شمعه:** ببلول! اوف! شپه او ورځ په دې علتونو او شیطانو پسې لګیا وي چې کله به وي چې د سلیم زړه د مور نه تور کړم او ترې نه بېل شي.

**ثمرو:** وای خورې! دا ما چې اورېدلي وو غلط و څه؟

**شمعه:** تا څه اورېدلي او د چانه؟

**ثمرو:** خورې! ما ته خو دلبرو خور د بلقیسې دومره صفتونه کول چې د حد نه تېر،ویل یې که ښځه ده،نو بلقیسه ده.په کټوی څمڅۍ کې هوښیاره ،په وینځلو،ګنډلو کښې مړنۍ،د خوابښې سخر په خدمت کښې لکه د وینځې شپه او ورځ چابکه،او که څوک سرې سروټکي ورته په سر کې نوبه د حیا نه ورته اوف قدرې ونه کړي..

**شمعه:** وای خورې! دا ټول دروغ دي،ورکه بلقیس شه او ورکه یې نامه شه،زه درته وایم مصیبیت دی مصیبت! هیڅ نه ورځې او هغه که ورتلل نو هم یې هېر یې کړل.بس د زړه بداوۍ ده نور څه نه ده ګورې... های های خورې په رښا ورځ خدای شمکوره کړم،زه څه خدای وهلې وم چې د زوی دپاره مې داسې مصیبت خوښولو...

**ثمرو:** خورې! وای خورې! دا زوی دې ورته هم څه نه وایي چې داسې بې اسرې ده؟

**شمعه:** وای ثمرو! زوی مې د ښځې شو اوس یې ځما نه زړه موړ شوی دی،هو زه درته وایم داسې بده پرې لګم لکه د دښمن،خدای خبر چې بلقیسې پرې څه جادو کړی دی ځما خو هډو اوري نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ثمرو**: خورې ! سليم اوس هغه سليم نه دی چې زه به کله راغلمه ځما تلې به يې ښکلولې،د واده نه پس داسې بدل شوی دی لکه ورځ چې شپه شي،که زه ورته سمه کوم نو دی راسره په ورانه ځي خورې.زمانه خرابه ده د خپل عزت راسره خيال دی . د حيانه د الف نه ب ورته نه شم کولی.

**شمعه:** نو خورې! ترخو؟ آخر به يوه ورځ راشي چې د دې شامدام بغمونه به مې زړه پرق وچوي.

**ثمرو**: وای خورې! خدای مکه د بلقيسې زړه خو درباندې داسې يخ مکړه.

**شمعه:** آو! آمين ! خو خورې په هېڅ علاج يې نه رسم،نو چې دا کور وته پرېږدم او که زهر وخورم؟ما نه خويې دوه درې خطا کړي دي،بس خو چې راغلې ده نه څه خبره راسره نښلي د ذرې ذرې خبرې سره لکی تړي او سليم ته يې په غوږونو کښې ورمنډي.

**ثمرو**: شمعې خور! بلقيس خو خير اوس رامعلومه شوه چې د شر لکۍ ده ولې زه وايم چې سليم څنګه بدل شو؟ هغه خو فرښته وه هغه خو چرې په عمر کښې ستا زړه ته درد نه و رسولی.

**شمعه**: وای خورې! اور د اور نه لګي کنه سليم خو پاک و،خو چې دا ګنده بوټی ورسره شوه، نو پليد يې کړو.خورې! اوس سليم هغه سليم نه دی پاتې کنه کوم چې د واده نه وړاندې و،سليم خو اوس د ښځې په لاس کښې لکه د ګوډاګي لوبېږي.هغه اوس په ما څه کوي په ما توکي څه؟زه خو ورته اوس توره بلا شوم توره بلا. رانه لرې تښتېدل غواړي.

**ثمرو**: شمعې خور! ځما په زړه کښې بوه بله خبره راغله هسې نه چې بلقيسې په تا ګوډې کړې وي.

**شمعه**: وای خورې! دغه خو زه هم ژاړم کنه چې سيم داسې زر ولې بدل شو؟د سليم په سترګو کښې زه اوس ولې اغزی اغزی کېږم؟سليم ولې ما ته د مورولۍ پام نه کوي؟ دا کار بې د کوډو نه چرې کېدی شي؟ضرور د بلقيسې کوټنۍ مور څه کړي دي.هغه خو په دې خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د پخوا راسي مشهوره ده او ځما دا پوره يقين دی چې د خپل مراد د تر سره کولو دباره په کور دا د شکونې غشی هم دې اچولی دی.

**ثمرو**: د شــکونې غشــی؟ های الله! دا خو ضــرور د چا پوخ دښــمن کار دی.

**شمعه**: وای ثمرو خور! زه خو د بلې زماني ساده ښځه يم له دې حرام کارونونه تر اوسه خدای ساتلې يم ما له خو يې هيڅ څه علاج نه راځي او نه مې د چا نه څه اوريدلي دي،هســې اورم چې په يو ښــه او د اتفاق کور کښې چې داسې يکدم څه بې اتفاقي راپيدا شي نو د هغې لويه وجه سپيره فال او کوډې کېدی شي.خورې! که تاله مې څه علاج درځي نور راته يې اوښايه کنه؟

**ثمرو**: شمعې خور! ما خو درته يو ځل خور ويلي دي او خدايګو چې د دې قســـې په اورېدو ســـره خو درته د ډېر ه غمه لکه د مومو ويلې شوم.خلق وايي چې په ننګيالي خوړ کښې د يو پالي فقير جونګړه ده او هغه دد ې کوډو په کار کښې ډېر منلی شوی دی ،که خوښه دې وي نو وربه شو.

**شمعه**: وای خورې ! ته به راسره دومره ښېګڼه کوې او زه دې تلی نه ښکولوم؟ زه خو وايم چې هډو اوس ورشو

**ثمرو**: اوس؟

**شمعه**: هو اوس! خو دامې ويل چې که کوډې راوختلې نو ځای نښې به يې راته هم ښآيي او که نه؟

**ثمرو:** يه خورې! زه درته وايم داســـې پوره پوره نښـــې پټې به يې درکړي چې حېرانه به شې ورته،څه معمولي پالي نه دی کنه خورې؟ د کلو کلو خلق ورته راچليږي او خپل مرادونه پرې ترسره کوي.

**شــمعه**: ښــه ده خورې! دا به دې ماســره لويه نېکي وي چې زما هډونه اوس په اورسوځي زه ګوره نوره نه شم حصاريدی.

**ثمرو**: ښــه ده خورې! راځه چې دې ورله بوځم خو شــکرانه د لســو نه کمه نه اخلي چې څه دځان سره واخلې ګوره.

**شــمعه**: يه خورې! شــل خو دې واخلي خو چې ځما کوډې راوباســي! راځه چې ځو،دا دې روپۍ راسره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ثمرو**: ښه راځه چې ځو ( دواړه) حرکت وکړي.( بېنوا ،۱۳۹۳ : ۴۸۳ _ ۴۸۴).

په پورته تمثيلي ټوټه کې،چې په څو مختلفو ننداړو کې وړاندې شـــوې ده دوه ښځې چې يوه يې ډېره ساده او بله يې ډېره چانسگره او هوښياره ښکاري شمعې د زوی ناوې بلقيس په اړه خبرې کوي د بلقيس خواښې چې له خپلې اينږور نه سر ټکوي او زړه خوري ثمرو چې بله ښځه ده او ځان شـمعې ته ډېره نږدې ښـايي هغه دې ته مجبوري چې کوډګر او پالي ته ورشـــي.له دې تمثيلي ټوټې څخه زمونږ د کليوالو ميرمنو هغه سـاده توب او ناپوهي هم ډېره ښـه ترسترګو کيږي چې څوک ورته څه ووايي هما غه مني.دا دواړه کرکټرونه زمونږ د ټولنې نمونه په ګوته کوي .ياد تمثيل چې په سټيج هم تمثيل شوی ډېر په زړه پورې او ښکلی انځور وړاندې کوي او خلکو ته داښـــايي چې په کور کې د جنګونو نتيجه دا رامنځ ته شـــي چې بيا خواښـــې او اينږو په يو بل بد ګمانه شـي.ښـاغلي رضـا مومندي دې ته ورته نور ډېر تمثيلونه هم ليکلي خو دلته مو دا يوه نمونه راوړله او په همدې بسنه کوو.

**غلام دستګير رڼـګ**

غلام دســتګير رڼـګ د محمد ســرور خان زوی په ختـه ابراهيم خيـل خوګيـانی پـه ۱۳۰۶ لمريز کـال د خوګيـانو پـه کـړه کې زيږدلی دی.لومړنی زده کړې يې د کړې په لومړني ښوونځي کې ترسر ه کړي او په ۱۳۱۸ لمريز د کابل په اســاســي دارلمعليمن کې شــامل شــو.په ۱۳۳۰ لمريز کې د ننګرهار د لېســي لومړی ســرښــوونکی او بيا يې مدير مقررشو.په ۱۳۳۶ لمريز کې د ننګرهار د پوهنې لوی مدير شو. ښاغلی رڼـګ د شاعری سره سره يو ښه ليکوال هم دی.نوموړي ځينې تمثيلي ټوټې او ډرامې هم ليکلي چې عنوانونه يې په لاندې ډول دي. د غم منګی:تمثيلي ټوټه، مجبور غل: تمثيلي ټوټه، خير او شـــر: ډرامه.د حق تبليغ،ټولنه او ښـوونکی دا د نوموړي ډرامې او تمثيلي ټوټې دي،دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نمونې يې زمونږ لاس ته راونه رســـيدلې نو ځکه مو کومه نمونه رانه وړه.( بېنوا ،۱۳۹۳ : ۴۸۳ – ۴۸۵).

**عبدالله بختانی خدمتګار**

عبدالله بختانی خدمتګار د ملا اغا جان زوی د ننګرهار د سـره رود ولسوالۍ د بختان نومي کلي کې په ۱۳۰۵ لمريز کال کې زېږېدلی دی.لومړنۍ زده کړې يې په ننګرهار کې تر سره کړي په پښتو،فارسي او عربي ژبو يې ديني او متادوله زده کړې تر ســره کړي دي.د پوهنې په برخه کې مختلفې دندې تر سره کړي،خو يادونه يې ځکه نه کوم،چې زمونږ له موضـــوع څخه بهرکېږي. نوموړی د يو حســـاس شـــاعر تر څنګ يو تکړه،پوه او هنرمند ليکوال هم وو.پښـــتو ژبې او ادب ته يې ډېر خدمتونه کړي دي،چې يو په هغو کې د تمثيل يا ننداره ليکنې هنر دی،چې نوموړي په دې برخه کې زيات زحمت وګاله او د هغه وخت د ننګرهـار تيـاتر لپـاره يې ډېرې پـه زړه پورې تمثيلي ټوټې او ډرامې وليکلې،چې دلته يې مونږ د نمونې په ډول د ســـيدو ملنګ تمثيلي ټوټه راوړو. (بېنوا ،۱۳۸۸ :۹۵۴ ).
د يادونې وړ ده،چې د سيدو ملنګ ننداره يا تمثيلي ټوټه په څلور ننداررو کې وړاندې شـــوې،چې دلته يې مونږ د يوې صـــحنې يا ننداري بېلګه وړاندې کوو.

**بېلګه**

**د سيدو ملنګ**

**لومړی تمثيلي ټوټه يا ننداره**

لوبغاړي

سيدو: مشر ورور
نوروز: منځنی ورور
ګلاب:کشر ورور
لالۍ: کشره خور

(c) ketabton.com: The Digital Library



غندل:د سيدو اشنا
شاهين: د نوروز انډيوال
ريدی: د ګلاب ملګری
د ګاونډيانو نه يوه ښځه
ځای: د يوې غريبې کورنۍ کور له غريبانه لوازمو او وسايلو سره ( يعنې ستيج يې ورته داسې اماده کړی وو،چې د يو غريب کور انځور يې ورکولو)
**مور:** ( د کور خلک سره ناست دي،سيدو ويده دی.مور يې ورته غږ کوي: سيدو! يا سيدو ګيه! پاځېږه غرمه ده....)
**سيد:** په کټ کې کښيني سترګې مښي،زنګيږي،بېرته پريوځي.
**موريې:** يه سيدوګيه پاځهه،په هلکانو سبا ناری ناوخته کيږي،دوی ځي کار لري.
**سيدو:** سيدو بيا کينې غزونې کوي بيرته پرېوځي.
**نوروز:** مورې زر شه زه بيا غير حاضريږم مزدوري مې سوزي.
**ګلاب:** هو! ادې جانې نن زمونږ سبقونه هم سخت دي،امتيانونم نژدې دي،زر شه مورې څنګه وکړو؟اوس که هغه ځوانيمرګ ويښ شي. د لېرې نه د ساز غږ راځي ساز ډېر په جوش کې دی مخامخ کوڅه کې خلک وار په وار تېرېږي راتېرېږي چا د قولبې غويان مخکې کړي او د قولبې سامان يې په اوږه دی.د يوه پايڅه پورته بله ښکته بيل په اوږه،يو دريشي کړی بل په درشې کې له بايسکل سره، يو نيمه ښځه د سرې ټوکرۍ په سر تېرېږي.بزګران،ماموران،مزدوران،مکتب يان،نارينه،ښځې،غټ،واړه تيريږي.
**مور:** پاڅه کنه دا څنګه خوب دی.
**سيدو:** پاڅې سترګې مښې،غزونې کوي.د ساز غږ ته غوږونه بوڅوي،دروپ بېرته لويږي او څادر په ځان کش کړي.

**د سندر غاړي غږ:**

سحر سبادی خلک ټول کاروله ځينه
لالا زنګيږي خوب يې وړينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مور:** بچيانو وخت ناوخته دی هغه چې پاڅېدو بيا به زار زقوم وخوري.

**د سندر غاړي غږ:**

په شوګيرو چې خوار مانده شي
نو تر غمې پورې ويده شي
زما پرې څه که نر کټی وزېږوينه
لالا زنګيږي خوب يې وړينه

**ګلاب:** هو مورې مونږ ته يې راوړه،لالا مې بيګا سيل ته تللی و،شوګيرې يې کړي دي. خدای (ج) زده چې کله به پاڅيږي.
**نوروز:** هغه به تر غرمې ويده وي بيا به تيارې شکرۍ ته ناست وي،په کور کې به توده ډوډۍ وهي.مونږ به خواري مزدوري کوو،په بازاري ډوډۍ به سات تير کړو،په لوږه په تندې، او دانه شرميږې چې مفته ډوډۍ خوري.
**مور د دلاسايني په لهجه:** خير دی بچو يو يې ګټي سل يې څټي.زه به سبا ناری راوړم.
**نوروز:** اخر به څنګه شي؟ نه د کور سودا ورسره ده،نه مونځ اودس پېژني،نه د کار او غريبۍ نه خبرد دی،بس يو چرس پېژني او بل سيل.
**ګلاب:** لالا مې خوب او خوراک هم پېژني.
**د سندر غاړي غږ:**

نی د ډوډۍ غم و سودا ده
نه يې د دين نه د دنيا ده
چرسو نشه کې ټول کارونه هيروينه
لالا زنګيږي خوب يې وړينه

**نوروز:** اخر به څنګه شي ،نه د کور سودا ورسره ده.نه د مړي ژوندي غم کوي،نه وايي چې مونږ په مخکې ودونه لرو دې زمانه کې يو واده د غريب ســړي کور ورانوي،که مرګ راشـــي نو مړی به په څه خښ کړي،خو که مړشـــي مونږ به دا ســـيالي له کومه کړو لالی او مور يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ناری راوړي ،لالی دسترخان غوړوي.مور يې د شرمبو کاسه بړدي ټول راټوليږي او په خوراک پيل کوي.

**د سندر غاړي غږ:**

دی لږ نه خوري ډېر ه نشته
وايي د ولږې ويره نشته
پاس د موری نه خدای (ج) ډوډئ راغورځوينه
لالا زنګيږي خوب يې وړينه

په دې وخت کې سيدو کېښي غزونې کوي سترګې مښي او د ساز غږ ته غوږونه بوځوي،په کلانکاری پاخې وايي لالی جانې کوزه راکړه.

**مور:** هو نيمه ډوډئ پاتې ده،ستا برخه د شرمبو سره...

**سيدو:** سيدو په مخ اوبه ووهي. مورې ولا ډېر بې خوبه يم که راته يو شير چای راکې چرت به مې ساز شي.

**مور:** به تعجب سره هن شير چای ! که د اشتها سره پراټې ورسره وي څنګه.( لږ په تندئ) دا خو نه وايې چې مور مې غريبه ټوله ورځ غوا پيايي،وروبه مې خپل کار پسې ځي،زم خو يوه ورځ دې خپلې غوا ته يو پنډ واښه راوړم...

**سيد:** ( په کشاله او متاثره لهجه) چې نه يې راکوې مه يې راکوه ( لږ جدي) زه شومړو سره ډوډئ خوړی نه شم.

**نوروز:** ( په استهزا)ډېره نشته او دئ لږه نه خوري.

**سيدو:** (په قهر) ستايې په څه،تې ژر ژر تاووه ( په دې وخت کې سيدو د نوروز د خوراک پېښې کوي) د ځان غم وکه چې ډنګر نه شې.

**نوروز:** زه خو هم د ځان غم کوم او هم ستا،خو ته لږ فکر وکړه يو کار روزګار ؟

**سيدو :** ( د نوروز پېښې کوي) يو کار روزګار ( لږ جدي) څه کار روزګار؟ بيا په جدي لهجه وايي: تاسو باندې خو خدای (ج) راوستې ،زه خو داسې کارونه نه شم کولی.

**نوروز:** ( په هار او استهزا سره) شير چای خو غوښتی شې؟

**سيدو:** ( د نوروز پېښې کوي) شير چای خو غوښتی شې؟ ستا پرې څه ما خو مې د مور نه غوښتي( غږ لوړوي) تا ته زور درکوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوروز:** خود ماته زور راکوي،ته يا سيل کوې يا اوده کيږې ما په ځان شپه ورځ يوه کړې ده مزدوري کوم بيا زما يې په څه؟
**سيدو:** داسې مزدوري خو ولا که کولی شم،د ورځې په لسو دولسو روپو ولاکه دومره کړاو په ځان تيرولی شم.

**نوروز:** په يو دفتر کې خو پيادګي کوه کنه!!.
**سيدو:** هو! سر به يې په يوه ټنګه نه ارزي،زه به ورته ټنډيک ولاړ اوسم،څه ده چې د مياشتې په اخر کې اته شلې روپۍ راکوي.
**نوروز:** اوس دې ګټه څومره ده؟
**سيدو:** که ګټه نه لرم خدای (ج) خو مهربانه دی،که خدای (ج) مهربان ( په دې وخت کې اسمان ته ګوري او وايي ) بيا نو.....
**نوروز:** زه وايم چې ډيره نشته او لږه نه خورې.
**سيدو:** هو کنه خدای (ج) روزي رسان دی.
**نوروز:** خدای (ج) خو هيچاته د موری نه ډوډۍ نه غورځوي.
**شاهين:** ( په کوڅه کې تېرېږي غږ کوي) نوروزه! څه چې ځو چې حاضريږي تيريږي.
**د سندر غاړي غږ:**

ادکې مورې لږ تلوار که
سبا ناری ورته تيار که
که غوسه شو بيا کاسه چپه کوينه
لالا زنګيږي خوب يې وړينه

( ريدي د ګلاب مکتبي انډيوال د کوڅې نه ورته غږ کوي هغه خپل سامان اخلي روانيږي د روانيدو په وخت کې وايي) لالا ته مې زر سبا ناری ورکړې،چې پرون يې هم کاسه واړوله ( د سيدو مخ پريمنځل شوی ناست وي،مور يې نيمه ډوډۍ د شړمبو سره ورته ږدي.)
**سيدو:** ما ماته شير چای وکه!
**مور:** ( په نرمۍ) زويه! هره ورځ شير چای خورې خير دی که نن يې شړمبو سره وخورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سـيدو:** ( په قهر او غوصــه) خير نه شـر ( کنځلې) زه.....لکه......چې ستا ميرى زى يم اوس ځامن دې ووتل په خداى (ج) چې سر در باندې مات کړم.

**مور :** په قهرجنه لهجه وايي : خداى دې ځوانيمرګ که!.

**ســـيدو:** ( په قهر او تندۍ) خداى دې تا ځوانيمرګه کي،خداى (ج) دې پلار په قبر کې ځوانيمرګ کي!

**مور:** په قهرجنه خندا کې ووايي : ليونتوب ورباندې اثر کړى دى.

**سيدو:** ( په قهر او تندۍ سره) د ليونۍ لورې ( د شومړو کاسه په مور واړوي)

**د سندر غاړي غږ:**

د غوا خوسي نور کارونو

دلو او لور او دغوبلونو

هغه شرميږي ځکه ځان ترې پټوينه

لالا زنګيږي خوب يې وړينه

( سيدو بد بد ګوري مور يې د کاسې ټوټه په لاس کې نيولې) د همسايه ښــځـه د غندل مور راځي وارخطا وايي ،بيا څه چل دى هره ورځ ستاسو دا حال دى؟

**د سيدو مور:** خداى (ج) مې دې په سيدو باندې بوره کړي!

**سيدو:** خداى مې دې تانه خلاص کړي.

**د سيدو مور:** د غندل مور ته وايي : کار نشته،روزګار نشته،د غوا ـ خوســـي نـه خبر نـه دى پـه لو ـلور شـــرميږي،بې غېرتـۍ پـه ســـر اخيستى،ښـه کالي او ښـې ډودۍ غواړي او کا ته يې .......ملا ماته وي بلا وهلى دى.خداى(ج) مې دې په سيدو بوره کړي.....

**د غندل مور:** خير دى ښـــيرا مه کوه! ( په کوڅه کې غندل تيريږي، د دروازې نه غږ کوي ) سيدوګيه! او سيدوګيه!

سيدو: غندليه ته ځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غندل:** ســـیل ښـــه لګیدلی دی،د زړه ورخان د زوی واده دی عجب ښـــایســـته هلکان راغلي دي ( هغه د ښـــی لاس ګوته د کیڼ لاس په اورغویي د چرس پخولو په صـورت ښـیې ) همدا پیدا کړي،ځانونه به ورته نیشه کړو.

**سیدو :** یه د نر بچیه په پیر دې رحمت،د چلم راک چې شوی دی غټ کار دې کړې دې،زه خو ړوند او کوڼ وم ( سـیدو ځي غندل سـره لاس په لاس روانیږي)

**د سندر غاړي غږ:**

لالا نارام دی نه سمیږي
زور د هیچا پرې نه رسیږي
نصر افغان به یې په کوتکو سموینه
لالا زنګیږي خوب یې وړینه

په همدې غږ سره دا تمثیلي ټوټه پای ته رسیږي او ټول ننداړچیان چې ننداړې ته ناســـت وي ټول ورته چک چک کوي او صـــحنه پای ته رســـیږي.پورته تمثیلي ټوټه د ټولنې هغه ناخوالې په ګوته کوي،چې زمونږ زیاتره ځوانان په نشـو او تماشـو سـر وي.نه کور پېژني،نه مور او نه پلار.ټوله ورځ په نشـو او تماشـو پسـې ګرځي.دا یو ډېر بد انځور دی،چې زمونږ پـه ټولنـه کې اوس هم لیـدل کیږي او زمونږ زیـاتره ځوانان د همدې ناوړو اعمالو له امله په ټولنه کې د ناســـور دانه جوړه شوې ده.( هاشمي،۱۳۹۴ : ۴۲۴ – ۴۲۹ ).

## د عبدالرؤف قتیل خوګیانې لنډه پېژندنه

نوم یې عبدالروف تخلص یې قتیل او په قوم خوږیانی دی له همدې امله خپل تخلص ســـره خوږیانی یو ځای لیکي.په خټه ابراهیم خیل دی.پلار یې محمد ســـرور خان او نیکه یې لعل محمد خان نومیږي.په (۱۳۰۸ل) کال د خوږیانو په کږه کې زیږیدلی دی.لومړنۍ زده کړې یې د کږې په لومړني ښـــوونځي کې ترســـره کړي دي او په ۱۳۲۴ لمریز کال کې یې له دغه ښوونځي څخه بریلیک اخیستی دی.د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه کال په میزان میاشت کې د پغمان د شرعیه علومو په مدرسه کې شامل او په ۱۳۳۰ لمریز کال کې د نوموړي مدرسې له دولسم ټولګي څخه فارغ او د شرعیاتو په پوهنځي کې چې هغه وخت د حقوقو د پوهنځي یوه څانګه وه شامل شو.په ۱۳۳۳ لمریز کال د مزار شریف د سلطان غیاث الدین په ښوونځي کې معلم وټاکل شوبیا په ۱۳۳۳ لمریز کال د قوس په میاشت کې د بلخ د مومندانو په ښوونځي کې د سرښوونکي په توګه وګمارل شو.همدارنګه بیا په ۱۳۳۴ لمریز کال د جدي په میاشت کې د ننګرهار ولایت د پوهنې د لوی مدیریت د مفتش په حیث مقرر شو.په ۱۳۳۶ لمریز کال د ننګرهار د عالي لیسې د تدریسي مدیر په حیث معرفي شو.په ۱۳۳۸ لمریز د حوت په اوله نیټه د جلال اباد د دوهم لمبر ښوونځي ته د ښوونکي په حیث تبدیل شو.په ۱۳۳۹ ل کال د کابل د ابن سینا ښوونځي کې د پښتو مضمون د ښوونکي په توګه وګمارل شو او په ۱۳۴۰ لمریز کال د پښتو د تدریساتو لوی مدیریت د مامرینو د پښتو ښوونکي په حیث راتبدیل شو.
همدارنګه ښاغلي قتیل په مختلفو مجلو کې هم دنده ترسره کړې،چې دلته یې یوازې نومونه یادوو لکه د زیري اونیزې مجلې،د پوهنې مجلې او داسې نورو مجلو کې دنده ترسره کړې ده.ښاغلی قتیل خوږیاني په ۱۳۹۸ لمریز کال کې له د فاني نړۍ څخه سترګې پټې او وفات شو.ښاغلي قتیل ډېر زیات اثار لیکلي چې دلته یې د نمونې په توګه د هغو اثارو نومونه اخلو چې د تمثیل یا ډرامې په شکل یې لیکلي دي.لکه : میراث تمثیلي ټوټه چې په څلورو پردو کې لیکل شوې ده.د دهقان لور ډرامه په څلور پردو کې لیکل شوې،ولور ډرامه په پنځو پردو کې لیکل شوې،د جامعې مکروب اصلاحي ډرامه په څلور پردو کې لیکل شوې،د جونګړې ملنګ یې بله ډرامه ده چې په څلور پردو کې لیکل شوې،مړه شمعه،سره میاشت،ښوونکی،ګوره چې څه کیږي،تور دیو،چرسي،ظالم کاکا یې د ډرامو او تمثیلي ټوټو نومونه دي. دې ته ورته نور ډېر اثار هم لري،خو دلته ترې مونږ د څو نومونه د نمونې په توګه راوړل.د یادونې وړه ده چې نوموړي په خپله هم د تمثیلي ټوټو د ممثل په توګه په ځینو تمثیلونو کې برخه اخیستې ده.د قتیل ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمثیلي ټوټې او ډرامې پښــتني کرکټرونه لري او هر کرکټر یې په زړه پورې انځور کړی دی،چې دلته به یې د نمونې په توګه یوه تمثیلي ټوټه راوړو.( شیرزاد ،۱۳۹۷: ۸ ).

**بېلګه**

د تمثیلي ټوټې نوم: میراث
لیکوال: عبدالروف قتیل خوږیانی
کارکوونکي:
د شمینې مېړه
شمینه د جمال ښځه
چابک د جمال نوکر
سلیم د جمال وراره

**لومړی پرده**

**د تمثیل ستېج**

**یو متوسط کور له مختصرو لوازمو سره**

کله چې پرده پورته کېږي یا ستېج جوړېږي جمال او ښـځه یې په چرت کې ناسـت دي،جمال خپلې ښـځې ( شـمینې) ته مخ راګرځوي او وایي چې:

**جمال:** شـــمینې مانه خو بیخي لاره ورکه ده او هیڅ نه پوهیږم چې څه وکړم څه مال او هســتي چې د پلار نه په میراث راپاتې شــوې وه هغه خو سلیم راسره نیمه کړه،خدای شته چې دومره زور یې راکړ لکه چې په پڅه چاړه یې رانه د وجود غوښــې بیلې کړې وې،افسـوس چې پنځو کسو ملامتولم او که نه نو د سر په کاسه کې به مې اوبه ورکړې وې...

خیر څه چې وشـــول هغه وشـــول اوس دې خدای خیر کړي ګورو به... په هر حال خو زه نه پوهیږم چې څه وکړم او څنګه دا خپل کـارو بـار برابر کړم.هر څومره چرت چې وهم فیصـــلـه رانـه ورکـه ده.هغه د هوښــیارانو خبره چې: (( که مېړونه غرون دي،نو ښـځې یې اړمونه دي)) نو له تاسـره هم ســلا مشــوره په کار ده،بیا به وایې چې سـړیه کار دې وکړو او زه دې پکې ونه پوښــتلم او...(شـمینه په خبرو کې ورلویږي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شـمينه:** سـرېيه! په سـليم څه پېره اچوې ورېيا خو دې ندی ورکړی چې احســــان پرې کوې.خپل وراره دې و او د خپل پلار حق يې درنه بيل کړ.
**جمال:** ( په تونده لهجه) ته اوس قاضــــي کېږه مه راته دا ســـمه ده چې پردي راته نه دی خپل وراره مې دی،زوی نه راته ګران دی،خو ښځې لږ فکر خو په کار دی،د کومې ورځې نـه يې،چې د خپل پلار برخـه رانه بيله کړې ده په يوه حيلی مې پوښـــتنه نکوي،چې کاکا څهه حال لرې او څنګه يې،اګر چې د خدای فضل دی زه سليم ته احتياج نه يم او نه اړه ورته لرم. څکه اوس هم هر څه لرم،خو زه دې ته حيران يم چې زما او د سليم برخه برابره وه اوس چې زه فکر کوم د هغه مال زما نه زښـــت زيات دی او زما دا دومره مال د هغه د مال په مقابل کې هيڅ شی نه دی.
**شـــمينه:** برخې خو د دواړو يو شــــی وې تا په بې ځايه خرڅونو او جواری برباد که او هغه ترې کار واخيست.
**جمال:** ښځې نور نه پوهيږم داسې يو چل په کار دی چې د سليم مال او شـته ټول زما شــي،زما خو بيخي خوب ورک دی،ټوله شـپه په کټ کې اوړم را اوړم او په همدې سـودا کې ډوب يم چې د سـليم مال به په څه ډول لاس ته راوړم او خپلوم به يې.که واده يې وکړ او د کمال لور يې کورته راوستله نو بيا به....
**شمينه:** نو بيا به څه وشي؟.
**جمال:** بيابه داسې وشي چې پخپله به ورته حيرانه وې او په پرتوګ به يې نه پوهيږې،خو همدا اوس يې غم په کار دی.
(( په دې کې چابک د جمال نوکر راننوځي او سلام کوي))
**چابک:** باداره خان باداره سلام اليکم.
**جمال:** واليکم سپيره چېرته ورک وې.
**چابک:** باداره ورک نه وم کار مې کولو.
**جمال:** ښه نور.
**چابک:** نور ښه نور،ته ودرې باداره چې زه فکر وکړم چې څه وو نور ښه باداره نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جمال:** ورک شه،لوده غالمغال پريده.
**چابک:** باداره غال مغال خو مې نه دی کړی په نور کې فکر کوم،رښتيا باداره ياد شـو،ښـه نور ولا باداره په زړه مې ګرځې خو دا سـتونی مې لږ تنګ دی خولې ته نه راځګيږي.
((شمينه پاڅيږي))
**چابک:** باداره سلامت اوسې بي بي مه پاڅابوه چای نه څښم
**جمال:** ورک شه ما ځانته راغوښتی دی.
**چابک:** مونږ څه خبرو وو زما نوم دې پکې واخيســـتو ما وې که زما غم دې وخوړ،رښتيا باداره هغه د نور  خبره پاتې شوه.
**جمال:** ښه ته اوس خبره کوه.
**چابک:** د نور خبره،نور خو دا چې بـاداره زه چې حويلی تـه راننوتلم سليم جان ډېره کلکه سترې مشي وکړه او دا يې هم راته وويل چې کاکا ته مې سلام وايه.
**جمال:** کښېنه لوده،کاکا ته مې سلام وايه تم د خبرو شوې،سليم کله زما پوښتنه کوي.
**چابک:** نه باداره په سـليم جان خو ته ډېر ګران يې په هر ځای کې دې صفت کوي.
**جمال:** چوپ شـــه ورک شـــه .په سـليم جان خو ډېر ګران يې ،تم په ګرانښــت پوه شــوې بدبخته!زه به هغه وخت په سـليم ګران وم چې يو ځای راسره  اوسيدلای خپل مال او دولت يې ټول راسپارلی وای.
**چابک:** رښــتيا دې ووې باداره.په دې کې خو په سـلو کې سـل ملامت دی.دا خو ډېر بد کوي چې مال  درنه منع کوي،اخر تره يې يې د خپل زوی غوندې دې ساتلی دی.باداره که خوښـه دې وي زه به ورته ووايم چې در يې کړي.
**جمال:** دا لوده وګوره دا،هغه زما نه مني چې د زوی په شـــان مې لوی کړی دی،خو له ګوره او خبرې.
**چابک:** زه څه خبروم ما وې که زما ومني.
**جمال:** لوده!منل منل پريده يوه سمه چاره ورته ګوره
**چابک:** د څه شي چاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جمال:** د دې چاره چې دا مال او دولت يې ټول زما شي.
**چابک:** نور مال هم غواړې اوس خو ټوله ورځ ناکراره يم،که د سـلیم جان مال دې خپل کړ،نو بيا به د شپې هم په کرار نه يم.
**جمال:** ته کم عقل يې،د سـپیره زویه که د سـلیم جان مال زما شـو نور نوکران به دې د لاس لاندې پیدا شي او ته به وربانديې اولداري چلوې.
**چابک:** نور نوکران!باداره په نورو نوکرانو کې دې نه يم بيابه راسـره جنـګ کوي نور کـارونـه بـه درنـه پـاتې وي ايلـه بـه ټولـه ورځ زمونږ جنګونه خلاصوې،نه نه په نورو نوکرانو کې دې نه يم.
**جمال:** لوده د اولدار سره څوک جنګ نه کوي.
**چابک:** ښه سمه ده باداره
(( په دغه وخت کې سـلیم د خپل کاکا خواته راځي او کاکا يې ورته په مکر شروع کوي.))
**جمال:** سلیم جانه پلار دې خدای وبخښه( د مکر ژړا) د هغه هم د مرګ دوه کاله پوره شول نور نو ورته مه ګوره بچیه په ژوند څه باور دی،زه هم اوس سـپین ږیری يم دا مې ارمـان دی چې د واده ډولۍ دې پـه غړیدلو سترګو وګورم.
**سلیم:** ولا کاکا جانه ګورو به.
**جمال:** بچيه! زه پوهيږم چې د کمال لور دې خوښـه ده،زه چې کله کله انګړ نه ووځم د باجې غږ اورم چې د هغې په باره کې سـوي،سـوي زګیروي کوي.
**چابک:** خان باداره د څه شي زګیروي،سلیم جان خو څه ناجوړه نه دی چې زګیروي کوي.
**جمال:** چوپ هلکه ته په دې خبرو نه پوهيږې،نو سـلیم جانه زويه که خوښه دې وي هماغه به درته وکړم چې سات دې ورسره تېر وي.
**سلیم:** کاکا جانه زما خوښه خو ستا په لاس ده ته چې څه وايې زه ترې غاړه نه غړوم.
**جمال:** اوس ستا خوښه ده.
**چابک:** زما هم خوښه ده.
**سلیم:** کاکا جانه ته چې هر څه کوې زما پرې رضا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جمال:** ښه ده چې خوښه دې ده تاسې چای سره وڅښئ زه به ورشم او ورسره فيصله به يې کړم.
**سليم:** زه هم خپل اتاق ته ځم درسونه مې لږ مشکل دي ګورم يې.
**چابک:** بادار جانه د سليم جان بادار کار مې زر خلاص کړه.
(( دوی پاځېږي او پرده همدلته خلاصېږي)). ( شېرزاد ،۱۳۹۷ : ۱۵۶ – ۱۶۰ ).

**عبدالمنان ملګری**

عبدالمنان ملګری د مرحوم مولوی نياز محمد زوی د لغمان ولايت د علي خيلو په کلي کې په ۱۳۱۹ لمريز کال کې زيږيدلی دی.نوموړی د يوې غريبې کورنۍ څخه دی.نوموړی د دونيمو کالو ماشوم و چې پلار يې وفات شو.منان ملګری د اووخويندو ايکي يو ورور دی.نوموړي لومړنۍ زده کړې په خپل کلي او د فقهې علوم يې د خپل پلار له شاګرد مولوي عبدالله څخه تر سره کړې دي.په ۱۳۳۷ لمريز کې د لومړي ځل لپاره کابل ته ولاړ او هلته يې په پښتو ټولنه کې خپله دنده پيل کړه.نوموړي په خپل ژوند کې ډېر تکليفونه او مشکلات ګاللي لکه خپله چې په يو بيت کې وايي:

د غو ټولو ناخواليو
اوس يو غوټه د فولاد کړم
د ختکو په قوت مې
هيڅوک نه شي بدلولی

منان ملګری يو ښه او سترګور ليکوال وو د نورو ليکنو ترڅنګ يې تمثيلي ټوټې او ډرامې هم ليکلي دي.د نوموړي تمثيلي ټوټې او ډرامې په راډيو افغانستان خپرې شوي دي.نوموړی په ۱۳۷۸ لمريز کال په پېښور کې د سرطان د ناروغۍ له امله د ۵۸ کالو په عمر وفات شو.نوموړی د پوهنې ننداري د پښتو تياتر په زړه پورې ممثل او ايکټور هم چې په يوه ډرامه کې چې ( ساده دل) نوميده د هيرو يا د ډرامې مرکزي کردار يې هم تمثيل کړی دی.( بېنوا ،۱۳۹۳ : ۱۰۶۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد عارف ننګیار نا اشنا

محمد عارف ننګیار نا اشـــنا د فضـــل ا لرحیم زوی،په ۱۳۳۸ لمریز کال د میدان وردګو د ولایت نرخ د ولســوالی د کریمداد په کلي کې زیږیدلی دی. په ۱۳۴۶ لمریز کې د نرخ په عالي لیســـه کې چې اوس د شــهید صــابریار لیســې په نوم یادیږي په رســمي زده کړو پیل وکړ.زده کړې یې تر دولسم ټولګي پورې د نرخ په ولسوالی کې ترسره کړي او په ۱۳۵۹ لمریز کال چې له هېواده هجرت ته اړ شو په پېښور کې ورته د لوړو زده کړو لپاره زمینه برابره نه شـــوه،نو ځکه ترې محروم پاتې شـــو.نوموړی په لیکوالۍ کې لوی لاس لري،د طنز برخه یې ډېره غني ده،خو په اوس وخت کې د ازادۍ راډیو ســـره د ګوړې اچار د خپرونو په لړ کې ځانګړي او په زړه پورې طنزونـه لیکي.( ننګیارناشنا ،۱۳۸۵: د پښتۍ ورستی مخ).
نوموړي په ۱۳۶۵کال کې دجلا وطنۍ په ستومانه ژوند کې دآزادۍ جریدې دپښتوبرخې دمسؤل په توګه وګومارل شو بیایی له ۱۳۶۸کال دشهادت د ورځپاڼې دلیکوالو دشورا غړي په حیث اوپه ۱۳۷۱ هجری لمریز کال ددې ورځپاڼې استازي په حیث په کابل کې کار کړی دی دمجاهدینو دحکومت له ړنګیدو روسته خپلې سیمې ته راغی اود خالد بن ولید په عالي لیسه کې دښونکي مقدسه دندده یې په پوره ایمانداری سره سرته ورسوله چې دغه دوره دری نیم کاله وه او بالاخره په ۲۰۰۲م کال کې دازادۍراډیو دګوړې اچار دطنزي خپروني دلیکوال اوپروډیسورپه توګه کارته دوام ورکړی دی ددې کار نو ترڅنګ یي دمختلفو اخبارونو اومجلو سره کار کړي چې له هغو ډلې څخه هیله مجله چې له ډانمارک څخه خپریده ، شفق مجله ، آزادي ورځپانه شهادت ورځپانه ، النورجریده ،هیله مجله ،ګوربت مجله ،،مړوند ،وردک اوګڼې نورې مجلې او ورځپاڼې دنوموړي په لیکنو او طنزونو ښکلې وي دښونځي له نهم ټولګي څخه یی په شعر ویلو اولیکلو پیل کړی ده چې تر اوسه یی دسیاسی اخبارونو سرمقالي ، لنډي کیسې ، ادبي ټوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوطنزونه دبیلابیلو مجلو او ورځپاڼو څخه خپاره شویدي . راډیویی ژرنالیزم په برخه کې یی څه باندي پنځلس کاله کارکړی . دهغو له ډلې دیوه طنز په خپرونې چې سریال ډوله ده اود (شمسو کیسې ) نومیږي ۲۶۰ برخې یی دازادي راډیوڅخه نشر شویدی جوړکړیدی ، پاتي دي نه وي چې شعرونه یې هم دمختلفو مجلو او و رځپاڼو څخه خپاره شوی. ( ننګیارناآشنا ،۱۳۸۲ : د پښتیٔ ورستی مخ).

**بېلګه**

د تمثیل نوم: ولې؟ ځکه چې!
لیکوال: ننګیار نا اشنا
لوبغاړي:
ثناء زرمتیٔ
بری افغانپور

**۱: ثناء زرمتی( پوښــتنه کوونکې):** ولې؟ د کابل ښـــار د غرو ســـرو اوسیدونکو ته سرکونه نه جوړوي؟
**۲: بری افغان پور( ځواب ورکوونکی) :** ځکه چې حکومت غواړي په ژمي کې یخمالکونه وخوري او ساعت تیر کړي. هههههههههههه
**۱: ثناء زرمتی( پوښتنه کوونکې):** ولې د انتخاباتو نتایج نه اعلانوي؟
**۲: بری افغان پور( ځواب ورکوونکی) :** ځکه چې بیا د خلکو د زړه سودا اوځي.هههههههههههه
**۱: ثناء زرمتی ( پوښــــتنه کوونکې):** ولې د واورو وریدو په ورځ چارواکي په واورو کې قدم وهي؟
**۲: بری افغــان پور ( ځواب ورکونکی):** ځکــه چې خلکو بــاور راشي،چې دوی هم د ځمکې موجودات دي.هههههههههههههه
**۱: ثناء زرمتی ( پوښــتنه کوونکې):** ولې دومره ډېر مشـــاوران مقرر شوي دي؟
**۲: بری افغان پور ( ځواب ورکونکی):** ځکه چې د ډېرو خلکو خولې بندې وي.هههههههههههه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱: ثناء زرمتی ( پوښـــتنه کوونکې):** ولې چارواکي په دروغو نه شرمیږي؟
**۲: بری افغان پور ( ځواب ورکونکی):** ځکه چې رښـــتیا کم وایي.
هههههههههههههههه
پورته تمثیلي ټوټه چې د دوو نفرو لخوا پر مخ وړل کېږي،چې یو یې پوښـــتنه او بل یې ځواب ورکوي.د طنز په ژبه چارواکو ته پیغور ورکوي او دې ته یې متوجې کوي،چې خپلو کارونو ته یې پام شي،یاده تمثیلي ټوټه یوه انتقادي ټوټه ده. ( ننګیارناشنا ،۱۳۹۸ )

**زیتون بانو**

زیتون بانو د پیر سـید سـلطان محمود شـاه لور او د پیر سـید عبدالقدوس لمسۍ ده. د کوزې پښتونخوا په پېښور ښار د خلیلو تپې په سپینه وړی کلي کې په کال ۱۹۳۸ م د جون د میاشتې په ۱۸ نېټه نړۍ ته سترګې پرانستلې دي.د نوموړې د بخاري سادات کورنۍ پورې اړه لري.لومړنۍ زده کړې یې دپېښـــور اســـلامیه کالج های ســـکول څخه فارغه شـــوه.د لوړو زده کړو په نیت په زنانه فرانټیر کالج کې شـــامله شـــوه،خو د ځینو مشـــکلاتو له امله یې ونه شـــو کولی چې تر ســـره یې کړي.میرمن بانو د پښـــتو نثر ډېره تکړه شـــاعره او لیکواله ده،چې په دې لړ کې یې ډېرې تمثیلي ټوټې او ډرامې لیکلي دي. د دې لیکوالې تر څنګ نوموړې یوه ښـــه او تکړه ممثله هم وه،د تمثیل په هنر کې یې ډېر په زړه پورې کـار او خـدمتونـه کړي دي.د مرمن بـانو تمثیلي ټوټې،زمونږ په لاس کې نشته،خو د ځینو ډرامو او تمثیلي ټوټو نومونه به یې دلته وړاندې کړو. خړه لفافه،کچکول،آینه،د نخترو ونه او داســـې نورې ډرامې او تمثیلي ټوټې یې پښـــتو ادب تـه وړانـدې کړي دي.( یوسفزی.۲۰۰۸م : ۱۱).

**تاج محمد رحیمي**

تاج محمد رحیمي،د اقبال شـــاه زوی په ۱۳۶۷ لمریز کال د ننګرهار ولایت د بهسـودو ولسـوالۍ چې اوس اتمه نایحه ده او په ښـار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې اړونـديږي د بلنـد غرو په جوی ډاګ کلي کې پـه يوه غريبـه کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې دي.کله،چې په هېواد کې اخ و ډب زيات شـو، نوموړی د ۳ مياشـتو وو،چې د خپلې کورنۍ سـره پاکسـتان ته مهاجر شـو.لومړۍ په متـه کيمپ کې اوسېدل،بيا له هغې وروسـته د منډا يکه غونډ سـيمې ته کوچ شـو او بيا له هغه ځايه د مهاجرت تر وروستۍ ورځو د پېښور په خزانې کيمپ کې پاتې شـول.۱۳۸۱ کال کې خپل هېواد افغانستان ته راستون شو او په خپل پلرني کلي بهسودو کې يې ژوند پيل کړ.لومړنۍ زده کړې يې د پېښـور په يو خصـوصـي ښـوونځي،چې انصـار خصـوصـي ښـوونځی نوميده هلته تر سـره کړې،خو کله چې هېواد ته راستون شو ثانوي زده کړې يې د ننګرهار په عالي ليسـه کې پای ته ورسـولې او په کال ۱۳۸۷ لمريز کال له ننګرهار عالي لېسې څخه په لوړه درجه فارغ شو،په کال ۱۳۸۸لمريز کې د کانکور ازموينه ورکړه ،چې په هماغه کال د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي پښـتو ادبياتو څانګې ته بريالی شـو،چې د هماغه کال د سنبلې په ۱۵ يې خپلو درسونو ته دوام ورکړ او په ۱۳۹۲ د جوزا د مياشـتې په ۱۵ تاريخ په لوړه درجه له ياد پوهنځي څخه فارغ شوی.

همدارنګـه يې خپلـه مـاسـتري د ننګرهـار پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي کې د ازادې سـيالۍ له لارې په ۱۳۹۴ لمريزکې شـامل او په ۱۳۹۶ لمريز کال له ياد پوهنتون څخه فارغ شو او په خپله رشته کې يې د ماسترۍ سند تر لاسه کړ.نوموړي په مختلفو ځايونو کې دندې تر سـره کړي،چې له هغې جملې څخه لومړی دنده يې په مرام راډيو کې هغه وخت تر لاسه کړه،چې کله لا د پوهنتون په لومړي ټولګي کې وو يعنې ۱۳۸۸ لمريز کې د مرام راډيو سره دنده پيل کړه.،بيا ورپسې په هميشـه بهار راډيو او صـفا راډيو ګانو کې هم دنده ترسـره کړې ده.همدارنګه په کابل کې د ودان افغانسـتان موسـسې سـره يې د ۱۳۹۲ لمريز څخه تر ۱۳۹۴ لمريز پورې د ښـوونکو د روزنې په پروګرام کې د ټرينر په توګه دنده ترسره کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ترڅنګ د کابل ژورنالیزم په انستیتوټ کې د حق الزحمه ښوونکي په توګه دنده ترسره کړې او له ۱۳۹۵ لمریز څخه تر ۱۳۹۶ لمریز پورې یې د پیکار عالي دارلمعلین سره یې د ښوونکي په توګه دنده ترسره کړې،خو کله چې له ماستری فارغ شو،نو په ۱۳۹۶ لمریز کال کې یې د پنجشیر لوړو زده کړو موسسه کې د رسمي ښوونکي په توګه مقرر او تر اوسه په یاده موسسه کې ښوونکی دی.نوموړی،چې کله په ښوونځي کې وو،له لیکوالی او په ځانګړي توګه د تمثیلي ټوټو سره یې زیاته مینه وه،نو هماغه وو،چې څو تمثیلي ټوټې یې لیکلي،چې عبارت دي له: ناپوهه ډاکټر،د رواج په لمن کې،راشه د بلې دې خبر کړم،دا خلک به څه وايي او داسې نوري تمثیلي ټوټې او ننداري یې لیکلي دي،چې په دې کې یې ځیني په مرام راډیو کې خپرې شوي ،چې د هغې جملې څخه یوه تمثیلي ټوټه د ( ناپوهه ډاکټر ) په نوم ده ،چې په لومړي ځل په کال ۱۳۸۵ لمریز کې په ننګرهار عالي لیسه کې خپره او بیا په کال ۱۳۹۲ لمریز کال کې هماغه تمثیلي ټوټه د مرام راډیو په څپو کې خپره شوه.همدارنګه ( راشه د بلې دې خبر کړم) تمثلي ټوټه او ننداره هم په مرام راډیو کې خپره شوې ده،چې دلته د نمونې په توګه یوازې د ( ناپوهه ډاکټر ) تر عنوان لاندې تمثیلي ټوټه د بېلګې په توګه راوړو.

**بېلګه**

یادونه: د ( ناپوهه ډاکټر ) تر عنوان لاندې تمثیلي ټوټه په لومړي ځل په کال ۱۳۸۵ لمریز کال په ننګرهار عالي لیسه کې په یوه لویه غونډه کې ننداري ته وړاندې شوه او د دویم ځل لپاره په مرام راډیو سټېشن کې په کال ۱۳۹۲ لمریز کې خپره او ننداری ته په راډیویي بڼه وړاندې شوه،چې دلته یې د بیلګې په توګه راوړو.

د تمثیلي ټوټې نوم: ( ناپوهه ډاکټر) یوه صحنه کې پای ته رسیږي

لیکوال: تاج محمد رحیمي

لوبغاړي: عبدالله : ( ډاکټر پروفیسور ګل کوکو)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمت الله   : د صفا کار په حيث
نياز الله: د پيواز په حيث
تيمور شاه : د مريض په حيث
حکيم الله : د عسکر يا پوليس په حيث

دا،چې په هېواد کې د ډاکټرانو بازار ګرم دی او هرې خوا ته د ډاکټرانو امبار دی. هر څوک ځانله ډاکټر وايي ښه او بد،پوهه او ناپوهه،لايق او نا لايق ډاکټر په کې هيڅ نه معلوميږي،نو همدې اړتيا ته په کتلو دغه تمثيلي ټوټه وليکل شوه او د ټولنې په وړاندې تمثيل شوه.

**تيمور شـــــاه( مريض) :** واى،واى مړ شـــــوم.د خداى لپاره ډاکټر مې بوزى،يا صحت عامه راولى،مړ شوم خيټه مې وچاوده.

**نيازالله ( پيواز) :** لږ صبر وکړه.چغې مه وهه،اوس دې ډاکټر ته وړم.

**تيمور شـاه( مريض) :**اوف،خو زر کوه کنه مړ به شم،لږ زر شـه خيټه مې چوي واى مورې.

**نيازالله ( پيواز) :**ښه سمه ده راجګ شه چې په شادې کړم.

**تيمور شـاه( مريض) :**ته ړوند يې نه ګورې په ما خېټه پړسـيدلې او ته واى راجګ شـــه څنګه در جګ شـــم ته مې پورته کړه کنه.واى خدايه توبه مړ شوم خيټه مې وچاوده.

**نيازالله ( پيواز) :**خه خه مه غوسـه کيږه،خو لږه کمه به دې خوړلې وه کنه،که خيټه پردۍ وه،نو ډوډۍ،خو دې خپله وه کنه.

( مريض چغې وهي او پيواز يې په شـــا کړي او دواړه روان شـــي،کله چې ډاکټر ته رسيږي،هلته د ډاکټر صـفا کار  په ميز صـافي وهي او له ځان سره دا سندره وايي)

**حکمت الله ( د ډاکټر صفا کار):** که دلته نه وي په کنډو ورپسې واوړه
ما ته د لونګو بوټي راوړه
ماته د لونګو بوټي راوړه
راوړه ماته د لونګو بوټي راوړه

===

ادکۍ مورې مانو له ځمه
د بوډيالۍ توتان ږلۍ وهلي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانو ،مانو مانو له ځمهههههه
ياره،چې د دې ډاکټر په شان زه هم ډاکټر واى ځومره به خه وه،اوس به مې له پيسو سره لوبې کولې،بس خلک هم ښه بيسواده دي،چې داسې بېسواده ډاکټر ته راځي.( په دغه وخت کې يو درز شي،پيواز خپل مريض په ميز واچوي او چغې کړي)
**نيازالله ( پيواز) :** هله ډانټر صـــيب زر راشـــه لالا مې مړ کيږي،خيټه يې چوي،زر کوه هله نو د خداى لپاره.
**حکمت الله ( صــفا کار):** ولې څه پرې شــوي  هله دلته يې په دې تخت څملوه ،چې زه يې درته اوس علاج وکړم.
**نيازالله ( پيواز) :** لالا راشـــــه په دې تخت څمله چغې مه وهه اوس به هر څه سم شي ډانټر صيب ډېر تکړه دى.
**(صفا کار) :**ولې چغې وهې هر څه به سم شي اوس به دې داسې علاج وکړم چې کله به يې تا تصور هم نه وي کړى.
( صــفا کار لا لړيا وي له مريضــه تاويږي راتاويږي،چې په دې وخت کې ډاکټر راشــي او په صــفا کار غوســه شــي او ورته وايي ته نو په څه پوهيږې.مريض چغې وهي او فرياد کوي)
**مريض:** واى مړ شوم،خداى لپاره مرسته وکړى خيټه مې وچاوده.
**ډاکټر پروفيســور ګل کوکو** :اى جرلنډو ژر شــه هغه تلســکوف راوړه چې زه يې معاينه کړم.
( صــفاکار تلســکوف راوړي او ډاکټر مريض څملوي کله تلســکوف په ېښو او کله يې ورته په خيټه ږدي او ورته وايى ژوره ساه واخله)
**مريض:** ډانټر صيب ژر کوه مرم لږ څه دوا موا راکړه چې خه شم.
**ډاکټر پروفيســور ګل کوکو** :دا څه دې خوړلي خيټه دې داســې ده لکه د څو مياشـــتو چې وي،خو غم مه کوه اوس چې ما ته راغلى يې ډېر ژر به هر څه سم شي.
**مريض:** ډانټر صــــيب څه خاورې ايرې مې خوړلي فقط، درې غوري شــوله،څلور کورنى ډودى،دوه کاســې شــومړه،دوه کاســې قورمه،يو چارک امونه،درې درجنه کيلې،يوه دانه هندوانه،نيمه کيلو زولوبى،يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غټ بوتل پیســـپي،او لږه ټکه ټوکه خوراک مې کړی،نور مې هیڅ نه دي خوړلي.
**ډاکټر پروفیســـور ګل کوکو** :ولا ښېښــکه دې،تا خو هیڅ نه دي خوړلي دومره خو انسانان هم خوري ته خو لا....
**پیواز:** ډانټر صیب زما لالا ته داسې دوا ورکړه چې ډېر ژر ښه شي.
**ډاکټر پروفیسور ګل کوکو:** سمه ده ته لاړ شه دا نسخه ورته راوړه.اته بوتله د ټوخي شــــربت،پنځه پاکټه د ملاریا ګولی،لس پاکټه د معدې ګولی،پنځه بوتله د اشتها شربت،پنځه ځلویښت دانې پیچکاری،شل دانې سیرومونه ... او داسې نوره دوا.
**پیواز:** ډانټر صـیب دا د څومره وخت دوا ده،دا خو انســان دی څه غوا خو نه ده کنه.
**ډاکټر پروفیســـور ګل کوکو:** که غوا نه وای دومره خوراک به یې نه کولو ،دا د یو کال دوا ده او پوره به یې خوري.
**پیواز:** خه ډانټر صــــیب د خوراک طریقه یې څنګه ده او ســـتا فیس څومره شو؟
**ډاکټر پروفیســـور ګل کوکو:** دا به په داســـې وخت کې خوري،چې نه سهار وي،نه غرمه،نه مازیګر،نه ماښام ،نه ماسختن او نه نیمه شپه.نه به یې په نهار ه خوري،نه په مړه.دا یې د خوراک لاره او طریقه ده.
( پیواز بیرون اوزي او هلته پولیســـو ته زنګ وهي څو راشــــي او دا ډاکټر ونیسـي،دا ځکه چې دوی د یوې پلمې او چل له مخې یې یو ځان مریض کړی وو او بل یې پیواز وو... د ډاکټر صـــفاکار په منډه ډاکټر پسې راځي او ورته وایي ډاکټر صاحب تښته چې پولیس راځي)
**صـفاکار:** هله ډاکټر صـاحب تښـته پولیس راځي دوی مریضـان نه دي غواړي تا غونډې ناپوهه ډاکټران پولیسو ته وسپاري.
**ډاکټر پروفیســـور ګل کوکو:** هله جرلنډو ژر کوه هغه زما ســــاعت او چپن هم له ځان سـره واخله .( څو چې پولیس راځي ډاکټر او صــفاکار دواړه تښـتي پولیس راځي ،مریض او پیواز دریواړه د ډاکټر دوکان بند کړي او مریض خپـل پیغـام وړانـدې کوي او تمثیلي ټوټـه پـای تـه رسیږي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مريض:** ای خلکو د خدای لپاره داسې بېسواده او ناپوهه ډاکټران مه پرېږدی خلکو ته يې رسوا کړی ځکه،چې دوی د پېښور په کارخانو کې ځانله اسناد جوړ کړي او دلته راځي د افغانانو په ژوند لوبې کوي. خدای دې داسې ناپوهه ډاکټران له هېواده ورک کړي.ټول په يوه چغه وايي امين.( رحيمي ،۱۳۹۲).

د پورته تمثيل څخه موخه په ټولنه کې اصلاح راوستل او د داسې خلکو مخه نيول دي،چې په خپل مسلک کې ناپوهه وي او کار نه شي کولی،په جعل او فريب يې ځانله اسناد جوړ کړي وي او بيا په ټولنه حاکميت کوي،نو دا يو اصلاحي او انتقادي تمثيل وو،چې د ټولنې د اصلاح او سمونې لپاره په کې هڅه شوې وه.

**سيد ضياء الرحمن لالاخېل**

کله مو چې وغوښتل د لالا خېل په اړه معلومات ترلاسه کړو،دا چې نوموړی ډېر بوخت دی،نو ويل يې چې لږ وخت پيدا کړم زه به خپله ځان درو پېژنم،چې کله نوموړي لږ وخت پيدا کړ د خپلې پېژندنې په اړه يې راته خپل معلومات راولېږل او خپل ځان داسې راپېژني.زما نوم سيد ضياءالرحمن او تخلص مې لالاخېل دی.د سيد عبدالوارث ملنګ زوی،د سيد عبدالواجد لمسی د سيد حسين کړوسی او په خټه پښتون سادات يم.په ۱۳۶۲ لمريز کال د ننګرهار ولايت د کوټ ولسوالۍ په زربچې کلي کې زېږېدلې يم.نوموړی وايي،چې د نسب لړۍ يې په څلويښتم پښت کې حضرت محمد(ص) ته رسيږي. کله،چې په هېواد کې حالات خراب شول،نو د نوموړي پلار هم د نورو خلکو په شان مهاجرت ته زړه ښه کړ او کوچنی ضياءالرحمن يې له ځان سره ګاونډي هېواد پاکستان ته مهاجر کړ او د پاکستان په شمشتو کېمپ کې يې د مهاجرت ژوند پيل کړ.

سيد ضياء الرحمن لالاخېل چې کله د لومړني ښوونځي د تلو شو ، نو خپل پلار يې سمدستي په يو نږدې ښوونځي کې چې د افغان ماشومانو لپاره د خېمو څخه جوړ شوی ؤ شامل کړ .د لالاخېل له وړکتوبه له سبق سره ډېره زياته مينه وه او ښوونځي ته به په ډېره مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شــوق ســره تللو او د ښــوونځي تر څنګ يې ســهار لمانځه مهال د جومات له ملا امام څخه د بغدادی قاعدې او بيا يې د قران عظيم الشـان زده کړه پيل کړه ، چې الله تعالی ورته د درس په زده کولو کې ښـــه پوهه ورکړې وه ، چې د اول څخه دوهم ټولګي ته اول نمره بريالی شو او دغه اول نمره ګي يې تر نهم ټولګي پورې وســـاتله .د ښـــوونځي د وخت څخه يې وروسته ماسپيښين مهال په يوه ديني مدرسه کې شامل کړ . دا مدرســـه د يوه مذهبي تنظيم (جماعة الدعوة الی القران والســـنه )لخوا جوړه شـــوې وه ، چې ســـيد ضـــياء الرحمن لالاخېل پکې په څه باندې دريو مياشـتو کې ټول قران کريم په ناظره زده کړ . تر څنګ يې ســـل احاديث شـــريفونه هم زده کړي ؤ . نوموړي په ښـــوونځي کې د تراني د ټيم مشـــري هم کوله چې په هغه وخت کې په ځينو جايزو هم نازول شـــوی و.کله چې لالا خېل له مهاجرته بېرته خپل ټاټوبي ته راغی،نو بيا يې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او د کوټ په عالي لېســـه کې يې د نهم ټولګي څخه خپلې زده کړې پېل کړې،خو د وخت حالاتو او مشکلاتو دې ته اړ کړ،چې ښوونځی ترې پاتې شي.نوموړي د قران کريم حفظ د خپل ماما قاري خليل الله هاشـــمي څخه وکړه او تجويد يې له قاري ګل علي څخه تر ســره کړ، خو کله چې حالت لږ ســم شــو،نو نوموړي د دريم ځل لپاره په۱۳۸۴لمريز کال بيا په کوټ عالي لېســـه کې خپلې نيمګړې زده کړې پيل او په ۱۳۸۶ لمريز کې د ياد ښوونځي د دولسم ټولګي څخه فارغ شو،خو تر ننه د لوړو زده کړو څخه محروم پاتې شو.

لالاخېل لومړي ځل لپاره په ۱۳۸۳ لمريز کال ګردي اتمانزو په ابتدايه ښوونځي کې د ښوونکي په توګه دنده پيل کړه،چې يادې دندې يې يو کال دوام وکړ .په ۱۳۸۴ لمريز کال کې د سـپين غر راډيو سـره د ډرامو او طنزيه خپرونو په برخه کې کار پيل کړ،چې هلته هم د يو کال لپاره په دنده پاتې شو او تر ۱۳۸۵ لمريز هملته په سپين غر راډيو کې يې دنده پر مخ وړله.په ۱۳۸۶ لمريز کې د شـــرق راډيو تلويزون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـره خپله دنده پيل کړه چې تر ۱۳۸۷ لمريز کال د جوزا تر شـــلمې پورې په ياده راډيو کې د ډرامې څانګې مسؤل،ليکوال او لاربښود پاتې شـــو.همدارنګه په ۱۳۸۸ لمريز کې د مرام راډيو ســـره هم د طنزيه خپرونو په برخه کې همکار پاتې شـــوی دی.په همدې جريان کې په ۱۳۸۸ لمريز کې د ننګرهار ملي راډيو تلويزونه ســـره هم د ډرامو او تمثيلي ټوټوپـه برخـه کې همکـاري کړې ده.پـه ۲۰۰۹ م کـال کې د جنوری په مياشت کې د پيکټ راډيو اداري سره يې په پېښور کې خپله دنـده پيـل کړه. پـه يـاده اداره کې يې د( پولې پورې ډرامې) د مسؤل،ليکوال او ډايريکټر په توګه خپله دنده ترسره کړې ده. همدارنګه د دويم ځل لپاره يې په ۱۳۹۰ لمريز کې د شـرق راډيو تلويزون سـره يې بيا دنده پيل کړه،چې اوس د انعکاس راډيو تلويزون ســـره د تمثيلي ټوټو او ډرامو په برخه کې د ليکوال او ممثل په توګه خپله دنده پر مخ وړي.

د همدې مســـلک ســـره د مينې له امله يې په دې برخه کې په ډېرو روزنيزو ســـيمنـارونو او ورکشـــاپونو کې هم برخـه اخيســـتې لکـه ژورنـاليزم،ډرامې او راډيو تخنيـک روزنيز ورکشـــاپونـه يې پرمخ وړي.نوموړي د ډرامـه ليکنې پـه برخـه کې پـه لومړي ځل د ســـلام وطندار راډيو د ډرامې برخې ټرينر اســـتاد عبدالله صـــاحبزاده څخه د ډرامې په کېسه کې زده کړې تر سره کړې دي. همدارنګه يې د نړيوال ژورنالست او بي بي سي راډيو پخواني خبريال جان محمد بټ څخه يې هم د ډرامې په برخه کې ډېر څه زده کړي دي.نوموړي د تمثيلي ټوټې او ډرامې په برخه کې ډېر کار کړی او خپله د يو ښـــه ممثل په توګه پاتې شوی دی.

سيد ضياءالرحمن لالاخېل په ډرامه ليکلو کې په زړه پورې قلم لري نوموړي په تراژيدي او کوميډي دواړو برخو کې ډرامې او تمثيلي ټوټې ليکلي،خو کوميډي برخه يې ډېره غوښـــنه ده.کله چې لالا خېل په ســـپين غر راډيو کې کار پيل کړ له هماغه وخته يې په تمثيلي ټوټو او ډرامـه ليکنـه پيـل وکړ.ډېرې پـه زړه پورې تمثيلي ټوټې او ډرامې يې ليکلي او ټولنې ته يې وړاندې کړي دي.د نوموړي ټولې تمثيلي ټوټې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډرامې د طنز په مـالګـه ککړې دي.نوموړي د لومړي ځل لپـاره د مارتول بابا په نوم يوه کوميډي تمثيلي ډرامه وليکله چې د تمثيلي ټوټو په ډول بـه پرمخ وړل کېده.پـه دغـه تمثيلي ټوټو کې نوموړي خپلـه د مارتول بابا په نوم کردارد ترسره کولو،چې د يوه پاخه عمر سړي غږ به يې ويســـتلو.ياده ډرامه يې په ۱۳۸۵ لمريز کال د ســـپين غر محلي راډيو لپـاره وليکلـه،چې پنځـه ديرش تمثيلي ټوټې ترې جوړې شـــوي دي.

د يادونـې وړه ده چې همدا تمثيلي ټوټې يا ډرامـه د دوهم ځل لپاره په ۱۳۸۶ لمريز کې د شـــرق راډيو تلويزون لخوا خپره شـــوه.د نوموړي بله کوميډي ډرامه د چمن ګل داســـتان نوميږي،چې په ۱۳۸۶ لمريز کې وليکله چې دا يې دويمه ډرامه وه.ياده ډرامه په پنځه اويا برخو کې د شرق راډيو لخوا خپره شوه.د چمن ګل داستان ډرامه د سيد ضـــياء الرحمن لالاخېل د ډېر زيات شـــهرت لامل وګرځېده ، د دغې ډرامې موضـوع او هدف د ټولنې ناوړه او غلطو رواواجونو بيانول او د مخنيوي لپاره يې د حل لارې چارې وړاندې کول ؤ ، چې هره صــحنه يې خلکو ته د اصـلاح په موخه په ادبي او طنزيه ډول وړاندې کېدله او خلکو ترې د خندا او خوشــحالۍ تر څنګ پند او نصــيحت هم اخيســت .حلال فصـــل او حلال رزق ډرامه ،چې ۱۷ برخې لري په کال ۱۳۸۷ ل کې وليکل شـــوه او د ننګرهار ملي راډيو تلويزون څخه خپريدله او لالا خېـل يـې مرکزي کرکټر وو.بلـه ډرامــه يې دوزخـي ارواه نوميږي،چې پـه ۱۳۸۸ لمريز کې يې پـه ۱۸ پردو کې وليکلـه او د ننګرهار ملي راډيو او راډيو افغانســتان لخوا خپره شــوه.د پولې پورې ډرامه د لالا خېل بله ډرامه ده چې په ۲۰۰۹ م کال کې د لالاخيل په ليکوالۍ او لارښـــوونه جوړه شـــوې او په ۱۴۰۰ پردو کې وړاندې شـــــوه.يـاده ډرامــه د افـغـانســـــتـان پــه ډېـرو ولايـاتـو لــکــه ننګرهار،لغمان،خوســـت،پکتيا،قندهار ،کابل او په ځينو نورو ولايتونو کې د ايف ايم راډيوګانو لخوا خپرېدله. د يادونې وړه ده چې لالاخېل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال ترڅنګ يو ښــه ممثل هم دی،چې دلته به د ښــاغلي لالا خېل د يوې تمثلي ټوټې نمونه راوړو.

**دتمثيلي ټوټې بېلګه**

لکوال: سيد ضياءالرحمن لالا خيل

د تمثيلي ټوټې نوم: پلاره واده څنګه شو.

کارکوونکي:

چمن ګل،صابر او شريف خان

**چمن ګل:** ځان سره ؛ سترګه رپېږي زما لکه چې پلار مې راځي ــ زړګی خوږېږي زما لکه چې کار نه دی شوی ــ خدايه پاکه ته خو راباندې ورحمېږې.

**صابر:** خداکې ،يا هلکه چمن ګله اشنا دا بيا په کومو سوچونو کې تللی يې.

**چمن ګل:** صــابره محترمه دا خو ته راغلې ما ويل که پلار محترم مې راغی.

**صــابر:** دا نن څنګه د پلار محترم په انتظار ناسـت يې؟تا خو کله د هغه دومره انتظار نه دی کړی.

**چمن ګل:** ده ته ګوره،وايي څنګه د پلار په انتظار ناست يې-ولې هغه ستا مخکې مې ورته ونه ويل،چې د واده نېټه راته کېږده.

**صابر:** نو ستا پلار هغه خبره ومنله څه؟

**چمن ګل:** او کنه بس اوس به دخيره راشــــي او د واده زېری به مې راوړي.

**صــابر:** ياره ګومان خو مې نه شـي چې سـتا خسـر دې داسـې په اسـانه سواده ورکړي.

**چمن ګل:** صــابره محترما دا څه بې مالګې او پيکه خبرې کوې ، مړه دې وخت کې خو لږ مالګيني خبرې کوه ، کنه ډېر نازک وخت دی ــــ ژړه غونی ؛ زما واده لکه د شـــنې تورئ په ونه محترمه زنګېږي او ټالی خوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صابر:** ولې وارخطا یې اوس به د هر څه معلومات وشي،خو چې پلار محترم دې یو ځل راشي.
**چمن ګل:** یاره پیره بابا راورسېږې که پلار مې د واده زېرې راوړی وي،نو پیره بابا زه ستا د زیارت په نوم غټه شکرانه ورکوم.
**صابر:** دا څه وایې چمن ګله ټول کارونه خو هغه الله کوي،چې ټوله دنیا یې پیدا کړې ده،د پیر بابا په دې کې څه کار دی.
**چمن ګل:** چپ شه صابره محترما خوله به دې کړه شي،ادې مې دې خدای وبښي هغې به ویل چې ولیان د برخې خاوندان دي.
**صابر:** د برخې خاوندان دي،خو په دعا کې چې مونږ او تاسې ورته دعا وکړو نه دا چې نعوذباالله مونږ ورنه د خپلو حاجتونو سوالونه وکړو-ګوره اینده کې دا کار ونه کړې-دا ګوره په شرک کې راځي.
**چمن ګل:** هله صابره محترما هاغه وګوره پلار محترم مې راراوان دی،خو داسې خپه غوندې دی الله په کې خیر واچوي.
**شریف خان:** دا څنګه د لارې په سر دواړه یاران ناست یاسی؟
**صابر:** شریف خان کاکا اشنا مې همدا ستا لار څارله چې ته ورته د واده زیری راوړې.
**شریف خان:** صابره وراره ستا د اشنا په قسمت کې وادنه نشته.
**چمن ګل:** پلاره محترمه دا څه بې تبې خبرې دې وکړه واده مې څنګه قسمت کې نشته؟هغه سر خوړلي سخرو خو به مې درته انکار نه وي کړی.
**شریف خان:** انکار یې نه دی کړی خو چې ما ورته څنګه د غمو نوم واخیسته نو بس خسر محترم دې بې هوشه شو او ستا د واده خبره همداسې په ځای پاتې شوه.
**چمن ګل:** نو تا ته چا ویلي و چې ته ورته د غمو نوم اخله،تا ته خو ماکوګی معلوم دی چې د غمو د تینګې نه دی.
**صابر:** چمن ګله اشنا کېدای شي په دې کې دې خیر وي.
**چمن ګل:** صابره محترما خیر په کې کوم دی،ښکاره شر دی خدای مه که زما سخرو مړ شي نو زه به څه کوم... ژړا صحنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغام پکې په دې ډول ؤ ، چې :د چمن ګل داســتان دغه صــحنه کې د هغه ناپوهه کليوالو ناوړه اعمالو ته پکې اشـاره شوې ده چې د اسلامي شـريعت سـره په ټکر کې دي ، لکه :د الله تعالی څخه بغير د بل چا په نوم نذر ورکول او يا ترې مرسته غوښتل دي .( لالاخيل ،۱۳۹۸ ).

**امام جان مجبور**

امـام جـان مجبور د ګلاب شـــاه زوی د جمعـه خـان لمســـی دی.اصلا د ننګرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ د خوشکنبد کلي د نهر شــاهي په ســيمه کې په ۱۳۵۰ لمريز کال کې نړۍ ته ســترګې غړولې دي،چې اوس دا ســـيمــه د جلال ابـاد ښــــار اتمې نـاحيې پورې اړه لري.لومړنـی زده کړې يې د خوشــکنبد ښــوونځي،منځنۍ زده کړې يې په عبدالوکيل لېســـه کې او په پای کې د ننګرهار عالي لېســـې څخه په کال ۱۳۶۸ لمريز کې فارغ شـــوی دی.همدارنګه په ۱۳۹۲ لمريز کال کې د ننګرهار له عالي دارالمعلين څخه يې په پښتو ادبياتو رشته کې د څوارلسم پاسـی سـند تر لاسـه کړ.په ۱۳۹۸ لمريز کال کې په ادراک لوړو زده کړو خصـوصـي موسسـه کې شـامل او په ۱۳۹۹ لمريز کال کې يې د ليسانس سند هم له همدې خصوصي لوړو زده کړو موسسې څخه تر لاســـه کړ. نوموړي له ۱۳۷۲ لمريز راپديخوا په تمثيلي ټوټو کې کار کوي.تر اوســه يې په بې شـمېره ډرامو او تمثيلي ټوټو کې ونډه اخيســـتې ده.د يادونې وړ ده چې مجبور د يو تکړه ممثل ترڅنګ يو تکړه تمثيل ليکوونکی هم دی.( ننګرهار اخبار ،۱۳۹۷: ۳).

**سيد اختر سيدي**

سـيد اختر سـيدي د سـيدګلون زوی په کال ۱۳۶۹ لمريز کې د ننګرهار ولايت د خوږيانو ولســـوالۍ د وزيرو په پيرخيلو کلي کې په يوه ديندراه کورنۍ کې زېږېدلی دی.لومړنۍ او ثانوي زده کړې يې په کوزه پښتونخوا کې د امام حسين په لېسه کې ترسره کړي دي.نوموړی د ښـــوونځي د زده کړو ترڅنګ د ســـينما او هنر ســـره هم نږدې پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــــوی دی.پــه ډېرو تمثیلي ټوټو،ډرامو او فلمونو کې یې کــار کړی دی.لوړې زده کړې یې د کــابل پوهنتون د ژبو او ادبیــاتو پــه پوهنځي ترســــره کړي دي.د پوهنتون په جریان کې یې د افغانســــتان ملي راډیو تلویزون ســــره د هنر او ادبیاتو اداره کې د مثمثل په توګه دنده ترســــره کړې ده.نوموړي په کوزې پښــــتونخوا په ځینو تمثیلي ټوټو،ډرامو او فملونو کې د ممثل په توګه کار کړی دی. همدارنګه د ننګرهار ملي راډیو تلیوزن په کومیډي خپرونو د ممثل په توګه پاتې شوی دی.ښاغلی ســیدي د انعکاس راډیو تلویزون ســـره د کومیډي خپرونو په برخه کې همکاري کوي.( انعکاس راډیو تلویزون ،۱۳۹۹).

**یونس کامه وال**

یونس کــامــه وال د ګلاجــان زوی د ننګرهــار ولایت د کــامې ولسـوالۍ د ارباب بانو په کلي کې په کال ۱۳۶۳لمریز کال کې زیږدلی دی.نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې په کوزه پښــــتونخوا کې د شــــهید روح الله په لیســــه کې تر اتم ټولګي پورې ترســـره کړي دي او بیا یې د ځینو مشــــکلاتو لــه املــه ونــه شــــو کولی خپلې زده کړې پــای تــه ورســــوي.نوموړي پــه ډېرو تمثیلي ټوټو او کومیډي ډرامو کې برخه اخیستې ده،چې زیاتره یې سټیج تمثیلي ټوټې دي.کله چې خپل هېواد ته راســتون شــو په مختلفو رســنیو کې په تمثیلي ټوټو او کومیډي خپرونو کې دنده ترسـره کړې.د ننګرهار ملي راډیو تلیوزن په کومیډي خپرونو کې یې د ممثل په توګه کار کړی دی،همدارنګه په شرق راډیو تلویزون او انعکاس راډیو تلویزون ســره په مختلفو کومیډي خپرونو کې د ممثل په توګه پاتې شــــوی دی.یونس کامه وال په ځینو راډیویي ډرامو لکه د (پولې پورې اصــــلاحي ډرامه )کې یې هم د یو ښــــه ممثل په توګه دنده ترسره کړې ده.( انعکاس راډیو تلویزون ،۱۳۹۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سلمان شهابي

سـلمان شـهابي د مولوي شـهاب الدين زوی د ننګرهار ولايت د ښـېوې ولسـوالۍ په ملک زيو کلي کې په کال ۱۳۶۳ لمريز کې په يوه ديندار ه کورنۍ کې نړۍ ته سـترګې غړولې دي.لومړنۍ او ثانوي زده کړې يې په سـيد جمال الدين افغان ليسـه کې ترسـره کړي دي او بيا په ننګرهار دارلمعلين کې د اجتماعياتو په برخه کې تر څوارلسـم ټولګي خپلې زده کړې سـر ته رسـولي دي.نوموړي په ننګرهار راډيو تلويزن کې په کوميډي خپرونو کې د يو تکړه ممثل په توګه کار کړی دی.همدارنګه په طلوع او لمر تلويزونونو کې يې هم د يو ښـه ممثل په توګه دنده ترسـره کړې ده. په اوس وخت کې په ننګرهار کې د انعکاس راډيو تلويزون سـره په کوميډي خپرونو کې په تمثيلي ټوټو کې دنده پر مخ وړي.( انعکاس راديو تلويزون ،۱۳۹۹).

## د عبدالبصير مينه پال پېژندنه

عبدالبصـير مينه پال،چې ډېر هنري نومونه لري لکه کندهاری ډون،جنجالي،ګلابتون،اغاجان ماما... او داسـې نور د حاجي ميراجان زوی دی په کال ۱۳۷۶ لمريز د سـرطان په شـپږمه نېټه د کندهار په نهمه ناحيه کې زيږېدلی دی.مينه پال په قوم پوپلزی دی.خپلې لومړنۍ زده کړې يې په کندهار کې ترسر ه کړي.ټولې زده کړې يې تر دولسم ټولګي ترسـره کړي او د ځينو ناخوالو له امله ترې لوړې زده کړې په نيمه کې پاتې شـوي دي.نوموړي د خپل ژوند په دې سـفر کې د يو تکړه او زړور ممثل په توګه خپل دنده ترسـر ه کړې ده. په ۲۰۰۹ م کال کې يې په تمثيل ليکلو او اجرا کولو پيل کړی دی.

د ممثلۍ ترڅنګ د تمثيلي ټوټو ليکوال هم دی.د کندهار په ځينو محلي رسنيو کې په دندو کې پاتې شوی دی.په روبنا راډيو کې د طنزيه خپرونو مسـؤل په توګه پاتې شـوی.همدارنګه په وړانګه راډيو کې هم د طنزيه خپرونو چلونکی او مسؤول پاتې شوی.په تبسم راډيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يې هم کار کړی او هلته يې هم د طنز په برخه کې خپله دنده پرمخ وړې ده.په زیور محلي راډیو کې د ايډيټر او تمثیلي ټوټو مسؤل پاتې شوی.د دې ترڅنګ د افغانستان د ملي راډيو تلويزون په چوکاټ کې يې هم دطنز او تمثیلي ټوټو په برخو کې دنده ترسره کړې ده.د دې ترڅنګ نوموړی د ( بي ایم سټيډيو) په نوم خپل شخصي پروډکشن لري چې په کې هغې تجارتي اعلانونه،تمثیلي ټوټې او نورې ګڼې خپرونې جوړوي او ټولنې ته یې وړاندې کوي.په همدې پروډکشن کې تر پنځوسو ډېر ښځينه او نارينه ممثلين په عملي زده کړو بوخت دي.نوموړي په تمثیلي ټوټو طنزيه خپرونو او سټيج ډرامو کې ډېر کار کړی دی.لومړنی تمثیلي ټوټه يې د ( ګران افغان) سره په يوه سالون کې ترسره کړه.ياده تمثیلي ټوټه چې ليکوال يې ګران افغان وو نوموړي په کې تراژيدي رول لوبولی دی.ښاغلي مينه پال په څو محلي فلمونو او پروډکشنونو سره هم کار ترسره کړی دی.د عمر تر دې دمه يې ټول ټال په دوه دېرش فلمونو کې د يو تکړه ممثل په توګه کرکټرونه لوبولي دي. عبدالبصير مينه پال تر اوسه مختلفې ډرامې او تمثیلي ټوټې لیکلي چې عبارت دي له ( ولور،رشوت،سیاسي بعث،درواغجن،مغروره،ميله،بدنامي او رواج) د يادونې وړ ده چې نوموړی خپلې تمثیلي ټوټې په مختلفو ټولنيزو رسنيو لکه يوټوب، فيسبوک، انستګرام، ټويټر، ټيک ټاک کې خپروي.د نوموړي د تمثیلي ټوټې يوه بيلګه په مذهبي تمثیلي ټوټه کې راوړل شوې ده،نو دلته يې د بېلګې له راوړلو ډډه کوو.( انعکاس راډيو تلويزون ،۱۳۹۹).

## په ټولنه د تمثیلي ټوټې اغېزې

هره ټولنه جلا او ځانګړی فرهنګ او کلتور لري،يوه ټولنه له بلې د بيلوالي يوه لاره هم همد ټولنيز رواجونه،کلتورونه او عادتونه دي.که مونږ اسيايي او په ځانګړي ډول افغاني ټولنه وغواړو له اروپايي يا امريکايي ټولنې سره پرتله کړو،نو ډېر زيات توپيرونه به سره ولري.په اروپايي او امريکايي ټولنه کې لوڅ سر ګرځېدل کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



عیب او شـــرم نه دی،خو په افغاني ټولنه کې د اســـلامي او فرهنګي اصـولو سـره په ټکر کې راځي او څوک دا جرت نه شـي کولی،چې په عام بازار او لارو کوڅو کې لوڅ سر وګرځي.

همدارنـګه که اروپایي،امریـکایي،پنجابي،ایراني،اردو یا نورې ډرامې راواخلو او افغاني ډرامو،فلمونو،سـریالونو او یا هم تمثیلي ټوټو سـرـه پرتله کړو،ډېر زیات او د پام وړ توپیرونه لري.د هرې ټولنې کلتور او فرهنګ په هماغه ټولنه بنــــه د تطبیق وړ دی.که مونږ هندي تمثیلي ټوټې وګورو او له خپلو سـره یې پرتله کړو د ځمکې او اسـمان فرق لري.د هرې ټولنې ادبیـات او کړه وړه د همـاغې ټولنې پـه خلکو بنه اثر کولی شي.اوس راځو دې خبرې ته،چې په افغاني ټولنه کې،چې اسلامي اصول،کلتوري او فرهنګي محدودیتونه او ناسم رواجونه حاکم دي په داســـې ټولنه تمثیلي ټوټه څرنګه اغېزې لري؟ ګټه یې ډېره وي که تاوان؟ایا خلک ترې مثبت اړخونه خپلوي که منفي د موضـــوع په دې برخه کې به په همدې مسـایلو بحث وکړو او روښـانه به شـي،چې د تمثیلي ټوټو مثبتې اغېزې ډېرې دي که منفي؟ او څرنګه کولی شو،چې له هر شي یا هر هنر نه مثبت اړخونه خپل کړو او منفي ته یې شا کړو.

**د تمثیلي ټوټې مثبتې اغېزې**

په دنیا کې ډېر کارونه او اعمال داســـې وي،چې مثبتې او منفي اغېزې لري.که مونږ د پښتنو رواجونه او دودونه وګور،ځېنې یې مثبتې او ځینې یې منفي تـاثیر او اغېز ې لري. کـه لنـډې کېســـې او ناولونه ولوسـتل شــي،په هغې کې هم ځینې منفي او مثبت کرکټرونه او مـکـالـمـې شــــتــه،چې دواړه اړخـونــه پــه کې لیـدل کیـږي.کـه فلمونه،ډرامې،ســـریالونه او تمثیلي ټوټې وګورو په هغې کې هم ځینې اړخونـــه مثبـت او ځینې یې منفي دي.پـــه ځـانګړي ډول اوســـنۍ ډرامې،فلمونه او سریالونه په ښکاره مثبتې او منفي اغېزې ښندي.اوس خبره د تمثیلي ټوټې ده،چې تمثیلي ټوټه په ټولنه او په ځانګړي ډول په پښـــتنه ټولنه کومې مثبتې اغېزې لري او څومره مو ترې ګټه اخیســـتې ده.مونږ پـه تیرو بحثونو کې وویـل،چې لومړنۍ تمثیلي ټوټـه اســـتـاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالاکبر خان اکبر وليکله ،هلته هغې تمثيل په خلکو دومره مثبت اغېز وکړ،چې په خلکو کې يې د ازادۍ شعور او فکر پيدا کړ.د خدايي خدمتګار تمثيل،خو په خلکو دومره مثبت اغېز وکړ،چې د خدايي خدمتګار په لسګونو پلويان د وخت د ظالم نظام لخوا زندانونو ته ولېږل شو.دلته په بره پښتونخوا کې،خو يې په خلکو دومره اثر او اغېز وکړ،چې غازي امان الله خان په خپل وخت کې د تمثيلي ټوټو د ننداړو لپاره تياترونه او د ننداري ځايونه جوړ کړل.د امان الله خان په وخت کې د ( فتح ټل) په نوم يوه تمثيلي ټوټه ننداري ته وړاندې شوه،چې خپله غازي امان الله خان يې هم ننداري ته ناست وو.په خلکو يې دومره مثبت اغېز او تاثير وکړ،چې د انګريز په خلاف بغاوتونه رامنځ ته شو.همدارنګه همدا تمثيلي ټوټې دي،چې زمونږ د ټولنې لګام او واګې يې په خپل لاس کې نيولي او له ډېرو ناوړو کارونو يې منع کوي.په اوس وخت کې تر ډېره د ولور اخيستلو رواج،په بدو کې د لوڼو ورکولو رواج،زيارتونو ته د تګ او د زيارتونو تېرې په خپل بدن وهل او هلته زانګو تړل.... او دې ته ورته نور ډېر رواجونه او رسمونه دي،چې تر ډېره له منځه تللي دي.دا که يو خوا د علماو برکت دی،نو بلخوا د همدې تمثيلي ټوټو په مرسته ياد رواجونه په کراره کراره له منځه ځي.همدارنګه د همدې تمثيلي ټوټو،ډرامو او ځينو اصلاحي فلمونو په مرسته،د ټولنې ډېرې ناخوالې خلکو ته ښودل کېږي،چې زياتره خلک ورته متوجې کوي.ځينې تمثيلي ټوټې او خپرونې دي،چې د ځينو سياسيونو د کنټرولو لپاره ښه وسيله ګرځېدلې ده.همدا تمثيلي ټوټې دي،چې د ځينې دولتي چارواکو د منفي کړنو مخه يې تر يوه حده نيولې ده.که د ځينو رسنيو تفريحي خپرونې وکتل شي او په هغې کې تمثيلي ټوټو ته پام وشي،نو زياتره اصلاحات او سمون يې په خلکو کې راوستي دی.همدا انتقادي تمثيلي ټوټې او خپرونې دي،چې خلک يې خپلو منفي کړنو ته متوجې کړي او هر څوک کوښښ کوي،چې تر ډېره له هغه کارونو ځان وساتي،چې په ټولنه کې خلکو ته بد ښکاري.د دې موضوع د پايلې په توګه ويلی شو،چې تمثيلي ټوټې که کوميډي وي که تراژيدي او که دواړه يوځای وي،خو د ټولنې د اصلاح او سمون په

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه کې ښــکاره او په زړه پورې مثبت فکر او مثبت بدلون راوســتی دی.

**د تمثيلي ټوټې مفني اغېزې**

مخکې مو هم يادونه وکړه،چې په ژوند کې ډېرې کړنې داســې وي،چې پــه ټولنــه خپلې مثبتې او منفي اغېزې ښـــندي.تمثيلي ټوټه،ډرامه،فلم او ســـريالونه که له يوې خوا په ټولنه مثبتې اغېزې کوي،خو منفي اړخونه هم لري او ټولنه کې ځينې داســـې ځوانان هم شــته،چې ډېر ژر منفي اړخونه خپلوي.دا،چې دلته خبره د تمثيلي ټوټې او د هغې منفي اغېزې دي،نو دا معلومـه خبره ده،چې زمونږ ټولنـه د علم په لحاظ ډېره وروســـته پاتې ده.دلته که هر څه راځي،نو تنکي ځوانان يې نســبت مثبت اړخ ته منفي ته ژر متوجې کېږي.ښــې بېلګې يې د کوزې پښتونخوا د پښتو فلمونو او ډرامو اغېزې دي.کله،چې هلته کوم نوی فلم يا ډرامې راځي،پر پرده له ښودلو وروسته په ټولنه کې د هماغه ډرامې يا فلم منفي کرکټرونه دومره ډېر شي،چې انسان حيران شي،چې دا ټولنه ولې داسې کوي.که تاسو ته ياد شي،کله چې په کوزه پښتونخوا کې د سواتي په نوم کوم کرکټر فملونو ته راغی،يوه پايڅه يې پورته او بله خکته وه،نو ډېرو ځوانانو په لارو کوڅو کې هماغه شـــان ځان جوړ کړ او ډېر ژر يې ياد تمثيل په خپل ځان عملي کړ.

يا که په افغانستان کې د ځينو انځوريزو رسنيو سريالونو ته پام وکړو،کوم کرکټر يا لباس چې په ياد سريال کې راشي.په سبا يې هلکان او نجونې هماغه شان ځان جوړي او په ټولنه کې ورته ځان ډېرلوړ او با کرکټره ښـــکاري،حال دا،چې دا په ټولنه ډېره بده او ناوړه اغېزه ده.همدارنګـه پـه ځينو تمثيلي ټوټو او ډرامو کې داســـې کرکټرونـه راځي،چې هغه منفي وي،خو د ټولنې د اصـلاح او سـمون په خاطر يې تمثيل کول يا لوبول ډېر اړين وي،خو د ټولنې تنکي ځوانان يې د مثبتو پر ځای منفي ته زر فکر کوي او هغه په خپل ځان عملي کوي.ښه مثال يې،د طلوع تلويزون د ( شـــبکـه ای خنـده) د خپرونې تمثيلي ټوټې دي،چې هغه د اصـــلاح او ســـمون لپاره ځينې مکالمې او کرکټرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي،خو ځوانان په ځای د دې،چې مثبت اړخ يې وسنجوي منفي ته يې مخه کوي او ټولنه د بدبختۍ خوا ته بيايي.

دې ته ورته نورې ډېرې تمثيلي ټوټې او ډرامې شته،چې په ټولنه کله کله منفي اغېز کوي،خو په دې برخه کې عامه پوهاوي ته اړتيا ده. او دا د کورنۍ مسؤوليت هم دی،چې خپلو اولادنو ته وروسته له ډرامې يا تمثيلي ټوټې دا يادونه وکړي،چې په ياده ډرامه يا تمثيلي ټوټه کې پلانکی کرکټر يا مکالمه سمه نه ده او د اصلاح او سمون لپاره يې بيا د خپلو اولادنو ته لارښوونې وشي،چې له بده مرغه زمونږ په ټولنه کې د اولادنو په روزنه کې په هغه اندازه چې لازمه ده کار نه کېږي،نو د دې موضوع د پايلې په توګه ويلی شو،چې هره تمثيلي ټوټه،ډرامه،فلم،سريال او نورې کړنې مثبتې او منفي خواوې لري او کوښښ بايد وشي،چې د مثبت اړخ په اړه يې فکر وکړو او منفي ته يې شا کړو.ځکه دا ټولنه سمون ته اړتيا لري او همدا ننداره او ډرامې دي،چې د ټولنې د سمون لپاره ليکل کېږي او بيا ننداري ته وړاندې کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتم څپرکی

## د تمثیلي ټوټې او ډرامې پرتلیز جاج

د موضـــوع دا برخه مو دې ته ځانګړې کړې،چې ایا تمثیلي ټوټه او ډرامه د پرتلنې وړ ده کنه؟او دا به هم روښـــانه او معلومه شـــي،چې ډرامه څه شـــی دی او تمثیلي ټوټه.په دې موضـــوع کې به دې ته هم اشـــاره وشـــي،چې لومړنی ډرامه چې په لرغوني یونان کې رامنځ ته شوې ایا ډرامه ده که تمثیلي ټوټه دې ټولو پوښـتنو ته به د موضـوع په دې برخه کې په تفصـیل سـره ځوابونه پیدا او پرتلنه به یې سـره وکړو او همدارنـګه په ډرامه کې به هم په تمثیلي ټوټه لنډ هر اړخیز بحث او څېړنه وکړو،دا چې تمثیلي ټوټه په تېرو بحثونو کې واضـحه او پېژندنه یې وړاندې شـــوه،نو دلته یې له پېژندنې تېرېږو او د ډرامې په پېژندنه به پیل وکړو.

**د ډرامې لنډه پېژندنه**

دادب ددې ښـــکلي صـــنف دانوم ((ډرامه)) د یوناني ژبې ټکي څخه اخیستل شوی دی ډراو په یوناني ژبه کې عمل ته وایې ډرامه اوعمل د یو بل سره تړلي خیزونه دي.( رضا ،۱۹۹۵ : ۷).

د ادب تیوري نومې اثر لیکوال پوهاند جمشـید رشـیدي په خپل کتاب کې د ډرامې په اړه ویلي دي چې: ( ډرامه د یوناني لفظ ډراو نه اخیسـتل شـوې ده،چې مانا یې عمل یا په کولو سـره ښـودل دي.او دغه وجه ده ،چې په خالص ادب او ډرامه کې فرق ښکاره کوي).( رشیدي بېنوا ،۱۳۹۱: ۱۴۹)

دنثري ادب ډولونو لیکوال یې په خپل کتاب کې د ډرامې په اړه وایي ( ډرامه یوناني ژبې د ډراو د کلمې له ریښـې څخه د (( عمل او کړنې )) معنا لري ،په انګلیسـي ژبه کې مشـتق شـوې کلمه ده چې لغوي معنایې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنګونو: تمثيل،نمايش او ننداره ښودلې ده.په ادبي اصطلاح ډرامه د نثري هنري داستاني ادبياتو يو ډول دی،چې ادبپوهانو يې د پېژندنې په اړه بيلابيل تعريفونه،توضيحي او تشريحي يادونې او څرګندونې کړي دي.( هاشمي ،۱۳۹۴: ۱۳۶).

د ډرامې په اړه مختلف نظرونه او اندونه وړاندې شوي ،چې دلته به د څو تنو نظرونه راواخلو چې ډرامه څه ته وايي د دوی د نظرونو وړاندې کول هم اړين دي.

۱- يونانيي ليکوال سيسرو د ډرامې په اړه خپل نظر داسې څرګندوي:دژوند نقل ددود دستور ائينه اودرېښتينوالی يعنې دحقيقت عکاسۍ ته ډرامه ويلی شي.( رضا ،۱۹۹۵ : ۸۶).

۲- سارسي يو بل ليکوال دی،چې د ډرامې په هکله وايي : مونږ دډرامې فن تعريف داسې کوو چې داديو څو عناصرو مجموعه ده چې د هغو په مددمونږ ژوند په تهيټرکې پيش کوو. اودتماشګيرو دولس څوګنې ته دحقيقت يوتت غوندې تصوير وړاندې کوو.

۳-کالرج بيا د ډرامې په اړه خپله خبره په دې ډول کوي :ډرامه د حقيقت نقل دی دفطرت پيښې دي .

( هاشمي ،۱۳۹۴ : ۱۳۶).

۴-هيډلن د ډرامې په اړه خپله خبره داسې راغبرګوي: په ډرامه کې په سټيج د واقعاتو ښودنه داسې کېږي،لکه څنګه چې د دوی پيښدل پکار دي،نه داسې لکه څنګه چې پيښ شوي دي.( شهسوار ،۱۳۸۱: ۱۸).

۵_شکسپير بيا وايي چې دنيا ټوله په مثال ديو سټيخ ده ټول سړي او ښځې لوبغاړي دي دوی په دې سټيج ځي راځي او يوکس په خپل وخت ګڼ کارونه کوي . (واجد ،۱۳۹۵:: ۱۳۶).

۶-حمزه شينواری چې د غزل بابا او په نثر کې د ډرامو تکړه او پوه هنر مند او ليکوال دی. د ډرامې په اړه خپل نظر داسې وړاندې کوي: مونږ ديو قام دتمدن تهذيب او ذهني ارتقا اندازه دهغه ملک دډرامونه کولی شو.

۹- اروابښاد عبدالخالق خليق صاحب د ډرامې په اړه وايي چې: ديومقصد داظهار لپاره ډرامه ډيره موثره طريقه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهنراوادبیاتو په تاریخ کې دډرامې په هکله اودډرامې دپیدایښت په هکله ډول ډول نظریات موجوددي .خوداخبره لا تراوسه سپينه او ځرګنده نه ده اونه چاپه بشپړه توګه لوڅه کړې چې دهرچا لپاره دمنلووړوي .چې ډرامه دبشر په تاريخ کې څه وخت اوچيرته رامنځ ته شوې ده ؟ خورازرازنظريات شته چې ځينې نظريات په ځانګړي توګه يوه ټاکلي زمانه په ګوته کوي، ليکن له ځينو نظرياتو نه دانشي جوتيداى چې بيخي او بلکل دي داسې وي. دساري په تو ګه يوه ډله پوهان وايي :

کله چې ځينې فلمونه ليدل کيږي اوبيا په هغو کې ځينې مذهبي نڅاوې ګورو سرى فکرکوي چې لومړى ډرامه به البته په همدې بڼه موجوده وه که څه هم دا فلمونه د ځينې لرعون پيژندونکو لخوا دځينو نښو نښانو له مخې انځورګرى دهنر په برکت جوړ اوممتاز شوي دي.( د دوران طلايي تياتر) کتاب ليکوالان هم ددې نظريې ملاتړ کوي. چې( کنث مک ګوين )( او رويليام ملنتز) نوميږي. بياهم ديوې ريښتينې ډرامې نوم نشو ورکولاى خو ځينې ځانګړي ډراماتيک حرکتونه چې دهغه وخت په انځور ګرى کې شته چې ليدلا ى يې شو.دځينو نښو نښانوله مخې داسې هم ځرګنده شوې ده چې دميلادنه سوونه سوونه کاله د مخه داتن په ښارکې ډرامه وه چې ديو پرمختللې ډرامې او تياتر شته والى ښايي ، نو پوښتنه پيداکيږي چې ولې داسې اسناد په واک کې نشته تر څو په يقيني ډول سره دانظريه دهر چالپاره دمنلو وړشي.ليکن دميلادنه تقريبا پنځه سوه کاله پخواچې دادمنلو هم ده ديونان ډرامه دهنري او ادبي شهرت لوړې پوړ ى ته رسيدلې وه . (( پدې عصر کې دومره ستر ډرامه ليکونکي تيرشوي دي چې يوا ځې د انګلستان شکسپير اود فرانسې راسين له هغو سره سيالي کولاى شي . دلرغوني يونان دتراژيدى ستر ليکوال ( ايسګليس ٤٥٦ـ ٥٢٥) سوفو کليسز ٤٥٦ _ ٤٩٦) او (يورپيديس٤٠٦ _ ٤٨٠) ق .م .دى سوفو کلسيز په ډرامه ليکنه کې شل ځل لومړى درجه ادبي جايزه ګټلې ده.( شهسوار ١٣٨١، :: ٨).

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداراز ديونان په ادبي اوهنري تاريخ کې نورې ډيرې ادبي او هنري څيرې هم شــته چې ددوی هنري او ادبي هڅې چې په خاص او ځانګړي ډول يې ډدرامې هنري ژانرته ســرته رســولې دســتاينې وړدي. لکه: شــيلوس او ارســتو فانس او نور .داشــيلوس په وخت کې ديونان داتن په ښــار کې يو هنري فســيتوال رامنځته ته شــوچې بيا هرليکوال خپل هنري اوډراماتيک اثارکانديد کړل ...ويل کيږي چې اشــيلوس پوره نوي (۹۰) ډرامې ليکلي چې ددغـه ډراموپـه لړکې ديارلسو (۱۳) ډرامو لومړی درجه جايزه ګټلې ده. په هغه وخت کې به کله چې چا جايز ه وګټله نو بيابه يې دســروزرو تاج ورکاوو او يا دســپينوزرو تاج.ځينې بيا ددې نظرپلوي دي او په دې ټينګارکوي چې لومړی ډرامه ((اسـکای لس)) ليکلې ده اوددرامې نوم يې ((سپلي اينټ )) ده . ځينې وايي چې داډرامه ((دسليټ نوميږي چې داتن په ښـارکې ستيج شوې وه )) .

يوه ډله يو هان بياپه دې ټينګارکوي چې په (۵۳۵) پنځه ســوه پنځه ديرش ق م کې د(تس پيس ) په نوم يوتن فنکار په يونان کې يوه ډرامه اجراکړه چې دغه تن دجهان اونړۍ لومړی اکټورګڼل کيږي .

ويـل کيږي چې دهغـه وخـت اکټورانو اولوبغـاړو بـه يو ډول ځانګړي ماسـکونه دهرې صـحنې مطابق په مخ غوړول او هم به يې له هرې صـحنې سره خپل کالي بدلول داځکه چې مختلفو رولونو کې به يې برخه اخيسته .ددې لپاره چې ننداره چيان يې ونه پيژني .

که چيرې ددغو ادبي اوهنري شـخصـيتونو کوم چې دمخه يې يادونه وشــوه ، اثارو اوداثارو نوښــت ، پايښــت او پرمختياته ځوک ځير شـــې چې پـه هغـه وخـت کې هنري جـايزې ورکول کيـدې او فيستوالونه جوړيدل نو دې نتيجې ته رسيږي چې له دوی نه دمخه هم هرو مرو ددرامې هنر موجود وو داځکه چې دامسابقې ددرامې دهنر يو پرمختللې بڼه ښايي.

له بده مرغه هيڅ يوه ليکوال هغه وخت داتکليف په ځان نه دی منلی اوياورته متوجې شــوی نه دی چې دهغه وخت ډرامه، ددرامې هنريت ددرامې څرنګوالی ،ددرامې بڼـه او ځـانګړتيا څـه ډول وه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وليكي . په خواشـينى سـره چې څه نه دي ليکل شـوي ترڅو دهغه وخت په هنري ځانګړنه او ټولنيزو شـرايطو څوک پوه شـوي واى- داځکه چې ډرامه هم دنورو هنري ژانرو په څيريوداسـې هنردى چې يوټاکلى زمان په ګوته کوي.

د ((فيورتې))خبره هغومره چې معـاصــراو ســني ليکوالانو اوهنرمنـدانودژونـد لـه هر اړخيزو ځـانګړتيـاوڅخـه خبريو دلر غونو ليکوالانو دژوند دحالاتوپه باب بشپړ معلومات نه لرو.

ريښـــتيـا کـه چېرې موږ د ځينو ليکوالانو چې نړيوال او جهـاني شــهرت هم لري د زيږيدو يا مړينې نيټه په سـمه توګه تر لاســه کړو- ځينې وخت د ځنيو شـــخصـــيتونو په هکله مشــکله کيږي . مثال: د ســوفوکليز د زيږيدو نيټه که چېرې په ريښــتنې توګه تر لاســه کړو نو ځکه به بريالي نه شـــو چې ځينو څېړنکو دده د زيږيدو په هکله ډول ډول نظريات ليکلي دي .

له پورتنيو څرګندونو او نظرياتو څخه ښـکاره شـوه چې ډرامه دځينو اسـنادو او مدرکونو له مخې د ميلاد نه تقريباً پنځه پيړى د مخه بنــه پر مختللې ډرامه موجوده وه او ددغې نيټې په شـــاو خوا کې ځنې اسناد هم تر لاسه شوي دي او هغه هم د يوې پر مختللې ډرامې په باب که د يونان نه راتير شـو او بيادمصـر ډرامې په هکله نظريات واورو هلته خو بيخي خبره د ميلاد نه پخوا زرګونو کلونو ته رسيږي .

پو هانو او څيړونکو څرګنده کړې ده چې د ډارمې هنر د ميلاد نه څلور زره کاله د مخه په مصـر کې ليدل شـوى دى . دمصـر د اثارو او نښو نښانو نه ښکاره ده چې په هغه ملک کې ناټک دوه زره ياکيداى شي درې زره کاله قبل مسيح موجود وو.))

که چېرې د مصـر لرغونې تاريخ ته سـرى ځير شـي نو بيا به دې نظر ته د شـــک په ســترګه ونه ګوري دا ځکه چې ځينې د نظر خاوندان په ځانګړه توګه ځنې فيلسـوفان په دې عقيده دي چې له نن نه زرګونه کاله پخوا لو مړني نظريات چې فلســـفي رنګ يې لره په (( مهروبابل)) کې را منځ ته شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا فلســـفي نظریات (( د دیمو کرت)) څه چې آن (( چارواګي)) او به خاوره ، باد، اور او د هندو چین د فلســـفي نظریاتو نه بیا هم لس ګونې پیړۍ دمخـه موجود وو .چې اوس هم دا نظریـات د (( مهر وبـابل )) فلسفي په نوم شهرت لري.

دا چې زرګونه کاله پخوا د فلســـفي داســـې پیچلي نظریات موجود وو نو له حقیقته به لرې نه وي چې د ډرامې هنر دی هم هغه وخـت کې موجود وي .!؟ خو بیـا هم همغـه خواشـــینونکی خبره چې لیکلي اســـناد د ډرامې د هنر په هکله په مصـــر کې هم موجود نه دي .

ځنې پوهان او لرغون پیژندونکي له دې نه هم وړاندې ګوري او په دې نظر دي چې ښـــایې د ډرامې تاریخ او نېټه له دې نه هم وړاندې وي او دومره وړاندې چې کله انســـانانو معاشـــرتي او ټولنیز ژوند پیل کړ او په هغه وخت کې د خپل محیط او چاپیریال په بنا سـره ابتدائی او لومړنی لوبې او مســـتي اجرا کولې نو پـه دغـه وخـت کې بـه د دوی لومړنیو لوبو کله کله ډراماتیکه بڼه او شکل غوره کاوه .

خبره په ټولنیز او اجتماعی ژوند رایاده شـوه او ریښـتیا ده چې د ټولنیز ژوند هســـتي ډیره پراخه ده او په دغه پراخ ډګر او میدان کې هر څه شـــته کیږي ، د مادي فرهنګ ته ســـر بیره معنوي فرهنګ هم غوړیږي ، ادب او هنر هم غوړیږي دا ځکـه چې هنر د ټولنیز او اجتماعي شـــعور شـــتمني جوړوي او د ډرامې هنر هم د ټولنیز او اجتماعي ژوند د بېلا بېلو اړخونو هغه هنداره ده چې دژوندانه دحالاتو ژوندي تصویرونه په کې لید لای شو.

انسانانو د خپل ټولنیز پیدایښت له مخې مخکې له هغې چې په خبرو پیل وکړي او خپلې ګډې ســـونزې او مشـــکلات د خبرو له لارې حل کړي. او یا دخپل محیط او چاپیریا ل او زمانې د حالا تو څخه خبر تیا ترلاسه کړي ، یادا چې ځان او جهان وپیژني. نو د تمثیل په بڼه به یې له بدن د غړو دحرکاتو په واســـــطه خپل مطلب بیاناوه ... تر هغې چې غږن غړویې وده او تکـامـل وکړ. اوس هم د کوچنیوالي پـه زمـانـه کې د همدغو حرکاتو په اســـتفاده کوچنیان د بدن د غړو له مخې خپل مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګندوي- نو ځکه څېړونکي په دې ټينګار کوي چې د تمثيل هنر انسان ته تر بل هر هنر څخه ډير نږدې دی.ددې ټولو خبرو سره سره د نظر خاوندان دې نتيجې ته رسيدلي او هغه اسناد او مدارک چې په لاس کې دي دا ښايي چې په واقعي ، بشپړه او سمه بڼه ( شکل ) ډرامه د ميلاد نه پنځه پيړۍ د مخه په يونان کې رامينځ ته شوې ده . او بيا يې پر مختيا او پراختيا موندلې ده. له دې وروسته ډرامه د نړيوال او جهاني شهرت له مخې يونان په خاوره کې منحصره نه پاتي کيږي بلکي په نورو هيوادونو هم اغيزه او تاثير کوي لکه روم ، اسپانيا، انګلستان ، فرانسه اوهمداراز دهندوچين سنتي ډرامې هم له همدې بابته متاثرې شوې دي .( معين ،۱۳۸۲: ۸).

دهندوستان د هنر اوادبياتوپه تاريخ کې تقريباً دوه زره کاله وړاندې دډرامې هنر ډېره ترقي اوپرمختګ کړی وو اودمذهب په خپرولو کې يې لويه ونډه اخيستې وه. له همدې ځايه دډرامې هنر اندونيشيا، چين اوجاپان ته ورسيد. بيا دغه هنر ډيره پراختيا ومونده .ويل کيږي چې دنړۍ دټولونه لومړنی کتاب دډرامې دهنر په هکله سنسکريټ ليکل شوی دی .د(( بهرت مني )) ناتيه شاستو دډرامايي ادب لومړی مستند کتاب ګڼلې شو.په سنسکريټ ډراموکې سندروته هم ځای ورکړ شوی وو اود سنسکريټ بهترينه شا عري په ډراما يې ادب کې موندلای شو- دستسکريټ ښه ډرامه ليکونکي :ااشوکهوس ، بهاس ،سومل ،شودرک ،کاليداس ،دهرش ،دبهوبهوتي اودوشواکهاوت دي .کاليداس هغه څوک دی چې دنړۍ اوجهان دنورو ليکوالواو هنر پوهانو په څيرنړيوال شهرت لري .چې د(( شکنتلا ))ډرامه يې له ډيرې ستاينې وړده . اريايانوهم په ويدي اويستايي عصر کې ځينې داسې لوبې دودونه ،عنغنوي اوفلکلوريک حرکات درلودل چې دتمثيل هنر ښيګڼې په کې له ورايه ترسترګو کيدې دسوما او فوما دراټولولودود داپه ګوته کوي چې دتمثيل هنر په ار يايي ټاټوبي کې له ډيری پخوانه دود وو..... ويدي سره رودونه اوپه اويستاکې دارباب الانواعولمانځنه دبيلګې په توګه يادولې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته بحث کې مو په دې خبرې وکړې،چې ډرامه څه شـــی ده؟څنګه او د کومې اړتيا له مخې رامنځ ته شـــوه او د تاريخ په اوږدو کې يې څنګه پرمختـګ وکړ.پوره بحـث بـه پـه همدې راونغاړو،چې انسان کله پيدا شو،نو ډرامې هم ورسره سر راپورته کړ او تر ننه يې خپل ګامونه لا پســـې ګړندي کړي دي،خو يوه خبره د يادونې وړ ده او هغه دا ،چې کوم کومه لومړنۍ ډرامه يادوو هغه هماغه تمثيلي ټوټه ځکه چې په تمثيل کې يوه خبره ډېره واضـحه ده چې د سټيج پر سـر د خلکو په وړاندې په ژوندۍ بڼه څېرېږي او هره تمثيلي ټوټه په يوه پرده کې پای ته رسـيږي،خو ډرامه کېداشـي ډېرې پردې اوصـحنې ولري يا په بله وينا تمثيلي ټوټه يوه لنډه موضـــوع رانغاړي،خو ډرامه ډېرې موضـــوګانې په خپله لمن کې رانغاړي او ځای ورکوي او يا هم په بله وينـا د تمثيـل لمن لنـډه او تنګـه ده او د ډرامې لمنـه پراخـه ده او ډېر موضوعات په کې ځای کولی شو.

**په ډرامه کې د تمثيلي ټوټې څرکونه**

د موضـــوع دا برخه مو دې ته ځانګړې کړې،چې ايا په يوه ډرامه کې تمثيلي ټوټه راتللی شـــي کنه؟ په دې برخه کې به د ځينو ډرامو نومونه راوړو،چې پــه هغې کې د تمثيلي ټوټو يــا ننـدارو څرکونــه ليـدل کيږي،همدارنګه په دې به هم بحث وشي،چې څه اړتيا ده،چې په ډرامه کې دننه کومه تمثيلي ټوټه راوړل شـــي.د دې موضـوع بحث مو همدې خبرې ته ځانګړی کړی او په تفصيل سره به پرې بحث وکړو.په ډرامه کې کله کله ځينې برخې داسې وي،چې د تمثيلي ټوټې بڼه او شکل لري او دا کار د دې لپاره کيږي،چې په ډرامه کې يو نوی اړخ راپيدا شي او ليدونکي،نور هم ځان ته حيران او راجلب يې کړي،نو ليکوال دا کار کوي،څو په ډرامه کې دننـه يوه بلـه صـــحنـه يا تمثيلي ټوټه وړاندې کړي.ډرامه که څه هم د څو صـحنو څخه جوړيږي او هره صـحنه يې يوه تمثيلي ټوټه ،خو فرق يې دومره دی،چې ډرامه څو کېســـې يا څو موضـوګانې په خپله لمن کې رانغاړي،خو تمثيلي ټوټه يوه برخه پر مخ وړي او په ډېرکم وخت کې پای ته رسـيږي.نو ويلی شـو،چې په ډرامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې هم ځینې برخې تمثیلي ټوټې یا ننداري لیدل کیږي،د بېلګې په ډول به د ( جاله ډوب) ډرامې یوه برخه یا صـــحنه چې تمثیلي ټوټه ده دلته راوړو

**جاله ډوب**

جالا ډوب په نومې ډرامه چې مزاحیه ،طنزیه او له خندا ډکه ده،چې د فرمان عمرزي په هدایتکارۍ او لیکوالۍ وړاندې شوې،پروډیوسر یې مشـــال خان دی،کمره مین یې هارون نعیم خان دی،ایډیټر یې حســـن جمال دی،د مشـــال پروډکشـــن لخوا جوړه شـــوې ډرامه ده..یاده ډرامه،انتقادي،اصلاحي او ټولنیز شکل لري او د ټولنې د اصلاح لپاره وړاندې شـــوې،چې په یاده ډرامه کې یوه برخه د تمثیل په ډول راوړل شـــوې.دوه کســـان،چې یو په افریدۍ لهجه خبرې کوي او بل په عادي لهجه خبرې کوي.د افریدي لهجې ولا خور دې بل کس ته واده شـــوی وي،هغه مړه شوې وي،کوندږ کس غواړي بل واده وکړي،خو اوښـی یې نه پرېږدي،خو چې کله کوندږ ورته د لس جریبه ځمکې او شـــل لکه روپیو وړاندیز وکړي،بیا ورته اجازه ورکوي او تمثیل په لاندې ډول پیلیږي.

**بېلګه**

د تمثیلي ټوټې نوم : ( د خور مېړه بل واده به نه کوې)

لیکوال: فرمان عمرزی

لوبغاړي: مهتاب او الیاس

**( د خور مېړه بل واده به نه کوې)**

**مهتاب:** میدان له روشـــه،نن بې له تو ســـره کســـم،خو زېما خور لوړه خاورو له.ایتو دې لاســـه،ویږیکه ایتو مطلب څه دی.دا کســـه دا راشـــه ماما زوی دې لیونای دی.

**الیاس:** خبرې له غوږ کېده.

**مهتاب:** هن

**الیاس:** واده کول خو څه جرم نه دی کنه،نو چې ښځه مې مړه شوه نو څه وشو چې بل واده وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مهتاب:** ته به روته بل واده کوې او دغه دوه خورتې به مې رو له همداسې لغړ ګرځي.
**الياس:** هغې له به مم وکم کنه.
**مهتاب:**ويړيکه د سړي بچی شه،ګنې څرمن دو وباسم.
**الياس:** خبره خو واوره کنه خير دی ته خو لړ غوړ شه کنه.
**مهتاب:** هن وايه څه يايې.
**الياس:** ته خو مې خبرې له غوړ شه کنه
( په دې وخت کې لومړی کرکټر دويم کرکټر په سوباړي وهي او د هغې خبرې له غوړ نه ږدي.)
**مهتاب:** زما خورټو ته ويدونه کوې کنه که دا سر نه دې بې غم کړم او له تونې نه دې غوخ کړم.
**الياس:** کوم يې ورله ته خو غوړ شه زه درته څه وايمه.تاته خو خه پته ده ،چې زما ډېر جايداد دی.دولت راسره خه ډېر دی ،بس يو شل جريبه پټۍ به تاپسې وليکم څنګه دې خوښه ده.او لس لکه روپۍ به هم درکړم.
**مهتاب:** ته رشتيا يايې ،تا دې خولای ووهي دروغ خو به نه يايې،خه نو زه بې پرې سوچ وکړم.
**الياس:** سوچ پرې مه کوه خبره ومنه ګټه دې ده.ماله اجازت راکړه چې بل واده وکړم ژوند خراب دی.
**مهتاب:** که موله دې دا پټی او پيسې روکړې کنه ،نو خدای دې ستاسو د درې واړو خانه خرابه کړه.،هېو هغوی خروټو ته مې هيڅ ودونه مه کوه،خو موله موال روکړه.
**مهتاب:** پيسې در کوم،خو ماته اجازه راکړه.
( په همدې خبرو سره ياد تمثيل پای ته رسيږي.).( فرمان شهسوار ، ۱۰ ۲۰م).
د دې موضوع د پايلې په توګه ويلی،چې په ځينو ډرامو يا فلمونو کې ځينې صحنې،د تمثيلي ټوټو يا نندارو بنه لري او د اړتيا په صورت کې ليکوال کوښښ کوي،د ليدونکو د تلوسې د زياتوالي لپاره په ډرامه کې يوه داسې نوې صحنه وړاندې کوي،چې اوريدونکي د ډرامې تر پايې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې له ځان سره وساتي او لیدونکي ستړي نه شي،نو ځکه لیکوال دا کار کوي.

## د تمثیلي ټوټې او ډرامې پرتلنه

د ډرامې او تمثیلي ټوټې په پېژندنه مو په تیرو بحثونو کې زیاتې او په بشـپړ ډول بحث وکړ،پېژندنې مو وړاندې کړې او د نورو لیکوالو او پوهانو نظرونه مو هم وړاندې کړل.اوس بحث دا دی،چې ایا تمثیلي ټوټه او ډرامه دواړه یو شــی دی او که کوم توپیر او د پرتلنې وړ بحث لري.ډرامه او تمثیل دوه بیل هنري ژانرونه دي،که څه هم ځینو لیکوالو او پوهانو دواړه یو ډول ژانر بـــودلی،خو په اصــــل کې تمثیلي ټوټه یا ننداریک بیل او ډرامه بیل ژانر دی.کله،چې انســـان پیدا شو،له هماغه وخته انسان یو ډول نه یو ډول تمثیل کوي او د ژوند هره برخه جدا جدا پرمخ وړي.که خوشــحالي پرې راشــي،خفګان په کې نه کوي او که خفګان پرې راشي خوشحالي په کې نه کوي.که په کور کې یې اولاد پیدا شــــي،دا بیل تمثیل او نندارہ ده.په تمثیلي ټوټه کې یوازې یوه موضـوع پر مخ وړل کیږي او لمنه یې نسبت ډرامې،سریال او فلم ته تنګه ده.

اصـــلا د ډرامې صــــحنې له تمثیلي ټوټو څخه جوړیږي،خو په دومره توپیر،چې ډرامه په ځان کې نور موضوعات رانغاړي او تمثیلي ټوټه یا ننداریک یوه موضـوع پر مخ وړي.تمثیلي ټوټه او ډرامه داسې دي،لکه لنډه کیسـه او ناول.په لنډه کیسـه کې کرکټرونه کم،موضـوع یې لنډه او وړه وي،خو ناول اوږد او کرکټرونه یې زیات او د موضـوعاتو لمن یې پراخه وي،نو په لنډه توګه ویلی شــــو،چې د ډرامې او تمثیلي ټوټې ترمنځ اړیکې او توپیرونه دواړه شــــته،د پرتلنې وړ دي،چې په لاندې ډول یې پرتلنه او توپیرونه وړاندې کولی شو.

۱: ډرامه اوږده،خو تمثیلي ټوټه لنډه وي.

۲: په تمثیلي ټوټه کې یوه موضــوع،خو په ډرامه کې څو موضــوعات پر مخ وړل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳: په تمثیلي ټوټه کې کرکټرونه کم وي ان کله کله یو کس هم کولی شي،چې یوه تمثیلي ټوټه پرمخ یوسي،خو ډرامه ډېر کرکټرونه لري او په زیاتو لوبغاړو پرمخ وړل کېږي.
۴: د تمثیلي ټوټې موضوع لنډه او تنګه،خو د ډرامې موضوع اوږده او پراخه وي.
۵: تمثیلي ټوټه په یوه صـــحنه کې پای مومي،خو ډرامه له یوې څخه زیاتې صحنې لري او په ډېرو صحنو کې پای ته رسیږي.
۶: د تمثیلي ټوټې لپاره یو ســتیج یا د تمثیلولو ځای جوړیږي،خو د ډرامې لپاره ډېرو ستیجونو یا د وړاندې کولو ځایونو ته اړتیا وي.
۷: تمثیلي ټوټه اشــاروي یا د لوسـتلو شـکل هم لرلی شــي،خو ډرامه په اشاروي یا د لوستلو په شکل نه شو وړاندې کولی.
۸: پـه تمثیلي ټوټـه کې کلـه کلـه ممثـل خپلـه د خپـل ځـان ډایرکټري کوي،ځکه چې زیاتره وخت تمثیلي ټوټه په ژوندۍ بڼه وړاندې کېږي او ډایرکټر نه شي کولی چې په ژوندۍ صحنه کې یو ممثل ته هدایت یا لارښـــوونه وکړي،خو په ډرامه کې ممثل خپله د ځان ډایرکټري یا لارښوونه نه شي کولی.
۹: تمثیلي ټوټه لږ وخت نیســـي،نو ځکه یې مینه وال زیات وي،خو ډرامه حد اقل له یو ســـاعت څخه زیات وي،نو ځکه ځیني مینه وال ستړي کوي او نه یې خوښوي.
۱۰: په ډرامه کې کیداشـــي ډېرې ســـندرې ورځای کړل شـــي،خو په تمثیلي ټوټه کې ډېرو سندرو ته اړتیا نه لیدل کېږي.
دې ته ورته نورډېر واړه توپیرونه هم کېدای شــــی ولري،خو مونږ د موضوع په همدې توپیرونو بسنه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

## پایله

(پښتو معاصر ادب ته د تمثیلي ټوټې راتګ او پرمختګ) تر سرلیک لاندې علمي،څېړنیز اثر،چې د پوهنملی علمي رتبې د ترفیع لپاره لیکل شوی،چې په پنځو لویوبرخو کې بشپړ شو.د څېړنې د ارزښت،موخې، د څېړنې د مېتود او د موضوع مخینه ( شالید) وروسته په لومړی برخه کې د معاصـــرې دورې ته لنډه،خو هر اړخیزه بحث او څېړ نه پرې شـوې.د معاصـرې دورې درې پړاونه،روښـانتیا پړاو،ویښـتیا پړاو او اوښــــتون پړاو باندې هر اړخیز بحث شــــوی،چې په دې پړاونو کې د ځینو ډرامه لیکوونکو نومونه هم ذکر شوي دي.

د موضـــع دویمه برخه کې په تمثیلي ټوټه بحث شـوی،چې په دې برخه کې د تمثیلي ټوټې تاریخچې باندې مفصـــل بحث شـــوی، په پښتو ادب کې د تمثیلي ټوټې بهیر،د تمثیلي ټوټې پېژندنه،د تمثیلي ټوټې چوکاټ او جوړښـــت او همدارنګه توکي او د لیکنې لار،د تمثیلي ټوټې ژبه او په تمثیلي ټوټه کې د کرکټرونو کارونه باندې هر اړخیز بحث او څېړنه شوې.

د موضـــــوع دریمه برخه مو د تمثیلي ټوټې دولونو ته ځانګړې کړې ده،چې په دې برخه کې د فورم له مخې د تمثیلي ټوټې ډولونه،چې په هغې کې ســــټیج تمثیلي ټوټه،راډیویي تمثیلي ټوټه،تلویزوني تمثیلي ټوټه،د لوستلو تمثیلي ټوټه او د محتوا له مخې د تمثیلي ټوټې ډولونه،چې تراژیدي،کومیډي،میلو او تراژیدي کومیډي تمثیلي ټوټې تر بحث لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيول شـــوي دي.همدارنګه اخلاقي،ولســـي،د اتلولۍ،تاريخي،غوټه لرونکي،مذهبي او اشـــاروي تمثيلي ټوټې هم تر بحث لاندې نيول شوی،چې د ځينو لپاره يې بيلګې هم راوړل شوي دي.

د څېړنې څلورمه برخه چې تر ډېره د موضوع اصلي برخه هم جوړې په معاصـــر ادب کې تمثيلي ټوټې ته ځانګړې شـــوې، چې پښـــتو معاصـــر ادب ته د تمثيلي ټوټې راتګ او پرمختګ باندې پوره بحث او څېړنه شوې ده.همدارنګه پښتو ادب کې لومړني مشهور تمثيل ليکوونکو پېژندنه او د ځينو يې تمثيلي بيلګې هم راوړل شـــوي دي او دا چې په ټولنه تمثيلي ټوټه څه اغېزې لري په دې برخه کې پرې بحث شوی دی.

د څېړنې پنځمه او ورســـتۍ برخه د تمثيلي ټوټې او ډرامې پرتليز جاج ته ځانګړې شـــوې ده.په دغه برخه کې په ډرامه لنډه بحث شـــوی،په ډرامه کې د تمثيلي ټوټې څرکونه او د تمثيلي ټوټې او ډرامې پرتلنه شـوې ده او دغســـې دغه څېړنه په پايله،مناقشـــې،وړانديزونو او سرچينو بشودلو سره ياده څېړنه پای ته رسېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناقشه

په دې برخه کې هڅه کوو،ټولو هغو انګېرنو او احتمالي پښتنو ته لنډ،خو کره ځوابونه ومومو،چې لوستونکو ته پیدا کېږي.ښايي ځينو دوستانو ته پوښتنه پيدا شي،چې په پښتو ادب کې ډېر نور موضوعات شته،چې بايد پرې کار وشي،نو څه اړتيا وه،چې دا موضوع مو غوره کړه. د دې پوښتنې په ځواب کې به زه داسې ووايم چې بېشکه په پښتو ادب کې ډېر نور مسايل هم شته،چې کار پرې وشي،خو پښتو معاصر ادب ته د تمثيلي ټوټې راتګ او پرمختګ دا داسې يوه موضوع ده چې څېړنه او سپړنه يې ډېره اړينه وه او دا ځکه چې هنري نثر ډېر ژر په ټولنه اغېزه کولی شي او په ټولنه کې د سمون يوه ډېره ښه او هر اړخيزه لاره ده،نو ما لازمه وګڼله چې په دې برخه کې کار وکړم او د خلکو او لوستونکو ستونزو ته تر يوه حده حل پيدا کړم.

د دې څېړنې متوقع نتايج دا دي، چې وبه توانېږو د تمثيلي ټوټې په ارزښت او اهميت پوه شو،تمثيلي ټوټو ته چې پښتو ادب کې چا کار کړی،د هغوی سره به اشنا شو.يوه تمثيلي ټوټه څنګه بايد وليکل شي،کرکټرونه او مکالمې يې څنګه ځای پر ځای شي.د تمثيلي ټوټو په تاريخي بهير به هم لوستوکي پوه شي. له بله پلوه به د تمثيلي ټوټې يا ننداراليک په غني کولو کې هم مرسته وکړي او په دې اړه به ډېرنوي مسايل او معلومات وسپړي.دا ښکاره خبره ده،چې په تمثيلي ټوټو يا ننداراليکونو خورې ورې ليکنې او يادونې شوي دي او په راتلونکي کې به پرې هم کېږي.

،خو دا چې زما موضوع د نورو د شوو کارونو سره ځومره توپير لري او څومره ګټور دی غواړم خپل شوی کار د نورو ليکنو سره په لنډه توګه پرتله کړم.د تمثيلي ټوټې په اړه په ځينو کتابونو کې يادونه شوې او هلته يوازې د تمثيلي ټوټې،پېژندنه،د تمثيلي ټوټې شاليد او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينو برخو بحث او سپړنه شوې،د بېلګې په توګه د نثري ادب ډولونو نومې اثر کې،د تمثيلي ټوټې په اړه لنډ معلومات ورکړل شوي دي،خو د تمثيلي ټوټې په ارزښت،ډولونو،بېلګو... او نورو برخو په بشپړ ډول بحث نه دی شوی. عبدالقديم پتيال،چې د تياتر تاريچې تر عنوان يې يوه مقاله ليکلې ده،يوازې د تياتر په تاريخي بهير او په عمومي توګه يې د تمثيلي ټوټو او ډرامو لنډ بحث کړی،په ياده مقاله کې په بشپړ ډول د تمثيلي ټوټې او په ځانګړي ډول په معاصر پښتو ادب کې د تمثيلي ټوټې راتګ او پرمختګ په اړه په کې څه نه ليدل کېږي.

دې ته ورته نورو ډېرو مقالو او ځينو ليکنو کې يوازې د تمثيلي ټوټې په تاريخي بهير لنډ بحث شوی،چې په ډرامه کې يې ور ګډ کړی دی او تمثيلي ټوټه يې له ډرامې څخه نه دی جلا کړی.دلته به د موضوع د لا ښه وضاحت لپاره د ځينو هغو اثارو يا کتابونو نومونه راوړو،چې په ياده موضوع په کې لږ ډېره اشاره شوې ده.د نثري ادب ډولونه نومې اثر ليکوال په خپل اثر کې د تمثيلي ټوټې لپاره د ننداراليک نوم کارولی او په دې برخه کې تر يوه حده په تمثيلي ټوټه يا ننداراليک بحث کړی،خو په بشپړ ډول يې سپړنه او څېړنه نه ده شوې.د نثري ادب ډولونه چې په کال ۱۳۹۴ لمريز کال د علومو اکاډمۍ لخوا چاپ او خپور شوی،د تمثيل د پېژندنې په اړه په کې هم بحث شوی دی.

همدارنګه محمد اعظم اعظم په خپل کتاب ( پښتو ادب کې کردارنګاري) نومې اثر چې په کال ۱۹۹۳ م کې د پېښور پوهنتون ،پښتو اکيډيمی لخوا چاپ او خپور شوی،تمثيلي ټوټه يې په ډرامه ورګډه کړې ،خو ځينې برخې يې داسې دي،چې په تمثيل يا کرکټر يا کردار يې هم بخث لرلی دی.شهسوار سنګروال نيازی،چې په کال ۱۳۷۰ لمريز کې يې د ډرامې تاريخ او فن نومې کتاب د يونيورسټی بک ايجنسی لخوا چاپ او خپور شوی،د ډرامې په اړه په بشپړ ډول بحث او څېړنه کړې،خو تر کومه چې په معاصره دوره کې پښتو ادب ته د تمثيلي ټوټې راتګ او پرمختګ دی،نو په دې اړه کوم ځانګړی بحث نلري.عبدالرحيم ځدراڼ په خپل اثر ادبي ژانرونه نومې اثر،چې په کال ۱۳۸۵ لمريز کې د الازهر خپرندويې ټولنې لخوا چاپ او خپور

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی په ۲۳ مخ کې یوازې د یادې موضوع د پېژندنې په اړه لنډ بحث شوی،خو په بشپړ ډول په کې څه نه لیدل کېږي.

دې ته ورته په نورو ډېرو کتابونو،مجلو او لیکنو کې د تمثیلي ټوټې په اړه لنډ بحثونه شوي ،خو ترکومه چې پښتو معاصر ادب ته د تمثیلي ټوټې راتګ او پرمختګ دی،په دې اړه په کې کوم ځانګړی بحث او څېړنه نشته او نه ترسترګو کېږي،نو ویلی شم،چې زما لیکنه د نورو د لیکنو سره پوره او جوت توپیر لري او په ځانګړې موضوع بحث او څېړنه شوې ده.

دا څېړنه به د محصلینو او د ادب مینه والو ته نوې مسایل او نوي معلومات مخ ته کېږدي ،همدا لاملونه وو چې زه یې دې ته وهڅولم څو وکولی شم د( پښتو معاصر ادب ته د تمثیلي ټوټې راتګ او پرمختګ) تر عنوان لاندې موضوع په بشپړ او هر اړخیز ډول وپلټم او څېړنه پرې وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه

دا،چې تمثیلي ټوټه د ټولنې یوه اړتیا ده او هره ټولنه ورته د سمون او اصلاح له مخې جدي اړتیا لري او همدا تمثیلي ټوټه ده،چې د ټولنې په سمون کې مهم رول لوبوي،همدې اړتیاو ته په کتنې سره زه د دې برخې د وړاندیزونو په توګه په شـــماره وار ډول خپل وړاندیزونه وړاندې کوم.

۱: د تمثیلي ټوټې د ودې لپاره دې ټول هغه مواد چې د مقالو یا اثارو په ډول خواره واره دي،راټول او چاپ شي.

۲: د تیاتر په برخه کې دې،خلکو ته ســمینارونه جوړ او د تمثیلي ټوټې د اهمیت په اړه دې اګاهي ورکړل شي.

۳: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په چوکاټ کې ،چې د پښــتو تیاتر په نوم کومه اداره جوړه شـــوې وه،هغه بېرته په منظمه توګه فعاله او د پښتو تمثیل د ودې لپاره دې ځانګړې برنامې جوړې شي.

۴: د افغانستان راډیو تلویزون کې دې پښتو تمثیلي ټوټو لپاره ځانګړې برنامې جوړې او خلکو دې وړاندې شي.

۵: په افغانستان کې نورې تصویري یا غږېزې رسنۍ ،چې تمثلي ټوټې خپروي باید کوښښ وشـي،چې د پښـتو کلتور او محدودیتونه په پام کې ونیسي ،داسې نه شي چې د کوم قوم یا ژبې توهین په کې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرچينې

۱: اعظم،محمد اعظم.(۱۹۹۳م).پښتو ادب کې کردار نګاري،پېښور پوهنتون،پښتو اکیډیمي. مخ:۴۰۱ .
۲: انځور،زرین.(۱۳۷۱ل).په افغانستان کې د پښتو د هنر او داستاني نثر رامنځ ته کېدل او پرمختګ،مقاله.
۳: انشاء،میا سهېل.( ۱۳۷۹ ل). دشلمې پېړۍ ادبي ستې،سباون مجله،پنځمه ګڼه،مخ ۲۳.
۴: انعکاس راډیو تلویزون.( ۱۳۹۹ل).د میلمنو خپرونه،ننګرهار.
۵: باجوړی،بریالی.( ۱۳۹۷ل). د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ د ویښتیا پړاو،کابل:جهان دانش خپرندیوه ټولنه. :مخ ۱۸.
۶: بختاني خدمتګار،عبدالله.( ۱۳۶۵). په ننګرهار کې د تمثیلي هنر بېلګې( مقاله)،فرهنګ مردم مجله، دویمه ګڼه،د کتلور دولتي کمیټه،د فرهنګ مردم آمریت. مخ: ۷۷ .
۷: بېنوا،عبدالروف.( ۱۳۹۳ل) . اوسني لیکوال بشپړ متن، دویم چاپ ،صداقت خپرندویه ټولنه،کندهار: مخ:۹۹ .
۸: بېنوا،عبدالروف.(۱۳۸۸ل) .اوسني لیکوال ،کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه،صحاف نشراتي مؤسسه.مخ:۹۵۴
۹: پټیال،عبدالقدیم.(۱۳۸۳لمریز) ،(ژباړن)،د تیاتر تاریخچه،(مقاله)،هوډ مجله،دوه میاشتنۍ خپرونه،لسمه ګڼه، کندهار: د لوی احمد شاه بابا علمي او کلتوري مرکز.مخ ۴۷.
۱۰: پښتو – پښتو سیند.(۱۳۸۹لمریز) د افغانستان د علومو اکاډمي،د ژبو او ادبیاتو انسټیټوټ:کابل،اریانا خپرندویه ټولنه. مخ: ۲۹۸.
۱۱: پښتو –پښتو تشریحي قاموس.(۱۳۸۳ ل).لومړی ټوک،دویم چاپ،د افغانستان د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو مرکز.مخ:۷۷۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲: ځدراڼ ،عبدالرحیم.( ۱۳۸۵ ل ).ژباړه،ادبي ژانرونه،الازهر خپرندویه ټولنه،پېښور ،مخ: ۲۳.
۱۳: حسن،عیمد.( ۱۳۸۲ل). فرهنګ عمید فارسی،دویم ټوک،پنځم چاپ،مؤسسه انتشارات امیر کبیر،تهران:مخ۹۰۳.
۱۴: رحیمي،تاج محمد.(۱۳۹٦ ل). په پښتو معاصره دوره کې د ملي ژبو یو بل ته د منظومو ژباړو ژبنۍ څېړنه،د ماسترۍ تیزس. :مخ ۱۳- ١٤
۱۵: رحیمي،تاج محمد.( ۱۳۸۷ل) . یتیم ماشوم،تمثیلي ټوټه،ننګرهار عالي لیسه،ننګرهار.
۱۶: رحیمي،تاج محمد.( ۱۳۹۲ لمریز). ناپوهه ډاکټر،مرام راډیو سټیشن سټوډیو ،جلال اباد ښار.
۱۷: رحیمي،تاج محمد.(۱۳۸۹ل). د رواج په لمن کې تمثیلي ټوټه،ننګرهار ولایت د غونډو تالار.
۱۸: رشیدي،جمشیدخان.(۱۳۹۱ل). ادب تیوري،لومړی چاپ،کابل: انتشارات نامي خپرندویه ټولنه،کابل.مخ: ۱۴۹.
۱۹: رضا،افضل.( ۱۹۵۵م)،ډرامه،دریم چاپ،یونیورسټي بک ایجنسي،پېښور.مخ:۱۲۶ .
۲۰: رفیع،حبیب الله.( ۱۳۶۰لمریز). زرینې ځانګې،د افغانستان د علومو اکاډمی،د ژبو او ادبیاتو مرکز،زیري جریده.مخ:۹۷.
۲۱: رفیع،حبیب الله.( ۱۳۷۱ ل).زرینې ځانګې،د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز،د زیري جریده،مخ:۹۹ .
۲۲: رفیق،محمد رفیق.( ۱۳۹۵ ل). د ادبپوهنې بنسټونه،جلالکوټ: ختیځ خپرندویه ټولنه. مخ: ۹۷.
۲۳: روهي،محمد صدیق.( ۱۳۸٤ ل).د پښتو ادبیاتو تاریخ،پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.: مخ ٤۵.
۲۴: زړن،جانس خان.(۱۳۹۳ ل). نړۍ وال ادبیات د لرغوني یونان ادبي تاریخ ته یوه کتنه،جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه. مخ: ۵۱.
۲۵: زغم،احمد شاه.( ۱۳۹۴ ل). معاصره لیکوالي، د افغانستان ملي تحریک،فرهنګي ځانګه. مخ: ۴۶۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶: زیور، زیورالدین.(۱۳۹٤ ل).پښتو ادبیاتو اوسنۍ دوره، جلال اباد: مومند خپرندوینه ټولنه.:مخ ٦.
۲۷: سپېدې مجله،پرله پسې ۱۴ ګڼه،د افغانستان کلتوري ټولنه،پېښور ،مخ:۱۸۶.
۲۸: سرور،خان اقا.( ۱۳۷۹ ل).تیاتر در افغانستان،پېښور.مخ:۴۲ .
۲۹: سنګروال،شهسوار.( ۱۳۹۰ل). داستاني او هنري ادبيات، دويم چاپ ،لندن:افغان ادبي جرګه.مخ:۲۵۴.
۳۰: شهسوار ،سنګر وال.( ۱۳۸۱ ل). د ډرامې تاریخ او فن ( په نړۍ،لره او بره پښتونخوا کې) ،یونیورسټي بوک ایجنسي پېښور. مخ ۱۸.
۳۱: شاهد،اسمعایل.( ۲۰۰۱م). یوه دعا به وکړو،نشترهال تیاتر،مسافر سي ډي هاوس،پېښور.
۳۲: شیر،شیرمحمد.( ۱۳۹۹ل). کرونا خپله دې کوه خپله کومه،لمر نړۍ وال تلویزون،د خندا شپه خپرونه،جمعې شپه،ماښام ۷ بجې.
۳۳: شیر،شیرمحمد.( ۱۳۹۹ل). کرونا ویروسه مړ شې،لمر نړۍ وال تلویزون،د خندا شپه خپرونه،جمعې شپه،ماښام ۷ بجې.
۳۴: شیرزاد،خان فراز.( ۱۳۹۷ل). د عبدالروف قتیل خوږیاني په منثورو اثارو کې د هنر ونډه،د ماستری تیزس.مخ ۱۲۰.
۳۵: ښادمن،حکمت الله.( ۲۰۱۷م). د تمثیلي ټوټې نوم یو موټی افغانستان، د ملي سوداګر حکمت الله ښادمن لخوا په کندهار کې د افغانستان دڅلور دېرشو ولایاتو د ښاروالانو لپاره جوړه شوې غونډه،کندهار.
۳۶: غضنفر.(۱۳۸۹).داستانونه.دوه میاشتنۍ مجله.دریم کال –دوهمه ګڼه.
۳۷: فرمان، عمرزی.(۲۰۱۰م)،جاله ډوب، مشال پروډکش.
۳۸: لالاخېل،سید ضیاء الرحمن.(۱۳۹۸ل). چمن ګل داستان،شرق راډیو تلویزون،جلال اباد.
۳۹: مجاهد،عالم زیب.( ۲۰۰۰م) .ښه واده دې کړی، نشترهال،مهران سي ډي هاوس.
۴۰: معین، محمد.( ۱۳۸۲ ل). ،فهرنګ معین فارسی،څلورم ټوک،شلم چاپ،موسسه انتشارات امیر کبیر تهران .:مخ ۴۸۱.
۴۱: نا اشنا،ننګیار.(۱۳۹۹ل). د دوبۍ لندن د شرکت خبرتیا،تمثیلي ټوټه،ازادۍ راډیو،د ګوړې اچار خپرونه، کابل فوسټ بکس شمیره ۱۴۷۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۲: ننګرهار اخبار.( ۱۳۹۷ل). شېږ دېرشمه ګڼه، د ننګرهار اطلاعاتو او فرهنګ رياست خپروني ارګان، د ننګرهار ازادۍ مطبعه.مخ ۳.
۴۳: ننګيار نا آشنا ، محمد عارف .(۱۳۸۲ل).هو صيب نه صيب،دانش خپرندويه ټولنه، د پښتی وروستی مخ.
۴۴: ننګيار نا آشنا ، محمد عارف ،( ۱۳۹۸ل).ولې؟ځکه چې!،د ګوړې اچار خپرونه،ازادۍ راډيو، کابل فوسټ بکس شميره ۱۴۷۱.
۴۵: ننګيار نا آشنا ، محمد عارف.( ۱۳۸۵ ل).تخنوم دې،نور نشراتي مرکز،کابل: د پښتۍ وروستۍ مخ.
۴۶: ننګيار نا آشنا ، محمد عارف.( ۱۳۹۸لمريز).د ګوړې اچار خپرونه،ازادۍ راډيو،فوسټ بکس شمېره،کابل: ۱۴۷۱.
۴۷: نيازی ، شهسوار سنګروال .(۱۳۷۰لمريز). ډرامې تاريخ او فن ،پېښور: يونيورسټي بک ايجنسی .مخ: ۶۱ .
۴۸: واجد،عبدالواجد.( ۱۳۹۵ ل).دپښتو ادبياتو (لومړنی،دويمه اودريمه دوره)،کابل: ميهن خپرندويه ټولنه.: ۲۷۸ .
۴۹: هاشمي،سيد محی الدين.( ۱۳۸۹ ل).د نثري ادب ډولونه،وحدت خپرندويه ټولنه،مخ:۱۹۹.
۵۰: هاشمي،سيد محی الدين.( ۱۳۹۳ ل).د ليکوالی فن، پېښور:ميرويس خپرندويه ټولنه.مخ ۹۹.
۵۱: هاشمي،سيد محی الدين.( ۱۳۹۴ ل).د نثري ادب ډولونه،د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست،همايون مطبعه.مخ: ۴۰۸.
۵۲: هاشمي،سيد محی الدين.( ۱۳۹۵ل).د ليکوالۍ هنر،پېښور: ميهن خپرندويه ټولنه. مخ: ۲۲۶.
۵۳: هاشمي،سيدفخرالدين .(۲۰۱۷م) ، ته زما د پلار د لاس نخښه يې،ټکان خپرونه، شمشاد نړۍ وال راډيو تلويزون.
۵۴: هېوادمل، زلمی.( ۱۳۶۵ل). فرهنګ ادبيات پښتو،دوهم ټوک،کابل.مخ ۲۲۵.
۵۵: يوسفزی، اباسين.( ۲۰۰۸م).زيتون بانو شخصيت اور فن،اسلام اباد: پوسټ افس فاونډيشن پريس،خپرندويه ټولنه .مخ:۱۱.
۵۶: @abdurahim44.

(c) ketabton.com: The Digital Library



:۵۷TIKTOK STORE /PASHTO FUNY VIDIOS

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**